# د پاچا امان الله واکمنۍ ته

## یوه نوې کتنه



لیکوال

پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ

916-07-415

# د پاچا امان الله واکمنۍ

# ته

## یوه نوې کتنه

لیکوال

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

SHAH M BOOK CO
Printers, Publishers & Booksellers
شرکت کتاب شاه محمد
TEL: 0093-20-2101569, 0093-70-276909
email: shahm.bookco@usa.net

100000006429

Afs 225.0



د کتاب ځانګړنې:


د کتاب نوم :: **د پاچا امان الله واکمنۍ ته يوه نوې کتنه**

ليکوال :: پوهاند داکتر محمد حسن کاکړ

خپرندوی :: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

چاپ کال :: ۱۳۸۴ل (۲۰۰۵ع)

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

د خپرونو لړ :: (۷۱)

کمپوز :: ذبيح الله شفق

د چاپ زيار :: سيد عبدالله پاچا

چاپ او کمپيوټر ځی

د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه ـ پېښور

Tel:+92-91-2564513/Email:danish2k2000@yahoo.com

# د مطالبو فهرست


| ګڼه | سرليك | مخګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د خپرندويې ټولنې يادښت (د پيلامې په توګه) | الف |
| ۲ | د ليکوال سريزه | ۱ |
| ۳ | پيلامه | ۴ |
| ۴ | لومړنۍ خبرې | ۱۴ |
| ۵ | د امان الله پاچا کېدل | ۱۵ |
| ۶ | د بشپړې خپلواکۍ جګړه | ۱۸ |
| ۷ | له هېوادونو سره اړيکې | ۲۶ |
| ۸ | افغانستان او منځنۍ اسيا | ۲۹ |
| ۹ | لومړنۍ سمونونه | ۳۹ |
| ۱۰ | سياسي ډلګي او دسيسې | ۵۳ |
| ۱۱ | د خوست ياغي توب | ۵۸ |
| ۱۲ | د پاچا امان الله سفرونه | ۶۶ |
| ۱۳ | وروستي سمونونه او له وطن څخه د پاچا امان الله | ۷۹ |
| ۱۴ | پايليك | ۱۲۰ |
| ۱۵ | يادښتونه او لمن ليکونه | ۱۵۴ |

# د پيلامې په توګه

"د پاچا امان الله واکمنۍ ته يوه نوې کتنه" د نوميالي افغان مؤرخ پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ نوی څېړنيز اثر دی، چې د هېواد د تاريخ د معاصر دوران پر يوه ډېر مهم څپرکي "اماني دوره" نوې رڼا اچوي.

قدرمن استاد پوهاند کاکړ د کابل پوهنتون د معاصر تاريخ هغه متخصص استاد و، چې له امير عبدالرحمن خان څخه نيولې د معاصر افغان تاريخ دغه دوره يې د تخصص او تدريس د ځانګې په توګه اوږده کلونه د افغانستان د تاريخ شاګردانو ته تدريس کړې او د تاريخ مينه والو ته يې په بېلابېلو آثارو کې په دقيقه او هر اړخيزه توګه څېړلې او راسپړلې ده.

تېر کال، چې په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا د هېواد د خپلواکۍ د پنځه اتيايمې کاليزې وياړ د "غازي امان الله خان ـ د افغانستان د خپلواکۍ ستوری) په نوم علمي ـ تاريخي سيمينار جوړ شوی و، له خپل دغه نامتو استاد څخه مو په دغه اړه د يوې مقالې هيله کړې

وه، استاد کاکړ د مقالې پرځای یوه داسې رساله راواستوله چې د ټولنې مشرتابه جرګې یې په لیدلو سره پرېکړه وکړه، چې د یو ځانګړي اثر په توګه به یې چاپ او خپره کړو.

د نېکمرغۍ ځای دی، چې دغه تاریخي اثر د افغانستان د تاریخ د یو بل ویاړ په مناسبت چاپوو. سږکال د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه په جرمني او کندهار کې د افغاني هوتکي پاڅون د پیلامې د درې سومې کالیزې جشن لمانځي او خوشاله یو چې د خپل نومیالي استاد دغه اثر په همدغه ویاړ خپروو.

د استاد کاکړ "د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه" داسې یو اثر دی چې د اماني دورې په اړه د یو شمېر نویو منابعو په رڼا کې د هر نوي ټکي هم د تاریخ د څېړونکو، شاګردانو او مینه والو مخې ته ږدي. دغه اثر په افغاني تاریخي څېړنو کې یوه په زړه پورې اضافه ده.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

جرمني ـ د کولن ښار

د ۲۰۰۵ع د مارچ لسمه

د ۱۳۸۳ ل د کب شلمه

# سریزه

دغـه اثـر پـه اصـل کـې مـا ددې لپـاره لیکلـی و، چـې هغـه بـه لـه نـورو لیکنـو یـا مقـالو سره یوځـای خپرېږي. څنګـه چـې مـا د افغانســتان د پـوره خپلـواکي ګټلـو د پنځـه اتیـاومې کلیزې پـه ویـاړ سـیمینار کـې چـې پروسږ کـال پـه کـولن کـې د افغانســتان د کلتــوري ودې ټــولنې لــه خــوا جــوړ شــوی و، ګـډون ونـه کـولی شـو وعـده مـې وکـړه. چـې د پاچـا امـان الله د واکمنــۍ پــه اړه بــه یــوه لیکنــه وراســتوم. ددغــې وعــدې نتیجــه دغــه لیکنــه شــوه. د ټــولنې مشــر مېنــاغلی زریــن انځـور د هغـې لـه لوسـتلو نـه وروسـته لاژمـه وګڼلـه، چـې هغـه د کتـابګوټي پـه بڼـه پـه جـلا ډول خپـره کـړي. نـو دغـه لیکنـه

کـه څـه هـم د پاچـا امـان الله د واکمنـۍ پـه اړه ده، د واکمنـۍ ټولې موضوع ګانې پکې بیان شوي نه دي.

د پاچـا امـان الله د واکمنـۍ پـه اړه پـه انګرېزي او فارسـي کـې لیکـنې ډېـرې دي. دلتــه مـا لــه هغـو لیکنـو نــه کـار اخیسـتی، چـې د هغــه وخـت کسـانو کښلـي لکـه د منشـي علـي احمـد د پاچـا امـان الله لوېدنـه، د فيـض محمـد کاتـب، کابـل تــر محاصـرې لانــدې، د میــر غــلام محمـد غبــار، افغانسـتان در مسـیر تـاریخ. بلـه لیکنـه پـه خپلـه پاچـا امـان الله تـــه منســـوبه ده، پـــه نامـــه د حاکمیـــت قـــانون در افغانسـتان. پـه دغـه اثـر کـې چـې د محتـرم حبیـب الله رفیـع پـه زیـار نـوی خپـور شـوی دی، د ټـولنې او ملـي ژوندانـه د بیلابېلـو اړخونـو پـه اړه پـه خپلـه د پاچـا کارونـه او فکرونـه ځـای شـوي دي. څنګـه چـې د پاچـا امـان الله او د هغـه د واکمني پـه هکلـه نظرونـه او تعبیرونـه ډېـر سـره مخـالف او لـږ سره ورتـه او موافـق دي، دغـه اثـر د هغـو پـه هکلـه پـه خپلـه د پاچـا لــه نظـره رڼـایي اچـوي او پـه هغـو سـربېره د هغـه سیاسـي، پـوهنیز، ټـولنیز او افغـان شخصـیت ښییـي. د موضـوع پـه اړه بـل اثـر چـې دلتـه ترېنـه ډېـر کـار اخیسـتل شـوی دی، د ډاکټـر لودویـك ادمـك دی، چـې د جرمنـي او انګرېـزي ارشـیفي پـاڼو لــه مخـې کښـل شـوی، د شـلمې پېـړۍ تـر نیمـایي پـورې د افغانسـتان باندنـۍ اړیکـې تـر

سرليك لاندې دی.

په پای کې له ښاغلي محمد زرين انځور او د هغه له ملګرو نه مننه کوم، چې زما دغه ليکنه د خپلې ټولنې په لګښت خپروي. له ښاغلي انځور نه ددې مننه هم کوم، چې ددغې ليکنې په کښلو کې چې ډېر وخت يې ونيوه، پوره حوصله وښودله.

**م. ح.ک**

**مارچ ۲۰۰۵**

# پیلامه

افغانستان اوس یو ډېر بېرته پاتې هېواد دی، خو پخوا یو پرمختللی هېواد و. د هغه وخت په افغانستان یا اریانه کې دینونه او مدنیتونه پیدا شوي او هم له نورو ملکونو نه پکې خپاره شوي وو. اریانه د ویدي مدنیت لومړنی ځانګو او د اوستایي مدنیت اصلي ټاټوبی و او بودایي مدنیت پکې په پېړو پېړیو لمانځل کېده. که ویدي مدنیت په ماهیت کې محلي و، اوستایي مدنیت او بودایي مدنیت عالمي بڼه لرله.

د اوستایي مدنیت د نوښتګر، زرتشت اهمیت په اصل

کې په دې کې دی، چې دی په نړۍ کې لومړنی مصلح یا د یو څو هغو مصلحانو څخه دی، چې د لومړي ځل لپاره یې د لوی څښتن د یو توب عقیده وړاندې کړه او نړۍ یې د بدي او نیکۍ د قوتونو د مقابلې دغسې ډګر وګاڼه، چې په هغه کې د نیکۍ رب، اهورا مزدا، د بدي په رب اهریمن باندې غلبه کوي. د هغه په عقیده په اهورا مزدا باندې تکیه کول او د هغه دستورونه پرځای کول د انسان د ژغورنې سبب کېږي.

تر اوستایي دورې نه دمخه په ویدي دوره کې ژغورنه طبیعي قوتونو ته په عبادت کې لټول کېده. په دې ډول هرې طبیعي قوې ته په خدای لرلو باندې عقیده عامه وه او د خدایانو شمېر هم ډېر ګڼل کېده. بودا بیا په دې عقیده و، چې د انسان ژغورنه په خپله د هغه په اصلاح سره کېدونکې ده، دومره چې دی خپلې نفسي غوښتنې او هوسونه مهار کړي، نیکې غوښتنې ولري، نیک کړه وکړي، نیک نظر ولري او په ټولیز ډول نیک ژوند غوره کړي.

نن ورځ دغه ټول فکرونه ساده او هر چاته د پوهېدلو وړ ښکاري، خو په هغه مهال یاني له نن نه درې یا څلور زره کاله دمخه، چې انسان که څه هم طبیعي او ټولنیز چاپېریال یې ډېر زیږ او بې رحم و له خپل ځان او خپلې کورنۍ نه دباندې د نورو انسانانو ژغورنه هم غوښتله. دا بې له شکه د انسان د لوړې فکري سطحې استازي توب کوي.

پخـــوانی افغانســـتان ددغســـې فکرونـــو د توکېـــدو او خپرېـدو لپـاره مسـاعد و. یـو دا چـې د آمـو شـاوخوا هـوارې د غنمـو پـه مینـدلو سـره د کـرنې وړ شـوې او کلیـوالي او ښـاري ژونـد پکـې رواج مونـدلی و. بلـه دا چـې پخـوانی افغانسـتان او شـاوخوا ملکونـه یـې د سـوداګرو، ګرځنـدویانو، سـوبمنو او د کډوالـــۍ لویـــه لار ګرزېـــدلې وه. د یـــوې امریکـــایي لرغـــون پېژنـدونکي پـه وینـا "د سـوداګرۍ ځینـې لارې ان د نـوې ډبـرې پـه دوره کـې (Newlithic Period) ایسـتلې شـوې وې، خـو دغـه سـیمه لـه مـیلاد نـه ۲۰۰ کالـه دمخـه پـه شـاوخوا کـې د روم د پراختیـا پـه دوره کـې چـې شـتمنو اروپایـانو او پارسـیانو د چینـایي صـانعانو ښکلـو وربښمینـو تـوکرو لپـاره قـوي اشـتها پیـدا کـړې وه، د بـین المللـي سـوداګرۍ لپـاره لویـه لار ګرزېـدلې وه. د خـرو، اسـونو او اوښـانو لـه حسـاب نـه وتلـو کـاروانونو پـه دې پیـل وکـړ، چـې د اروپـا ـ اسـیا پـه یـو لـړ لارو بانـدې تـګ وکـړي. دغـه لارې بیـا پـه وربښمینـیې لارې (Silk Road) بانـدې یـادې شـوې، چـې پـه پـای کـې یـې چـین، هنـد، پارس او اروپا سره ونښلول."[1]

ددغـې سـوداګرۍ د قـوت پـه حـال کـې پـه اریانـه کـې چـې پـه دغـه مهـال کـې د هنـد او کرمـان تـرمنځ پراتـه هېـواد تـه ویـل کېـده، د یونـــان ـ بـــاختري دولـــت پـــه قـــوت کـــې و. دغـــه افغانســـتان هغـه وخـت دومـره پرمختللـی و، چـې هغـه د زړو ښـارونو هېـواد نومـول شـوی و او نقـره یـې سـکې پکـې پرېمانـه

په چلند کې وې. ورېښمينه لار د پېړيو پېړيو په بهير کې د خلکو د ويار او شتمنۍ سرچينه وه، خو په پای کې قومي نښتو دغه لار نامصونه کړه او د قومي لويانو له خوا د غتو باجونو اخيستل د سوداګرو ملا ماتوله ترڅو په پنځلسمې پېړۍ کې چې د اروپا او هند ترمنځ سمندري لار پرانيستله شوه، هغه ورو ورو پرېښودل شوه.(۲)

له هغه وروسته پرمختګ او قوت وار په وار د هغو اروپايي هېوادونو کېده، چې له سمندري لارو نه يې د سوداګرۍ او نورو مقصدونو لپاره کار اخيسته. دا هغه هېوادونه وو، چې د رنسانس يا د بيا ژوندي کولو غورځنګ يې چې اول په ايتاليې کې په څوارلسمې پېړۍ کې پيل شوی و، منلی و. رنسانس چې په سر کې د هنر او ادب له لارې د بيا ژوندي کولو حرکت ته ويل کېده، وروسته د نوې سوداګرې طبقې په هسکېدو سره په اقتصادي چارو کې په فردي ازادۍ واوښت او هغه په خپل وار فردپالنه (Individualism) او انسان پالنه (Humanism) واقعي کړه، په دې معنی چې دا په خپله انسان دی چې د هرڅه مېنځ دی، سرچينه ده.

د رنسانس د غورځنګ بله غټه پېښه په شپاړسمې پېړۍ کې په عيسوي دين کې د کاتوليکي مذهب او ارتودکسي مذهب ترڅنګه د مارتن لوتر په کوښښ سره د ديني سمون (Reformation) په نتيجه کې د پرتستانزم هسکېدنه ده.

په داسې حال کې چې کاتولیکان خپل ستر مشر پاپ ته د خطا نه کوونکي مشر په شان اطاعت کوي، پروتستانزم فرد ته د وجدان په ازادۍ قایل دی. دغه ټول نوښتونه او کشفونه ددغسې نویو حرکتونو سبب شول، چې د هغو په نتیجه کې ساینس او تخنیک پرمخ ولاړ او ورسره ټولې لویدیځې عیسوي نړۍ حیرانوونکی پرمختګ وکړ.

خو افغانستان د وریښمینې لارې په ترک سره وار په وار ګوښه کېده. هغه نور نو د بین المللي سوداګرۍ او د خلکو او کاروانونو د تګ لاره نه وه. په واقع کې له دغه وخته وروسته ټول ختیځ د لویدیځې اسیا د هېوادونو په ګډون لږ و ډېر په همدغه حال کې و. د عثماني امپراتورۍ او مغلي امپراتورۍ هم ونه شو کولی، چې له سمندري لارو نه د سوداګرۍ لپاره کار واخلي که څه هم دواړو اوږدې سمندري غاړې لرلې. څنګه چې د اسیا دننه ملکونو په تېره افغانستان له بین المللي سوداګرۍ نه راپیدا عنعنوي ګټې له لاسه ورکړې، حکومتونو یې له خپلو ولسونو نه د مالیاتو په ډېرولو، له صنعت کارو نه د زیات محصول په اخیستلو او له لاس لاندې ملکونو نه په باج ټولولو باندې لنګر واچاوه. دغه حال د نوي صنعت او نوې شتمنۍ د تولید لپاره هڅوونکی کېدلی نه شو. د دوی په فکري نړۍ کې د ساتنپالنې او عنعنې پالنې میل وار په وار ښخ تیوه او فرهنګ یې نه دا چې نه غوړېده، بلکې شخېده او وچېده

افغانستان چې په اوومې پېړۍ کې یې اسلامي مدنیت منلی و، یا یې په خپله امپراتورۍ لرلې، یا د نورو امپراتوریو تر اثر لاندې تللی و. افغانستان د اسلام د سرحدي هېواد په توګه، د غزنوي او غوري امپراتوریو په وخت کې، اسلام هند ته په پراخ ډول یوور او ددغه انکشاف له امله هلته په هند کې د څه کم زرو کلونو په موده کې د ډهلي سلطنت په نامه مسلمانانو حکومت وکړ. د لودیانو او سوریانو دولت په همدغه لړ کې راځي او د پاکستان اوسنی دولت د همدغه اسلامي غورځنګ میراث دی، خو په دیارلسمې پېړۍ کې د چنګیز خان په تاړاکونو سره د اباد افغانستان ډېر ښاري مرکزونه په کنډوالو بدل شول، د کرنې سیستم یې تر ډېره حده پورې وران شو، د وګړیو ډېره برخه یې تباه شوه او له پاتې ژوندیو نه ډېرو یې د سلیمان غره درو ته کډه وکړه. په دې ډول افغانستان په خپل ډېر اوږده تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په یوه ستر معلوم انساني مصیبت واوښت. په دغه حال کې له دیارلسمې پېړۍ نه تر اتلسمې پېړۍ پورې د افغانستان تاریخ د پردیو تاریخ شو که څه هم په شپاړسمې پېړۍ کې پیر روښان، زامنو او لمسیانو یې او په اولسمې پېړۍ کې خوشحال خټک، ایمل مومند او دریا خان اپریدي د مغلو په برابر کې د خپلواکۍ ګټلو په لار کې په ټینګه پرله پسې مبارزې وکړې، خو په پای کې ټول نابریالي شول.

د افغانســتان د خپلواکــۍ ګټلــو بــرى اول تــر ځــه حــده د میــرویس هوتـك او پـه پـوره ډول د احمـد شـاه درانـي پـه سـروالۍ واقعـي شـو. وروسـتي چـې پـه کـال ۱۷۴۷ کـې د افغـان دولـت بنیــاد کېښــود، د ځــو کلونــو پــه بهیــر کــې یــې د مشــهد، پنجــاب، ســند، بلوچســتان او کشــمیر پــه لاتــدې کولــو ســره امپراتـوري جـوړه کـړه، خـو دغـه امپراتـوري د هغـه د لمسـیانو پـه وخـت کـې پـه اصـل کـې لـه دې املـه مـخ پـه ځـوړې او بیـا پـه ۱۸۱۸ کـې ټوټـه ټوټـه شـوه، چـې چلوونکـو یـې نـه شـو کـولی تـر لاس لاتــدې ســیمو نــه بــاج ترلاســه کــړي. ســره لــه دې هــم د میـرویس هوتـك او احمـد شـاه درانـي اهمیـت تلپـاتې دی، ځکـه چــې دوی پــه خپلــواك کنــدهار او خپلــواك افغانســتان کــې خپلواك نظام او خپلواك ژوند په میراث پرېښود.

افغانـانو، دغـه میـراث تـه درنـاوی هغـه وخـت پـه عمـل کـې ثابـت کـړ، چـې دوی سـره لـه دې چـې محمـدزیو تـه د واکمنـۍ د انتقــال پــه وخــت کــې او وروســته د تــاج او تخــت پــه ســر د محمـدزي سـردارانو پـه خپـل مینځـي جنګونـو کـې سـخت سـره بـې اتفـاق شـوي وو، د انګرېزانـو د لومـړي لـوی یرغـل پـه وخـت کــې پــه خپــل خپلــواکي بانــدې ټیــنګ ودرېــدل او یرغلګــر پوځونـه یـې کـه ځـه هـم د نـړۍ د زبرځـواك لښـکرې وې، لـه ملـك نـه وایسـتلې. څلوېښـت کالـه وروسـته پـه دوهـم افغـان_انګلیـس جـنګ کـې یـې هـم همدغسـې وکـړل او د میونـد پـه جګـړې کـې یـې د خپلواکـۍ پـه خونـدي سـاتلو کـې دغسـې بـرى وګاټـه، چـې

حتی یرغلګر انګرېزان يې هم حېران کړل. نولسمه پېړۍ په دغه ډول د افغانستان لپاره تر ډېره حده د کورنیو جنګونو او بین المللي جنګونو پېړۍ وه او د دوهم افغان- انګلیس د جنګ په نتیجه کې افغانستان د باندنیو اړیکو اختیار هم له لاسه ورکړ.

افغانانو له افغانستان نه د یرغلګرو انګرېزانو په شړلو سره اروپایي مدنیت یا د هغه باندني مظاهر هم په لغته ووهل. ددغې پېړۍ په دوهمې نیمايي کې اول د امیر شېر علي په دوهمې واکمنۍ کې او بیا د امیر عبدالرحمن د یوویشتو کلونو په واکمنۍ کې ودانۍ وشوې، خو هغه په زیاته اندازه د حکومتي نظام د پیاوړي کېدو او د وسلو د صنعت د انکشاف لپاره وې. دغو امیرانو له افغانستان سره د برتانیې او روسي امپراتوریو په ګاونډي کېدلو سره د افغانستان دفاع تر هر بل څه نه مهمه ګڼله. په تېره وروسته له هغه چې روسانو په کال ۱۸۸۵ کې پنجده ونیوله او انګرېزانو په کال ۱۸۹۳ کې د ډیورنډ توافق لیک په امیر عبدالرحمن باندې تحمیل کړ. غېر له هغه هم نه امیر شېر علي او نه امیر عبدالرحمن د ټولنې د مدني کولو او عصري کولو په فکر کې وو. په نورو اسلامي هېوادونو کې هم دغسې غوښتنې نه کېدلې، یا ډېرې کمې کېدلې او دغه فکر هر چېرې په ټینګه اورېدل کېده، چې اسلام هم دین او هم دولت دی. دا ځکه چې اسلام د عیسویت او موسویت

پرخلاف له هماغه اول سرنه د ټولنې تنظيمول او چلول هم په غاړه اخيستي او اسلامي واکمنو تر هغه وخته پورې په همدغې کرښې باندې يون کړی و.

خو د شلمې پېړۍ په سر کې د امير حبيب الله په دوره کې چې افغانستان يو قوي نظام درلوده او عصري پوهنه هم يکې رواج شوې وه، افغانان له باندنيو پېښو نه هم اغېزمن شول، په ۱۹۰۴ کې د جاپان په لاس د روسيې په ماتې، په ۱۹۰۵ کې د روسيې په انقلاب. په ۱۹۰۶ کې د ايران په انقلاب، په ۱۹۰۸ کې د ترکيې په انقلاب او په ۱۹۱۷ کې په بلشويکي انقلاب سره. د يوه اسيايي هېواد په لاس د روسيې ماتې د اروپايي امپيرياليستي هېواد په حيث د اسيانو د وياړ سبب شو او يادو شويو انقلابونو د زور واکو نظامونو طلسم مات کړ او سياست کوونکي او اوښتون پالان يې هر چېرې د په خپل سرو واکمنو او زورواکو رجيمونو په مخالفت کې نور هم ټينګ کړل.

له لومړي نړۍ وال جنګ نه وروسته پېښې، چې په اروپا کې د اوښتونونو سبب شوې په افغانانو باندې هم بې اغېزې نه وې. دغو ټولو پېښو افغان تعليم کړي درباريان او نور علاقمن افغانان وخوځول. په همدغه حال کې و، چې په کابل کې د مشروطه غوښتونکو غورځنګ هسك شو چې غتې غوښتنې يې د پوره خپلواکي ګټل، د قانون له مخې حکومت کول او د عصري مدنيت رواجول وو. په دغې فضا

کې پاچا زوی عین الدوله امان الله د خپل پلار له وژل کېدلو نه وروسته ځان د واکمنۍ ګدۍ ته ورساوه او بیا یې په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره ددغسې بنسټیزو سمونونو په پلي کولو پیل وکړ، چې په هغو سره افغان ټولنه مدني، سیاسي نظام عصري او د فرد خپلواکي واقعې کړي.

یاددښت:

۱ـ جینان ډي وس ـ کم بال، جنګیالی ښځې، وارنر بوکس، ۲۰۰۲، نیویارك، ۱۰۸

۲ـ پورته اثر، ۱۰۹

# د پاچا امان الله واکمني ته
# يوه نوې کتنه

**لومړنۍ خبرې:**

د پاچا امان الله څه کم لس کلنه دوره که څه هم لنډه وه، له ډېرو پېښو نه ډکه وه. دی هغه لومړی افغان واکمن دی چې د ټولنې د مدني کولو او عصري کولو لپاره يې پراخ سمونونه پلي کړل او د هغو له امله له وطن نه وشړل شو.

په معاصر افغانستان کې درې لسيزې سره ورته دي: د امير شېر علي خان د واکمنۍ دوهمه دوره (۱۸۶۸_۱۸۷۸)، د پاچا امان الله دوره (۱۹۱۹_۱۹۲۹) او د قانوني پاچايي لسيزه (۱۹۶۴_۱۹۷۳). په دغو درېو وارو لسيزو کې د ټولنې د مدني کولو او عصري کولو لپاره سمونونه پلي شول. درې واړه نظامونه په وسله وال زور سره

رنګ شول او له درې واړو نه واکمنانو په نره دفاع ونه کړه. خو درې واړو د بدلون غوښتونکو افغانانو په مخيلو کې ځای ونيو او له هغه سمونونه په وروستيو دورو کې ورو ورو عملي شول او لاهم عملي کېږي. دغه سمونونه د ژوند د ښه کولو لپاره ضروري وو، خو مخالفانو يې دغسې نه ګڼل.

## د امان الله پاچا کېدل:

د امان الله پلار، امير حبيب الله د ۱۹۱۹ کال د فبرورۍ په ۲۱مه د پنجشنبې په سهار د لغمان په کله ګوش کې، چېرته چې هغه په ژمي کې د ماهيو ښکار لپاره تللی و، په خېمه کې د خوب په حال کې ووژل شو. يو روايت دا دی چې دغه وژنه سياسي او په نهايت کې د مشروطه غوښتونکو د يوې پټې کړۍ کار و، چې درباريان په تېره د دربار غلام



بچه ګان او حتی د امير سکه ورور، سردار نصرالله او په خپله امان الله ه.م ورته منسوب و.(١) بل روايت دا دی چې د امير حبيب الله د وژنې محرك فاميلي او شخصي او په اصل

کې د وژل شوي امیر د لومړۍ ماینې، سرور سلطان، د امان الله د مور د دسیسې پایله وه. هغه د علیا حضرت سراج الخواتین په نامه یادېدله. هغه چې د وژل شوي امیر له نظره لوېدلې وه، خپل زوی امان الله یې د واکمن کېدلو لپاره روزه. امیر حبیب الله، چې د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې د عیاشۍ او له نورو ښځو او وینځو سره د ناستې ولاړې او ښکار خوا نیولې وه، په دې لټه کې شو چې له خپلې دغې ښځې نه ځان خلاص کړي. له بلې خوا مور او زوی په دې لټه کې شول، چې امیر له مینځه یوسي. مستوفي الممالك، میرزا محمد حسین (د شاعر خلیلي پلار) چې د امیر عبدالرحمن په دوره کې او له هغه نه وروسته ددغې کورنۍ وفا لرونکی غټ مامور و د مور او زوی دغه توطیه په خپله امیر حبیب الله ته په دې ډول بیانوي: "مور نوکرو ته نه ښایي چې د پلار او زوی ترمېنځ درز واچوو، خو د هغې باوري اطلاع له مخې چې ماته په لاس راغلې، د امان الله د سیاست له کړښې نه دوه ځیزونه ثرګند ېږي، چې یو یې دا دی چې تا د تا د ماموړانو له لارې چې له هغوی سره یې لاس یو کړی دی له مېنځه یوسي او د تا له وژنې نه وروسته په خپله د واکمنۍ په ګدۍ کېښني، ځکه چې هغه پوخ او ستا رعیت د تا له تابعیت نه اړولی دی."[۲] امیر حبیب الله وروسته له دې چې په دغې توطیې ځان نور هم باوري کړ، پرېکړه وکړه چې امان الله ووژني او مور یې طلاقه کړي. خو

دوی چې د امیر له پرېکړې نه خبر شول، نصرالله ته لاړل او په پښو کې یې ورغرېدل او په عذر او زارۍ یې ترینه وغوښتل، چې امیر ته یې شفاعت وکړي. هغه نه یوازې په بري سره د هغو شفاعت وکړ، بلکې د مستوفي راپور یې هم پوچ وباله. په هر حال، د دوارو روایتونو له مخې د امیر حبیب الله وژونکی د شجاع الدوله (غوربندي) په نامه د دربار یو غلام بچه و. (د جوهر شاه په نامه د هغه تره د امیر حبیب الله په حکم دمخه اعدام شوی و.) خو د امیر په وژنه کې کرنیل علي شاه له محاکمې نه وروسته ووژل شو، چې په کله ګوش کې د امیر د خېمې ساتونکي آمر و. د هغه وخت غلام بچه ګان مریان نه، بلکې د وطن د نفوذ منو هغه زامن وو، چې په دربار کې په نظامي او ملکي چارو کې روزل کېدل او واکمنو ته بې له ګرِ او برِ نه تابع وو.



د حبیب الله وژل کېدو نه وروسته په جلال اباد کې سردار نصرالله او په کابل کې امان الله ځانونه امیران کړل. خو لومړنی د وروستي په پلوۍ زر له امارت نه تېر شو، خو بیا په کابل کې بندي

شو. سردار نصرالله په ټول ملك کې له خپل وروړ امیر نه وروسته د نفوذ خاوند و. نفوذ یې په ختیځو پښتنو کې بېخي ډېر و. دی د امیر په خلاف د تقوا خاوند و او قران شریف یې ټول په یاد و. سره له دې هم خپل وزاره امیر ته یې وعده ورکړه، چې متابعت به یې کوي او چارې به د هغه په سروالي پرمخ بیایي، خو د هغه یو څو پلویانو په خپل سر د پغمان په لار قرغې ته نږدې په امیر امان الله باندې نابریالۍ ډزې وکړې. امیر امان الله بیا زما د یوې باوري سرچینې په حواله د خپل بندي تره د وژنې مسبب هم شو. امان الله چې د پلار دریم زوی و له هغه وروسته د کورنۍ رقیب په نه لرلو سره د پاچایۍ په تخت ډېره ولګوله.

## د بشپړې خپلواکۍ جګړه:



پاچا امان الله د فبرورۍ په ۲۴مه د کابل د مرادخانې په یوه میدان کې، چې هلته خلك او عسکر ټول شوي وو، په یوازې ځان څرګند شو او د هغو په مخ کې یې د هېواد

بشپړه خپلواکي او د ټولو خلکو ازادي او برابري اعلان کړه. خلکو بې په شور او زوږ سره هرکلی وکړ او ولایتونو په لسو ورځو کې بیعت ورواستاوه.(۳) پاچا امان الله د بلې میاشت یانې مارچ په ۳مه د خپل پلار له وژل کېدلو او د ځان د امیر کېدو په هکله د برتانوي هند وایسرای ته لیك واستاوه او څه باندې یوه میاشت وروسته د اپریل په ۱۳مه یې په کابل کې په یوه عام دربار کې د وطن پوره خپلواکي په دغو لفظونو څرګنده کړه:

*"ما خپل ځان او خپل هېواد پوره ازاد، په خپل اختیار او خپلواك اعلام کړ. له دې وروسته به زما هېواد هغسې خپلواك وي لکه د نړۍ نور دولتونه او قدرتونه، چې دې. هېڅ باندنی هېواد به پرې نه نېودل شي، چې یوه وېښته قدر حق ولري، چې د افغانستان په دننیو او باندنیو چارو کې ګوتې ووهي او که کوم چا دغسې وکړل، زه تیار او اماده یم چې په خپلې دغې تورې سره یې مرۍ پرېکړم."*

پاچا امان الله د خپلې اوږدې وینا په پای کې برتانوي ایجنټ، حافظ سیف الله ته مخ واړاوه او په نرمه یې ورته کړه، چې :"اوه سفیره، ته پوه شوې چې ما څه وویل؟" هغه ځواب ورکړ، چې "هو، زه پوه شوم."(۴)

د هند وایسرای د اپریل په ۱۵مه د پاچا امان الله د لیکنې ځواب واستاوه. خو د هغه په لیک کې په نورو موضوع ګانو باندې خبرې شوې وې، نه د خپلواکي په موضوع. برتانیه لاحاضره نه وه، چې د افغانستان پوره خپلواکي ومني. افغانستان د برتانیې لاس لاندې هېواد نه وو. افغانستان په کورنیو چارو کې پوره خپلواك و، خو باندنۍ اړیکې یې له ۱۸۸۰ نه تر دغه وخته پورې د هند د برتانوي حکومت له لارې ترسره کېدلې. امیر عبدالرحمن او امیر حبیب الله لا د هند حکومت ته په رسمي لیکونو کې ځانونه خپلواك ګڼل او د برتانیې حکومت وروستي ته د اعلی حضرت خطاب کاوه او افغانان په دې هیلي وو چې څنګه چې افغانستان په نړۍ وال جنګ کې ناپېیلتوب غوره کړی و، برتانیه به ددغه درېځ په درناوي د افغانستان پوره خپلواکي ومني.

دننه په افغانستان کې د امیر حبیب الله په وخت کې د مشروطه غوښتونکو غوښتنه د افغانستان پوره خپلواکي وه. نورې غتې غوښتنې یې د مشروطیت یانې د اساسي قانون له مخې حکومت او د عصري مدنیت او پرمختګ وې، خو د خپلواکي جذبه په ټولو افغانانو کې دومره پیاوړې وه، چې په کابل کې د برتانیې حکومت سفیر، سر فرانسس همفریز خپل حکومت ته څرګنده کړې ده، چې "له پاچا نه ښکته تر اوښبه کوچي پورې چې د منځنۍ اسیا او

هند په بازارونو کې په هسکه غاړه ګرزي د افغانانو د سرېمو ساه کښنته خپلواکي ده."(۵) لکه چې مولف ګریګوریین هم وایي چې:

"په ۱۹۱۹ کې هېڅ واکمن نه شو کولی په افغان ملت باندې په تینګه حکومت وکړي، خو دا چې د پوره خپلواکۍ لپاره یې ژمنه کړې وي."(۶)

پاچا امان الله دغه جذبه پوره درك كړې وه. په خپله یې هم لرله او پرحقه په دغه فکر و چې د پوره خپلواکي ګټلو په موضوع کې په سوله وي یا په جنګ ټول ولس د هغه تر شا درېږي، همدغسې هم وشول.

پاچا امان الله، چې پوه شو برتانیه د افغانستان پوره خپلواکي منلو ته حاضره نه ده، نو د جنګ لار یې ونیوله او د انګرېزانو د حاکمیت پر ضد هم دننه په وطن او هم دباندې په شمالي هندوستان کې یې د مسلمانانو، هندوانو او سکانو په پارولو پیل وکړ. د هند حکومت لا پخوا د انقلابي حرکتونو د ځپلو لپاره د رولت (Rowlett) په نامه یو سخت جزایي قانون ایستلی و، چې د هغه پر ضد د ۱۹۱۹ کال په پسرلي کې په ډېرو ښارونو کې هرتال وشو او دکانونه او کاروبار بند شو. د پنجاب په امرتسر کې په یوې لویې غونډې باندې ډزې وشوې، چې په هغو سره یو نیم زر کسان ووژل شول. مهاتما ګاندي د همدغه کال په فبروري

کـې ددغــه قــانون یــانې د حکومــت پــر ضــد د ســتیاګراهه (Satyagraha) پـه نامـه د مـدني نافرمانـۍ حرکـت پیـل کـړ، چې هغه د هندوستان په ازادېدلو کې ډېر مهم ثابت شو.

دغـه حرکـت پـه شـمالي هندوسـتان او پېښـور کـې هـم خلـك وپــارول او پــه پېښــور کــې افغــان وکیــل عبــدالرحمن او د پوسـتې آمـر، غـلام حېـدر پاچـا امـان الله تـه پـه یـوه راپـور کـې څرګنـده کـړه، چـې "هندوسـتان د انقـلاب پـه درشـل کـې دی او د افغــان یرغــل یــوازې یــوه بخــري تــه ضــرورت دی، چــې پــه هندوسـتان کـې د برتـانیې حاکمیـت پـای تـه ورسـوي."(٧) غـلام حیـدر خـان پاچـا تـه دا هـم ولیکـل چـې کـه هغـه بـه هندوسـتان بانـدې یرغــل ونــه کــړي، مســلمانان او هنــدوان دواړه بــه خپــه شي.

پاچـا امـان الله پـه دغسـې حـال کـې د مـی د میاشـتې پـه سـر کــې د هندوســتان پــه لــور پوځونــه واســتول، بــې لــه دې چــې د جــنګ اعــلان یــې کــړی وي: خیبــر تــه دســپاه ســالار صــالح محمــد، کنــدهار تــه د صــدراعظم ســردار عبدالقــدوس او خوســت تــه د جنــرال محمــد نــادر پــه قومندانــۍ. د مــی پــه څلورمـه د صـالح محمـد پـوځ پـه خیبـر کـې پـه کـړو پیـل وکـړ او پـه دې ډول د افغـان ـ انګلیـس دریـیم جـنګ پیـل شـو. خـو دلتـه بـه زه یـوازې د جـنګ پـه اړه څـه ووایـم، بـې لـه دې چـې نظـامي نښتې بیان کړم.

کـه سـپاه سـالار صـالح محمـد پـه لنډي کوتـل کـې مـات شـو،

جنرال محمد نادر د وزیر ستان په تل او وانه کې له انګرېزي پوځ نه ځایونه ونیول او یو څه وسلې او کارتوس یې هم ترلاسه کړل. دغه بري په ختیځ کې د انګرېزي پوځ فشار لږ کړ. په دریو واړو جبهو کې ډېرو ولسي خلکو، لکه څنګه چې له یرغلګرو سره په جنګونو کې معموله وه، له پوځ سره ملګرتوب وکړ. دا واقعیت دی، چې د خپلواکۍ جذبه په ټولو قومونو په تېره په پکتیاوالو او د وزیرستان په مسودو او وزیرو یا ودېرو کې ډېره ټینګه وه. تاریخ پوه، میر غلام محمد غبار په خپل کتاب کې په ولسي خلکو کې د خپلواکۍ جذبه ترسیم کړې، چې لوستونکي حېرانوي.

د ډیورنډ د کرښې د دواړو خواوو قومونو په دغه جنګ کې له زړه نه برخه واخیستله. د انګرېزانو قومي ملیشاوو هم خپلې وظیفې پرېښودلې او افغانانو ته واوښتې یا خپلو کورونو ته لاړلې. دغه ملېشاوې له دیورند نه اخوا قومونو نه جوړې وې. له افغانانو سره د دوی خواخوږي د انګرېزانو معنوي حال کمزوری کړ. د خپلواکي په جنګ کې دغو پښتنو ثابته کړه چې دوی د پخوا په شان د افغانستان رښتیني پلویان او مدافعان دي. په اصل کې د دوی او د ولسي افغانانو له امله و چې په لندن کې د برتانیې حکومت د هند د وایسرای دغه وړاندیز رد کړ، چې ویل یې د هندوستان د ناکراریو د غلي کولو لپاره ښه لار دا ده، چې جلال آباد ونیول شي. په دې اړه په لندن کې د هندوستان

لپاره د دولت وزیر د وایسرای وراندیز په دې ډول وتنه مانه: "زه په دې ډاډه یم چې تا به د تاریخ درسونه هېر کړي نه وي او هغه دا چې موږ د افغان له منظم پوځ نه دومره وېره نه لرو چې لکه د قومي ملېشاوو او زموږ په خورو کمپونو او د مخابرو په کرښو باندې یې د هغو له یرغلونو نه لرو." (۸)

انګرېزان په هند کې په دغه وخت کې نه ماتېدونکی نظامي قوت و، ځلور نیم لکه پوځ او عصري لوجستکي، مخابروي او د ورلو راوړلو عصري تخنیکي وسیلې یې لرلې. پر هغو سربېره په دغه جنګ کې یې له نظامي الوتکو نه هم کار واخیست او د جلال آباد او کابل ښارونو باندې یې بمونه وغورځول. غبار وایي، چې دغو بمونو په افغانانو باندې ناوړه اغېزه ونه کړه، خو ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي په خپل کتاب "برتانوي امپیریلزم او د خپلواکۍ لپاره د افغانستان مبارزې" کې دغه بمونه د اوربند سملاسي عامل بولي او وایي، چې "په دې کې ډېر لږ شك دی، چې دغه [هوايي] حمله دغسې مهم عامل شو، چې د افغان حکومت یې سولې غوښتلو ته اړ کړ." (۹) دغه واقعیت په اصل کې پخپله پاچا امان الله جنرال محمد نادر ته په یوه فرمان کې په دغه ډول څرګند کړی: "... از برای مردم کابل از ګلوله باری آنها هراس پیدا شده اکثر مردم معتبرین و کلان شوندګان این ملامتی را بحضور [شاه امان الله] تعلق میدهند که وقت جنګ نبود." (۱۰) په فرمان کې دا هم ویل

شوي چې دغو معتبرانو رایه ورکړه، چې که انګرېزان سوله ومني، تاسې يې قبوله کړئ. دغه معتبران شاید د دولتي شورا غړي وي.

د اوربند په اړه د افغان خوا ادعا کوي، چې دا انګرېزان وو، چې له پاچا امان الله نه يې اوربند وغوښت، خو انګرېزان د هغه سرچپه وايي. د ډاکټر ادمك په نظر:

> "د مې په ۲۴مه امان الله برتانوي نیت معلوموونکو ته ځواب ووایه او د هند حکومت په خوښۍ سره د جګړې پای ته رسول ومنل، ځکه چې په شمال لویدیځ سرحد [پښتونستان] کې وضع خرابه شوې وه."(۱۱)

په هر حال، د خپلواکۍ جګړه درې څلور اونۍ وه او له هغه وروسته د همدغه کال د اګست په اتمه په راولپنډۍ کې انګرېزانو د افغانستان پوره خپلواك کېدو ته غاړه کښېښوده. په دغه ډول افغانانو د پاچا امان الله په مشرۍ په جنګ او سولې سره له انګرېزانو نه خپله پوره خپلواکي له ۳۹ کلونو نه وروسته ترلاسه کړه. افغانستان د نړۍ د پوره خپلواکو هېوادونو په قطار کې سرهسکی ودرېد او افغانان سرلوړي شول او پاچا امان الله غازي وپېژندل شو او په نړۍ کې يې نوم وایست، خو د سرحد د پښتني قومونو په اړه اساسي څه ونه شول. که څه هم لکه چې ادمك وايي،

چې:"امان الله د افغان_انګلیس په دریم جنګ کې بریالی و. په اصل کې له دې امله چې د سرحد ( ازادې قومي کړۍ) له هغه سره مرسته وکړه. دغه افغانانان د مسلمانانو او افغانانو په توګه حاضر وو، چې د افغان پاچا د جهاد په غږ سره جنګ شي، خو چې دی هغو ته وسلې او پیسې ورکړي."([۱۲]) هو، امان الله له انګریزانو نه دغه وعده ترلاسه کړه، چې دوی په هغو کې د نفوذ خپرولو او له هغو سره د جنګ کولو پلان نه لري او که د هغوی پر ضد کوم نظامي کار کوي له امیر سره به مشوره کوي، خو له جګړې نه وروسته انګریزانو د خپلې وعدې پرخلاف ددغو پښتنو په سیمو کې تر پخوا ډېر په نظامي کړو لاس پورې کړ.

## له هېوادونو سره اړیکې:

د خپلواکي یوه غټه نښه دا ده چې خپلواك هېواد به له نورو هېوادونو سره ډول ډول اړیکې په تېغه او په خپله خوښه د خپل ملت د ګټو د خوندي کولو په مقصد د خپلو استازو له لارې ټینګوي. تر دغه وخته پورې د افغانستان اړیکې یوازې د برتانوي هند له حکومت سره وې. پاچا امان الله لا پخوا له دې چې د افغانستان خپلواکي په رسمي ډول وپېژندل شي، له نورو هېوادونو سره د اړیکو لرلو په لټه کې شوی و. د نړۍ وضع هم د هغه د کوښښونو مرستندویه وه. یو دا چې د لوی نړیوال جنګ له امله د عثماني

امپراتورۍ په ټوټه کېدو سره د نړۍ په مسلمانانو کې انګرېزي ضد احساسونه پياوړي شوي وو، ځکه چې انګرېزانو د هغې په ټوټه کېدو کې لاس درلود. بل دا چې په روسيې کې د بلشويکي انقلاب له امله د لېنن په مشرۍ دغسې بلشويکي حکومت په واک شوی و، چې له لويديځ امپيريلزم او پانګه والي نظام سره مخالف و او د هر هغه حکومت او هېواد پلوي يې کوله، چې د هغو په برابر کې جګېدل، نو دغه حکومت په نوې ترکيې کې له جنرال مصطفی کمال چې په اتاترک يادېده او په نوي افغانستان کې له پاچا امان الله سره روغ نيتي ښوده او افغانستان ته يې لاد وسلو، پېسو، تخنيکي مرستو او حتی د پنجده د بېرته ورکولو وعدې هم ورکولې.

پاچا امان الله لا د ۱۹۱۹ کال د اپريل په سر کې محمد ولي په بخارا کې سفير ټاکلی و. محمد ولي د درواز تاجك او پخوا په دربار کې د غلام بچه ګانو مشر و. زر څرګنده شوه چې دی د يوه مهم هيئت په مشرۍ ګمارل شوی و، چې له نوي بلشويکي حکومت او د لويديځ له نورو هېوادونو سره سياسي اړيکي ټينګې کړي او په اروپا کې د پارېس د سولې په کنفرانس کې هم ګډون وکړي. محمد ولي له خپلو لوړ رتبه افغان ملګرو سره مسکو، برلين، روم، پاريس، لندن، نيويارك او واشنګټن ته هم سفر وکړ او د ۱۹۲۲ کال په جون کې وطن ته ستون شو. له هغو خنډونو سره سره چې

د برتانیې د باندنیو چارو نوی وزیر لارډ کرزن د دغه هیئت په وړاندې اچول د محمد ولي هیئت په خپل مقصد کې پوره بریالی وخوت. له شوروي اتحاد، پاریس او ترکیې سره یې سیاسي او د دوستۍ تړونونه وکړل او نور ډېر هېوادونه یې هم وهڅول، چې له افغانستان سره سیاسي اړیکې ټینګې کړي.(۱۳)

د افغانستان لپاره دا یو مهم بری و. له هغه وروسته ډېرو اروپایانو په تېره جرمنانو کابل ته مخه وکړه. افغانستان له عنعنوي ګوښه توب نه د تل لپاره ووت او د کابل ښار دغسې نوې بڼه غوره کړه، چې د باندنیو شته والی یې یوه ځرګنده نښه شوه. د هیئت مشر محمد ولي هم د غټې نامه او اعتبار خاوند شو، په تېره وروسته ل هغه چې پاچا امان الله یو ملیون روپۍ نقدې او د کوهدامن په قلعه مراد بیګ کې د مستوفي مېرزا محمد حسین ضبطې شوې مځکې د انعام په توګه وروبښلې. (مستوفي دمخه په دار ځړول شوی و.) پاچا هغه د محمود طرزي پرځای د باندنیو چارو وزیر وټاکه.(۱۴) خو د افغانستان اړیکې له برتانوي هند سره د سرحد د پښتنو په سر خړې پړې پاتې شوې او له شوروي اتحاد سره یې د مرو، بخارا او داسې هم د بسمه چي غورځنګ او د پاچا امان الله د پان اسلامي فکر له امله د دوستۍ لومړنۍ تودوښې له لاسه ورکړې.

## افغانستان او منځنۍ اسیا:

د بولشویکي انقلاب د بري، د عثماني امپراتورۍ د ټوټه کېدلو او د افغان انګلیس د دریم جنګ له امله شوروي اتحاد، برتانیې او د اسیا یو شمېر هېوادونو ځانونه په منځنۍ اسیا کې د "سترې لوبې" په یوه نوي پړاو کې وموندل په دغې لوبې کې پاچا امان الله، د بخارا امیر او د هغو غورځنګونو، چې یا په پان تورانزم یا په پان اسلامزم باندې ډډه کوله هڅه کوله. چې د منځنۍ اسیا هغه تشیا ډکه کړي، چې د تزاري امپراتورۍ په له منځه تللو سره پیدا شوې وه. شوروي اتحاد هڅه کوله، چې د تزاري روسیې پرځای په منځنۍ اسیا باندې خپل حکم جاري کړي له بلې خوا برتانوي هند اندېښمن شو چې د برست- لیتوفسك له تړون نه وروسته چې بلشویکي روسیې له جرمني سره د ۱۹۱۸ کال په مارچ کې لاسلیك کړ، د جنګ د وخت مرکزي قوت پوځونه به افغانستان ته ننوځي او هند به په خطر کې کړي، نو هند هڅه کوله چې افغانستان له دښمنو هېڅونو څخه کوښه وګرزوي ددې لپاره او هم دا چې له دغسې کسانو او ډلو سره لار ولري، چې له برتانیې سره مرسته وکړي، جنرال ملیسن یې له کافي پیسو او پوخ سره د ایران مشهد ته واستاوه. دی له خپل پوخ سره له مشهد نه مرو او بیره علي ته لاړ، خو هلته له بلشویکي پوخ

سره له نابریالۍ مقابلې نه وروسته بېرته په مشهد کې هستوګن شو. په مشهد کې یې د مسکو، تاشکند او نورو ښارونو ترمېنځ د تیلګرافي مخابرو په څارلو سره غټ بریالي توبونه ترلاسه کړل([15])، چې زر به د هغه په هغه رول وغږېږم چې د شوروي اتحاد او افغانستان اړیکې یې خړپړ کړل. له بلې خوا د عثماني ترکیې د اتحاد او پرمختګ د کومېټې پخوانیو مشرانو، چې تېنګ ملت پالان وو، له پان اسلامي غورځنګ نه په دغې هیلې کار اخیست، چې په منځنۍ اسیا کې یو اسلامي ترکي دولت په پښو ودروي. پاچا امان الله بیا له پان اسلامزم نه په ګټې اخیستلو سره هڅه کوله، چې د منځنۍ اسیا د کنفدرېشن سروال وي. داسې هم هغه له برتانوي هند سره په معاملو کې کوښښ کاوه، چې د هند مسلمانانو ته د وروستي اسلامي سروال او د اسلام د یوازیني پاتې شوي مدافع په توګه څرګند شي. علامو هم ښووله، چې پاچا امان الله به د خلافت په ګدۍ ډېره ولګوي([16]).

پاچا امان الله په منځنۍ اسیا کې د پرمخ تللو فعال سیاست غوره کړی و، خو بیا له هغه ځایه د شوروي اتحاد په پرمختګ سره په شا ولاړ. د پاچا امان الله سیاستونه په دغې پراخې سیمې کې هم په ډګر کې په کړو او هم له شوروي اتحاد سره په اړیکو کې څرګندېدل. د محمد ولي هئیات په مسکو کې د ۱۹۲۱ کال د فبرورۍ په ۲۸مه له

شوروي حکومت سره يو تړون لاسليك كړ. په هغه كې دواړو خواوو ومنله، چې "هېڅ خوا دی له دريم دولت سره هېڅ دغسې نظامي يا سياسي موافقتونه لاسليك نه كړي، چې د تړون كوونكي كومې خوا ته ممكن تاوان ورسوي." شوروي اتحاد به اجازه لري، چې په افغانستان كې قونسلگري گانې پرانيځي. مسكو ومنله، چې د افغانستان د سوداگري مالونه به د محصول له وركولو نه پرته له روسيې نه تېر شي. افغانستان او شوروي اتحاد دواړو د بخارا او خيوې خپلواكي د "خلكو د غوښتنو پر اساس" وپېژنده. شوروي اتحاد دا هم ومنله چې هغه سرحدي سيمې چې پخوا په افغانستان پورې تړلې وې د "عدالت او خودارادیت د اصلونو" له مخې افغانستان ته بېرته ورپرېږدي. پر هغو سربېره شوروي اتحاد په غاړه واخيستله چې هر كال به يو مليون روبل سره زر يا سپين زر افغانستان ته د مرستې په توگه وركوي. شوروي اتحاد د تخنيكي وسيلو او متخصصانو په بڼه د نورو مرستو وركول هم ومنل(١٧).
شوروي اتحاد په دغه تړون سره د افغانستان په اړه روغ نيتي وښوده، په داسې حال كې يا شايد له دې امله چې د داخلي جنگ له سختو پايلو او له اقتصادي ستونزو سره مخامخ و. شوروي اتحاد به دا هم په نظر كې لرله، چې افغانستان به يې په دغسې تړون سره تر دې حده دوست كړی وي، چې لږ تر لږه انگرېزانو ته به اجازه ورنكړي، چې

له هغه ملك نه د شوروي پر ضد كار واخلي.

بلــه دا چــې دغــه تــړون پــه دغســې وخــت كــې لاسليك شــو، چــې پــه منځنــۍ اسـيا كــې د افغانســتان نفـوذ ښــه خپـور شــوى و. ان د ۱۹۱۹ كــال پــه اكتــوبر كــې افغانســتان پــه دې پيــل كـړى و، چـې د پنجـده پـه سـيمې كـې خپـل نفـوذ خپـور كـړي. "افغــان مــاموران، قونســلان او پــه خپلــه خوښــه جــوړ شــوي هئياتونــه لــه منظمــو افغــاني عســكرو سـره ډلــه ډلــه ګرزېــدل او پـه نتيجـه كـې پـه دغسـې سـيمې كـې دغسـې ښـاركوټي نـه و، چــې افغانــان دې ونــه لــري." د برتــانوي راپورونــو لــه مخــې "افغــان نفـوذ پــه مــرو او ســهيل كــې ټينګېــده او پــه مــرو كــې خلكــو داســې ګڼلــه، چــې افغــان قونســل تــه تــر بلشــويكي كميســارۍ نــه لا ډېــر مهــم مــامور وي."(۱۸) پــه مــرو كــې څلـور سـوه منظم افغـان عسـكر ځـاى پرځـاى او لـه هغـه ځايـه تـر كشـك پــورې د افغانــانو لاس بــرى و. د يــوه راپــور لــه مخــې "افغانــان هــر هغــه ممكــن څــه كــوي، چــې تركمنــان سـره پخــلا كـړي. هغــه كســان خوشــې كېــږي، چــې بلشــويكان يــې بنــدي كــوي، جــريمې بېرتــه وركــولې كېــږي، ســتونزې د افغانــانو پــه حكــم هوارېــږي او محلــي بلشــويكان پــه ضــمني ډول د افغانــانو امرونــه پرځــاى كــوي. هيــڅ تــركمن وضــع درك كــولى نــه شــي، يــا دا چــې افغانـان او بلشـويكان پـه رښتيـا سـره دوسـتان دي يـا دښمنـان، خــو ټــول دا منــي، چــې افغانــان هــر چېــرې د مســلمانانو د ســاتونكو پــه توګــه د محــل د وضــع او موقــع كنتــرول كــوي. د

سرخس په سيمې کې افغانانو د ترکمنو دايمي بدي ګانې له مينځه ورې او ټولو ته يې خبرداری ورکړی، چې د عمل لپاره، چې مناسب وخت يې ورسېږي، چمتو وي." (۱۹)

د بخارا امير مير علم، جنرال مليسن ته څرګنده کړه، چې "زموږ په نظر ترکستان او بخارا ته د افغانستان راتګ يوازې ددې دپاره دی، چې د ترکستان مسلمانان سره يو موټی کړي او له بخارا سره اړيکې ټينګ کړي. په دغه مقصد چې د بلشويکانو پر ضد په مناسب وخت کې عمل وکړي." دا هم ويل کېده، چې افغانانو په فرغانه کې د شوروي پر ضد د بسمه چې حرکت له يوه مشر محمد امين بېګ سره لاز لرله او هغه ته يې که په پان اسلامي کنفدرېشن کې ګډون وکړي، د لسو زرو مېړو او وسلو وعده کړې وه.(۲۰)

د ۱۹۲۰ کال په پسرلي کې د افغان-شوروي اړيکې خرپ شول او شورويانو بيا په زور سره د منځنۍ اسيا د لاندې کولو تکل وکړ. شورويانو چې د ۱۹۱۹ کال په پای کې ماسکو له تاشکند سره د اورګاډي په وسيله بيا وتاړه، هلته يې منظم پوځ واستاوه، فرغانه او خيوه يې لاندې کړل او د بل کال په مۍ کې يې په پنجده کې د افغانانو لاس بری پای ته ورساوه. له هغه وروسته د افغانستان او شوروي اتحاد پوله هغه شوه، چې د تزاري روسيې په وخت کې وه. د بل کال (۱۹۲۱) په مۍ کې يې د بخارا امير هم په ښکاره د

پرچمي دوله "ځوانو بخارایانو" له لارې خو په واقع کې په خپل زور کابل ته پرارولو ته اړ کړ([21])، کڅه هم له افغانستان سره یې په تړون کې د بخارا او خیوې خپلواکي منلې وه. ډاکټر ادمك د افغان۔شوروي د اړیکو دغه خړپړتیا په سرحدي سیمه کې د ورشوګانو په سر لانجې او د شورویانو پر ضد د افغانانو دسیسې بښیي([22]) خو د هغو عامل تر هغو ډېر جدي او په مشهد کې یوه انګرېزي جنرال، ملیسن ته منسوب دی.

مسکو او ډهلي پوهېدل چې دوست افغانستان به د شوروي لپاره دغسې یوه هډه وي چې له هغه ملك نه به د انقلاب بخري په مناسب وخت کې هندوستان ته یوووړل شي. هندوستان ناارام و. د ملیسن په نظر افغانانو داسې ګڼله، چې انګرېزان کم زوري شوي دي، نو دی په دې لټه کې شو چې د بلشویکانو لوبه بې اغېزې کړي او له افغانستان نه یې لېرې وساتي. ده وروسته په ۱۹۲۲ کې په لندن کې د منځنۍ اسیا په ټولنې کې د یوې وینا په ترخ کې څرګنده کړه، چې:

> "زمونږ دنده دا شوه چې هر هغه ممکن څه وکړو چې په هغه سره د یوه دفاعي او یرغلیز اتحاد په مقصد د افغان او شوروي د پلانونو د واقعي کېدو مخه ونیسو." دی له هغو تاکتیکونو نه هم وغږېد چې په

> مشهد کې يې په دغې لار کې ترېنه کار اخيسته. "څه وخت چې په دواړو کامپونو کې د ډېرو اجنټانو له لارې معلومات ترلاسه شول چې رښتينې وضع څنګه ده او دواړه خواوې له يوې او بلې سره څنګه چلند کوي، زموږ کار دا شو چې يوه، خوا د بلې په خيانت په غير رسمي ډول خبر کړو. افغانانو په دغه وخت کې واورېدل چې په ټولې فرغانې کې د شوروي پر ضد يو پياوړی او د هيلې وړ پاڅون روان دی، د پاڅون مشرانو ته يې استازي ولېږل، له ليکونو او سوغاتونو سره. موږ دا خپله دنده وګڼله چې دغه معلومات بلشويکانو ته ورسوو."

مليسن دا هم وايي چې د محمد ولي له هئيات سره د شورويانو ښه چلند او افغانستان ته د هغوی د غټو وعدو ورکول د افغانانو په خيال په اصل کې د هغوی د کمزورۍ له امله و او افغانان له هغه وروسته په منځنۍ اسيا کې د خپل نفوذ په خپرولو پسې شول او مرو ته يې لا منظم پوځ هم واستاوه. مليسن وايي چې موږ بلشويکان په دغو ټولو پېښو خبر کړل او هغوی بيا سرحدونو ته سور پوځ له يوه لوړ رتبه کميسار سره ولېږه، چې په مرو او عشق اباد کې د

وضع څېړنه وکړي، خو دی هلته د کومې موضوع په سر له کوم افغاني افسر سره ونښت او شورویانو بیا یو بل ملاتړ پوځ ورواستاوه. ملیسن بیا افغانان په هغه خبر کړل او هغوی هم همدغسې وکړل. ددغو ټولو پېښو پایله د افغانانو او شورویانو ترمنځ ټینګه بې باوري شوه. ملیسن په پای کې خپلو اورېدونکو ته وویل چې:

"وعده شوې پیسې او وسلې وځنډېدلې او په پای کې ګرد سره ودرولې شوې، ځکه چې هغوی [بلشویکان] په هر حال ترخه حده پورې په دې باور شول، چې افغانان په ټولې منځنۍ اسیا کې د دوی پر ضد د یوه لوی پان ـ اسلامي پاڅون لپاره لمسوني کوي." (۲۳)

د شوروي ـ افغان بل درز د بسمه چي غورځنګ په سر و، چې مقصد یې په منځنۍ اسیا کې د یوه خپلواک اسلامي دولت لپاره کار کول وو. دغه غورځنګ هغه وخت جدي شو چې د عثماني ترکیې پخوانیو مشرانو ـ انور پاشا، طلعت پاشا او جمال پاشا ـ په منځنۍ اسیا او افغانستان کې د هغه د واقعي کولو لپاره په هلو ځل پیل وکړ. دوی د لومړي نړیوال جنګ تر پایه پورې د عثماني ترکیې مشران وو او په جنګ کې یې د مرکزي قوتونو خوا نیولې وه، خو عثماني ترکیه د جنګ په نتیجه کې ماته او

توته توته شوه او دوی له ترکيې نه ووتل. لومړی دوه يې د برلين په لاز مسکو ته لاړل چې له شورويانو سره په برتانوي ضد حرکتونو کې برخه واخلي. جمال پاشا وروسته په کابل کې څرګند شو او هلته د افغان پوځ د بيا تنظيمولو لپاره وګمارل شو. په دغه وخت کې شورويانو هر چېرې مسلمانان د انګرېزانو پر ضد لمسول، خو په منځنۍ اسيا کې په خپله د بسمه چي پلوو مسلمانانو له مخالفت سره مخامخ شول. انور پاشا يې ترکستان ته واستاوه، چې موضوع د هغو له مشرانو سره په خبرو حل کړي، خو دی هلته د ۱۹۲۲ کال په مارچ کې له هغو سره يو موټی او د شوروي پر ضد شو. انور پاشا ډېر زر "د پخوانۍ بخارا" د قوتونو سروال وګرزېد چې شمېر يې شلو زرو تنو ته ورسېد او په ترمز، بېسون او شهر سبز کې ځای پر ځای وو.(۲۴)

پاچا امان الله په منځنۍ اسيا کې د کنفدرېشن جوړېدلو امکان بيا وليد. په کابل کې جمال پاشا چې د محمود طرزي له ملاتړ نه بهره من و، امان الله په دې قانع کړ، چې انور پاشا غواړي روسي ترکستان په افغانستان پورې وتړل شي او دا چې د بخارا امير هم غواړي د هغه په مرسته له افغانستان سره يوځای شي.(۲۵) پاچا امان الله په دې هکله په کابل کې د انګلستان د سفير له لارې له برتانيې نه وغوښتل، چې د بخارا او خيوې خپلواکي په څرګند ډول ومني او د افغانستان له لارې د وسلې مرسته ...

او د افغانستان ملا وتړي، چې له شوروي اتحاد نه وغواړي له دغو ملکونو نه خپل پوځونه وباسي، خو انګرېزانو د هغه غوښتنو ته د هوکې ځواب ونه وايه([۲۶]). سره له دې هم څنګه چې امان الله په دې فکر و، چې بلشويکان له بخارا نه د انور پاشا له لاسه ايستل کېږي، له هغه سره يې د وسلو او رضاکارو مرسته وکړه او د تنظيمي رئيسانو په نومونو يې جنرال محمد نادر قطغن ته، شجاع الدوله هرات ته او د عدليې وزير محمد ابراهيم مزار ته واستول. په هغو سربېره افغاني افسران يې په ملکي جامو کې انور پاشا ته او يوه وړه نظامي قوه يې بخارا ته واستوله. هدايت دا و، چې دوی تول به په پټه له انور پاشا سره په بخارا او له بسمه چي مشرانو سره په فرغانې کې مرستې کوي.

د ۱۹۲۲ کال په اپريل کې يو افسر له سرحد نه واوښت او په بېسون کې يې له خپلو قوتونو سره له شوروي پوځونو سره مقابله وکړه. په هغه سربېره د باندنيو چارو د وزارت يوه حکومتي پوسته په لار کې چور شوه او سندونه يې شورويانو ته په لاس ورغلل.([۲۷]) شورويانو ته ثابته شوه چې افغانان د بخارا په ناکراريو کې لاس لري، نو يې بخارا په يوې شپې او ورځ کې په بې رحمۍ سره لاندې کړه، پر افغانانو يې مرستې ودرولې او د ډېرو غوښتنو په ترڅ کې يې له افغان حکومت نه وغوښتل، چې ځرګندونه وکړي، چې بيا به د بخارا په چارو کې ګوتې نه وهي او خپل

استازي به له هغه ملك نه بهرون كوي. دغه غوښتني د التيماتوم په شان وې او افغانستان هغه ومنلې او د شوروي اتحاد دوستي يې وساتله. انور پاشا هم له يو څو بريو نه وروسته د ۱۹۲۲ كال د اګست په ۴مه په يوې نښتې كې ولګېد([۲۸]). د هغه په مړيني او وروسته د بسمه چي د يوه بل مشر ابراهيم بيګ د قوتونو په خورېدلو سره په منځنۍ اسيا كې د هغو دريو تركي پاشاګانو د پان_تركي دولت، د بسمه چيانو د خپلواكۍ او د پاچا امان الله د اسلامي كنفدرېشن ارمانونه له خاورو و ايرو سره برابر شول او پرځاى يې هلته د شوروي اتحاد له خوا د سوويېتزم د پلي كولو په لور كوښښونه پيل شول او په افغانستان كې د پاچا امان الله له خوا په داخلي سمونو نو باندې لنګر واچول شو.

## لومړي سمونونه:

په معاصر افغانستان كې امير شېرعلي لومړى افغان واكمن و، چې د دولتي نظام د عصري كولو په لور يې ګامونه اوچت كړل. پاچا امان الله بيا نه يوازې د نظام په عصري كولو بلكې د ټولنې د ځينو اساسي اړيكو په اړولو او حتى د لويديځ كولو په لور د پراخو پروګرامونو په پلي كولو پيل وكړ.

امان الله د واكمنۍ په اول كال (۱۹۱۹) كې اجرائيوي قوه تنظيمه كړه، په دې ډول چې په سر كې يې صدراعظم او

وزیـران وګمـارل. د وزیرانـو نومونـه پـه معاصـر افغانسـتان کـې د اول ځل لپـاره امیـر شـیر علي پـه خپلـو لـوړو مـامورانو بانـدې ایښـي وو. پاچـا امـان الله بیـا لومـړی افغـان واکمـن و، چـې درې ګونـو قوتونـو یـانې اجـرایې، قضـایې او مقننـې تـه یـې عصري بڼه ورکـړه، خو سـلطنت یـې لـه حکومـت نـه بېـل نـه کـړ یـا یـې پـه کـافي انـدازه بېـل نـه کـړ. د وزارتونـو سروالان یـې اول نـاظران او وروسـته وزیـران ونومـول. هغـوی ده ټاکـل او ده ته لېږې کـول او هغـوی ده تـه مسـئول وو، پـه داسـې حـال کـې چـې هغـه د پاچـا پـه توګـه غیـر مسـئول ګڼـل کېـده. وروسـته یـې د صـدراعظمۍ چـارې هـم پـه خپـل لاس کـې ونیـولې او تـر پایـه پـورې د غیـر مسـئول صـدراعظم پـه شـان پـاتې شـو([29]). پـه دغسـې نظـام کـې طبیعـي وه چـې د حکـومتي مـامورینو او د هغـو اصـلاحي پروګرامونـو پـه اړه د خلکـو عکـس عمـل ده تـه متوجه شي، لکه چې همدغسې وشول.

پاچـا امـان الله د ۱۹۲۳ کـال پـه لـوی اختـر کـې پـه یـوې وینـا کـې څرګنـده کـړه چـې "دا د قلـم ورځـې دي، نـه د تـورې."([30]) د هغـه لـه لومړیـو بنسـټیزو کـارونو څخـه یـو دا شـو چـې چـارې د ولـس د اسـتازو پـه مشـوره یـا لـږ تـر لـږه د هغـو لـه لارې پـه مـخ بـوځي او څنګـه چـې پـه افغانسـتان کـې سـمونونه د لومـړي ځـل لپـاره پـه پـراخ ډول تجـویز کېـدل، د نویـو قـانونو ایسـتلو او قـانون ایسـتونکو لپـاره اړتیـا ډېرېـده. ددغـه مقصـد لپـاره د "ریاسـت محفـل وضـع قـوانین" پـه نامـه یـوه اداره جـوړه شـوه،

چې سردار شېراحمد یې سروال او ترکي بدري بېګ یې نایب سروال او غړي یې عالمان، لیکوال او ترجمانان وو. د قانون ایستلو او مشورې ورکولو لپاره د اعیانو پخوانی مجلس چې "دارالشورا" نومېده اول په "خاصې شورا" او بیا په "دولتي شورا" واړول شوه. د عزیزالدین پوپلزي په وینا د قانون ایستلو ریاست په دولتي شورا واړول شو([31]). دولتي شورا نیمه ملي وه په دې ډول چې نیمايي غړي یې پاچا ټاکل او نیمايي یې ولس غوره کول. په ۱۹۲۸ کې پاچا د لویې جرګې له استازو سره ومنله، چې دولتي شورا به په ملي شورا بدلېږي او غړي به یې د خلکو له خوا غوره کېږي([32]). د هېواد په هر اداري واحد (ولایت، حکومت او علاقه داری) کې مشورتي مجلس ومنل شو، چې غړي یې حکومتي ماموران او د خلکو غوره شوي استازي وو.

دولتي شورا، وزیرانو او لویو جرګو قانونونه ایستل او هغه د پاچا له لاسلیك کېدو او مهر کېدلو نه وروسته جاري کېدل. د پاچا امان الله په لس کلنې واکمنۍ کې د نظامنانو په نومونو دومره ډېر قانونونه ایستل شوي دي، چې په هېڅ بلې لسیزې کې په هغه شمېر ایستل شوي نه دي. د پاچا امان الله د واکمنۍ بله غټه خاصه د لویو جرګو جوړول و په دغه مقصد چې په خپله د هغه په ژبه "... لااقل در سال یك دفعه علی العموم وکلا و نمایندګان و کلان شوندګان قومی و علمای ملت داران اجتماع نموده...(تا) همه مسایل مهمه

و افکاریکه در تعالی و ترقی مملکت خویش مدنظر داشته باشم مواجهتاً بمشاوره و تصویب و تصفیه قرار دهم."(۳۳)
دده په دورې کې څو لویې جرګې وشوې، لومړۍ یې په جلال آباد او وروستۍ یې په پغمان کې. پاچا امان الله د لویو جرګو نوښتګر دی. تر هغه دمخه بل افغان واکمن دغسې لویه جرګه نه ده بللې، چې غړي یې د افغانستان له ټولو برخو نه د خلکو له خوا غوره شوي وي. لویه جرګه په اصل کې د قومي جرګې توسعه ده او قومي جرګې د افغانستان په ځینو قومونو په تېره په پښتنو کې رواج وې، چې هم فردي او هم عمومي کشالې په تېره جزايي کشالې یې هوارولې. د پاچا امان الله د لویو جرګو بله خاصه د هغو لوی والی دی، چې د ځینو غړي یې زر تنه وو. د حکومت لپاره په تېره په مالي لحاظ ګرانه وه چې هر کال دغسې لویه جرګه وبولي، ځکه چې لګښت یې ټول د حکومت په غاړه و. په هر حال، پاچا امان الله لومړی افغان واکمن دی، چې ملت ته یې د لویو جرګو له لارې په دولتي چارو کې برخه ورکړه او دولتي نظام یې د قانون له مخې په مشورې باندې بنا کړ.

پاچا امان الله په قضايي چارو کې هم بیخکي بدلون راوست او په فقیهي قضیو کې یې "تعزیر" په "تقدیر" سره بدل کړ. امیر عبدالرحمن قاضیانو ته په دعوو په تېره په جزايي موضوع ګانو کې نامحدود اختیارونه منلي وو، په

دې ډول چې قاضي ته اختیار ورکړل شوی و، چې یوه چاته حتی پخوا له دې چې عمل یې کړی وي، د ظاهر په نظر کې نیولو سره تر اعدام پورې جزا ورکړي، سره له دې چې په اساس القضات نومي کتابګوټي کې ددعوو د هوارولو لپاره د قاضیانو د صلاحیت او د قضیو د حل کولو طرز عمل په اړه ډېر څه ویل شوي وو([۳۴]). نو د امان الله تر وخته پورې د غبار په ژبه:

... قاضي خودش را در موارد جزایی قبلاً مختار و فعال مایشاء میدانست و اسلحه تعزیر در دست او به شکل یك اله برنده اما کشدار قرار داشت."([۳۵])

پاچا امان الله د تمسك القضات امانیه له مخې، چې د مولوی عبدالواسع کندهاري تالیف و د قاضي پراخ اختیارونه مقدر کړل، په دې ډول چې په هغه کې د هر جرم لپاره جزاګانې تاکلی شوې یانې تقدیر شوې وې او قاضي نه شو کولی چې د یوه جرم جزا په خپل اختیار سره لږه یا ډېره کړي. په افغانستان کې دا یو اساسي فقیهي تغییر و چې راوړل شو. په هغه سربېره د تورنو محاکمه هم برالا شوه او د الله تعالی حقونه او د بنده ګانو حقونه سره بېل کړل شول. له هغه وروسته که قاضي یو څوك په کومې قضیې کې تبریه کاوه، حکومت د لزوم په حال کې هغه د پولیسو او ولایتي مشورو له لارې څاره او په جزا رساوه. دا ټول دغسې

تغییرونه وو چې د غبار په ژبه "... صنف قضات را برای همیشه از دولت و تحولات جدید متنفر و بیزار ساخت." (۳۶)

د پاچا امان الله نور سمونیز پروګرامونه د ټولنې مدني کولو او پرمخ بیولو ته متوجه وو. په کال ۱۹۲۱ کې د صنعتونو د هڅونې په نامه دغسې یو قانون ایستل شوی و چې مقصد یې د مالیاتي طرز په اصلاح کولو سره د صنعتونو هڅول وو. د امیر عبدالرحمن په وخت کې مالیات په جنس اخیستل کېدل او هغه تر دې حده پورې درانه وو چې له هغو مځکو نه چې په نهرونو سره خړوبېدلې، د حاصل درییمه برخه د حکومت کېدله او مځکه والو او بزګرو د هغو د تحصیل په برخه کې هم تاوانونه او ربړونه ګالل. د پاچا امان الله په وخت کې مالیات له جنس نه په نقده واړول شول، په دې ډول چې ددغسې مځکو د درې کالو حاصلاتو منځنۍ اندازه وټاکله شوه او هغه د ورځې په نرخ په نقده واړول شوه او پرېکړه وشوه، چې د نرخو د لوړوالي له امله به مالیات هر درې کاله وروسته بیا ټاکل کېږي. دغه کار یوازې یو ځل وشو او حکومتي عایدونه له دغې ډډې نه لړ شول. (۳۷)

په دغه نوي طرز سره د ملکانو، میرانو او قومي مشرانو نفوذ هم لږ شو. د دوی اهمیت په دې هم لږ شو چې بزګران او نور ولسي خلك هڅول کېدل، چې د خپلې سیمې له حکومت سره په نېغه رابطه ولري او ملکان او قریه داران

منع کېدل، چې د خلکو او حکومت ترمنځ واسطه اوسي.(۳۸) لامهمه دا ده چې د پاچا امان الله په اولو کلونو کې دننه په وطن کې ډول ډول محصولونه چې حکومت د امیر عبدالرحمن په وخت کې او له هغه نه وروسته ټولول، لغو یا لږ شول او ډېر داخلي ګمرکونه له منځه یووړل شول. داسې هم باندنۍ سوداګري د پاچا امان الله په وخت کې ښه وده وکړه، په تېره بیا وروسته له هغه چې جرمني، پولېنډ او په اولو کلونو کې شوروي ـ افغان سوداګرو ته په خپلو ملکونو کې د ازاد ترانزیت امتیاز ورکړ او افغانستان له ډېرو هېوادونو سره د جرمني، شوروي او هندوستان په ګډون د سوداګرۍ تړونونه وکړل. ددغو ټولو سمونونو او نوښتونو له امله پولي پانګه په پراخه اندازه په کار ولوېده او ډېره شوه او شرکتونه او د لګښتي مالونو لپاره یو شمېر فابریکې جوړې شوې او نورې یې د جوړېدلو په حال کې وې.

افغانستان د پاچا امان الله په واکمنۍ کې په دې پیل وکړ، چې پولي پانګه ورو ته د پانګو اچولو ډګر تر هر بل وخت نه په پراخ ډول برابر کړي او هېواد د پانګه والۍ په درشل کې ودرېږي. غبار دغو ټولو سمونونو ته تفصیل ورکړی، خو هغه د اولې او دوهمې دورې سمونونو ترمنځ توپیر نه دی کړی. اساسي ټکی دا دی چې په دغو سمونونو سره دغسې ازاده فضا مېنځ ته راغله، چې د هغـ له امله په

تولیز ډول په ټولنې او په ځانګړي ډول په متشبثانو کې د بزنس کولو قوي حرکت پیدا شو او دولتي عایدونه په یوه کال کې (کال معلوم نه دی) له ۸۰ ملیون روپیو نه ۱۸۰ ملیون ته جګ شول.(۳۸)

کومو سمونونو چې په خپله خلك په نېغ ډول وښورول، هغه د ټولنې د مدني کولو او د عصري پوهنې د خپرولو په مقصد هڅې وې. دغه هڅې د دوو اصلونو له مخې کېدلې: یو دا چې "عایدونه باید وګټل شي" او بل دا چې ټول افغانان د قانون له نظره سره برابر دي. د لومړي اصل له مخې هغه معاشونه چې دولت پخوا مخورو خلکو لکه خان، ملك، پیر، ملا او د کابل محمد زیو ته ورکول، ودرول شول یا لږ شول. په افغانستان کې ملایانو، پیرانو او سیدانو ته د دولت له خوا مواجب ورکول د مغلو له وخت نه راهیسې یوه عنعنه وه. ملایانو داسې ګڼله چې د شریعت له مخې دا د دوی حق دی، خو امیر عبدالرحمن هغو ته معاش ورکول په دې پورې وتاړه، چې هغوی دې په دیني چارو کې د ملا خوسه په سروالۍ کمیسون ته ازموینه ورکړي او هغوی چې بریالي کېږي، دولتي کارونه ترسره کړي. سیدان یې اړ کړل چې د مغلي حکومت هغه فرمانونه وښیي، چې د هغو له مخې دوی مواجب ترلاسه کول. یوازې یو څو تنو دغسې فرمانونه وښودل. په نتیجه کې د دواړو ډلو شمېر په افغانستان کې تر پخوا نه لږ او نفوذ یې هم کم شو.(۳۹)

خو ددې پرخلاف امیر عبالرحمن د غلزیو له پاخون نه وروسته د کابل محمدزیو هر نارینه او ښځې ته مواجب ومنل او محمدزیان یې د دولت شریکان وبلل.(۴۰) داسې یې هم د خوانین ملکي په نامه هغو اطرافي قومي مشرانو او خانانو ته د پخوا په شان معاشونه ومنل، چې دولت ته یې په اضطراري جنګي حال کې جنګي مېړونه ورکول او سروالي یې کوله.(۴۱) نو دولت د پاچا امان الله تر وخته پورې دغو ډلو او داسې هم نورو ته مواجب ورکول، بې له دې چې د دولت لپاره په منظمه توګه کار وکړي. دا چې پاچا امان الله ددغه اصل له مخې چې عایدونه باید وګټل شي، ددغو ډلو او کسانو دایمي معاشونه ودرول یالږ کړل د هغو روغ نیتي یې د ځان په اړه له مېنځه یوړ، خو ده د ټولنې د مدني کولو په لور کوښښونو کې چې وګړو ته یې د جنس، قوم، مذهب له توپیر پرته برابر حقونه ومنل، د ولسي خلکو روغ نیتي وګاټه.

په افغانستان کې دولت د پاچا امان الله تر وخته پورې، خلك رعیت ګڼل یانې هغسې خلك چې د رمې په شان راعي او شپانه ته اړه لري او له منل شویو حقونو او ازادۍ نه بې بهرې وي. پاچا امان الله په نظامنامه اساسی یا اساسي قانون کې چې په کال ۱۹۲۳ کې لویې جرګې په پغمان کې پاس کړ، د هېواد وګړو ته دغه حقونه ومنل:"تمام مردم افغانستان نزد دولت حقوق مساوی دارند"، "تمام مردم

افغانستان دارای ازادی های فردی اند و از هر گونه تجاوز بر ازادی های دیگران منع میباشند"، "حریت فردی از هر گونه تعرض و مداخله مصئون است.... هیچکس جز بآساس حکم فیصله محکمه شرعی و نظامات مقننه توقیف یا مجازات نخواهد گردید." دا هم ومنله شوه چې "اسایشگاه و منازل تمام اتباع افغانستان واجب الحرمت است." دا هم ومنله شوه چې "مصادره اموال و کار اجباری کاملاً منع است" او "تمام انواع شکنجه ازین ببعد منع است."(۴۲)

دغه حقونه د کاغذ پرمخ تش توري نه وو. غبار لیکي چې:

"روح این مواد قانونی آن بود که در عمل مورد تطبیق قرار داشت و از لوث ریا و مردم فریبی و کذب و نقاق مبرا بود. چنانکه مراسم مذهبی و تکیه گاههای پیروان مذهب امامیه عملاً ازاد شد و بردگان هزاره میراث دوره امیر عبدالرحمن خان از بردگی نجات یافت... در مجالس مشوره ولایات قندهار و غزنی و جلال آباد و انجمن معارف کابل یک یک نفر نمایندگان انتخابی هندوهای افغانستان شامل و در امور اداره سهیم گردیده قید رنگزرد از دستار و معجز هندوها با

باقیات پول جزیه... مرفوع گردید و اولا
دهند و در مدارس ملکی و نظامی... و
افسری در اردو قبول شد."

دی په پای کې وایي چې :"دیگر تبعیض و تفریق از نظر نژاد و زبان و مذهب و قبیله وجود نداشت... و ملت حقوقاً مساوی شد."(۴۳)

د ټولنې په نورو برخو په تېره په پوهنیزو او کلتوري ډگرونو کې پاچا امان الله دغسې علاقمني وښودله، چې تر هغه دمخه یا تر هغه وروسته بل افغان واکمن ښودلې نه وه. څنگه چې دی د هېواد د پرمختیا په فکر و، د پوهې او پوهنې عملي ارخ ته ځیر او پردې معتقد و، چې "سعادت های دیني و دنیوی مربوط بداشتن علم و عرفان است. تا عالم نه شوید هر چند برای نام افغان و مسلمان باشید کاری را از پیش برده نمیتوانید و از جال مکر و فریب دشمنان شرف و تعالی خویش نجات یافتن مشکل است."(۴۴) ده پوهه او پوهنه یوازې د نارینه لپاره نه بلکې د ښځو لپاره هم غوښتله او ویل یې چې "داشتن علم و کمال یک برابر بالای مرد و زن از طرف خداوندج فرض است و بدین امر خداوندی تمام علما و دانشمندان شما اطلاع دارند، پس مساویانه در تعلیم پسران و دختران خویش بکوشید."(۴۵)

پاچا امان الله سواد د پوهې او فن کلي او پوهنه د

پرمختګ كلي ګڼله. په كندهار كې يې خلكو ته په يوې وينا كې ووېل، چې "بمجرديكه اولاد شما خواننده و نويسنده شدند ګويا كليد تمام علوم و فنون را يافتند و پس از ان براى آنها بسيار سهل و اسان است كه هر علم و فن را كه خواهش داشته باشند در ديګر مكاتب عالى تحصيل كنند."([۴۶]) په بل ځاى كې د پوهنې ښوونې په دې ډول ستايي: "چيزيكه در دين و دنيا براى شما فايده ميرساند و شما را از مذلت و خوارى دينى و دنيوى نجات ميبخشد همين معارف است."([۴۷])

د افغانستان د عصري پوهنې بنسټ په كابل كې په ۱۹۰۳ كې د حبيبيې ښوونځي په پرانستلو سره د امير حبيب الله په وخت كې ايښودل شوى و، خو امان الله عصري پوهنه ښه پراخه كړه. پوهنه د پخوا په شان وړيا او لومړنۍ زده كړه د اساسي قانون له مخې جبري وه. په دغې لارې كې ډېرې پيسې لګېدلې او د پوهنې بودجه د حربي وزارت او دربار نه وروسته په دريمې درجې كې وه او د زده كړې ورونه د هېواد د ټولو هلكانو او نجونو پرمخ د جنس، قام ولۍ او مذهب له توپير نه پرته خلاص وو. د امان الله د واكمنۍ په لړ وخت كې په ښارونو او ولايتونو كې ډول ډول ښوونځي پرانېستل شول. د غبار په وينا:

"در پاى تخت بعلاوه ليسه حبيبيه،
ليسه هاى امان و اماني توسط پروفيسران

فرانسوی و جرمنی و استادان داخلی تاسیس گردید. مکاتب رشدی غازی، رشدیه استقلال، تیلگراف، رسامی، نجاری، معماری، السنه، زراعت، دارالعلوم عربی، رشدیه مستورات، رشدیه جلال آباد... رشدیه قندهار، رشدیه هرات، دارالمعلمین هرات، رشدیه مزار شریف، رشدیه قطغن، مکتب پولیس، موزیك، قالین بافی، ارچتك [معماری]، تدبیر منزل زنانه، مکتب طبیه، مستورات و بیش تر از ۳۲۲ باب مکاتب ابتدائیه در تمام ولایات باز شد. تعداد طلبه مکاتب ابتدایی (تا سال ۱۹۲۷) به پنجاه و یك هزار نفر رسید. در لیسه ها و مکاتب رشدی و مسلکی (سه هزار) طلبه تحصیل میکرد و این غیر از مدرسه نظامی بود."(۴۰)

داسې هم روغتیايي چارو ته توجه وشوه او ملکي او نظامي روغتونونه جوړ شول. په کابل او اطرافي ښارونو کې حکومتي او غیر حکومتي خپرونې هم ووتلې، چې د انیس خپرونه تراوسه هم چلېږي.

د سمونونو په پلي کولو سره لګښتونه هم ډېر شول. نوي لګښتونه په نویو ودانیو، روغتونونو، په خارج کې په

سفارتونو او قونسلګریو، د وسلو او الوتکو په رانیولو او باندنیو متخصصانو ته په معاش ورکولو باندې کېدل، چې په ټولیز ډول حکومتي لګښتونه په عایدونو سره که څه هم تر پخوا نه ډېر شوي وو، نه پوره کېدل. حکومت د لګښتونو د لږولو لپاره په نفوذ منو ډلو باندې مواجب ودرول، چې د مخنه پرې غږېدلی یم. ممکن د لګښتونو د لږوالي له امله به وي چې پاچا امان الله پوځ کم کړ او د :"نموني قطعې" په نامه یو نوی نظامي واحد جوړ شو، په دغه فکر چې هغه به وکولی شي د بدامنۍ پېښو ته ځواب ورکړي. پاچا په دې فکر و، چې نور نو له باندې نه افغانستان ته خطر متوجه نه دی او دغه لږ شوی پوځ به چې هوايي قوه به يې ملګرتوب کوي، دننیو ناکراریو ته ځواب وويلی شي.(۴۹)

د لګښتونو د لږولو په لړ کې د افسرانو د یوې میاشتې معاش کټ شو، په دې نامه چې حکومت له باندې نه نظامي الوتکې په بیه اخلي. په عین حال کې په دې لنګر واچول شو، چې نه ورکړل شوي مالیات په ټینګه ترلاسه شي او د اته کسیزې (هشت نفري) عسکري جلب طرز عملي شي او شتمن ونه شي کولی خپل خپلوان د عوض په ورکولو سره له نظامي خدمت نه بچ کړي. له دغو ټولو تجویزونو سره سره چې ځینې ډلې يې وپارولې او نورې يې خوښې کړې، د حکومت لپاره ګرانه وه چې خپل سمونونه په اوږدې مودې کې په خپلو عایدونو سره عملي کړای شي، حتی که نابېره

امنيتـــي پېښـــې د لارې خنـډ هــم نــه وې، بيــا هــم کــه لــوړ حکـومتي غـړي په سمونونو معتقـد، پـه خپلـو کـې يـو مـوټی او د پاچـــا رښتينـــي مرســـتيالان وای، حکومـــت بـــه نويـــو راهســـکېدونکو پېښـــو تـــه اوږه ورکـــړی او شـــايد پـــرې غالـــب شوی وای، خـو نـه يـوازې چـې دغسـې ونـه شـول دوی پـه فکـري او شخصـي لحـاظ پـه دغسـې ډلـو او کـړيـو ويشـل شـوي وو، چې د يوه او بل پر ضد يې دسيسې کولې.

## سياسي ډلگۍ او دسيسې:

پــه لــوړې حکــومتي ســويې د ســاتنپالو (محافظــه کــارو) او نوښــت او اوښتــون غوښتونکــو تــرمېنځ درز و. صـــدراعظم، ســردار عبدالقـدوس او د بانـدنيو چـارو وزيـر، محمـود طـرزي ددغــو دواړو ډلــو ښکارنــدويې کولــه. لومــړنی چـــې د اميـــر عبــدالرحمن د وختــو مــامور و (د زوکــړې کــال ۱۸۴۰)، پــه دغـه فکـر و، چـې "از طـرف شـرع انـور مشـروطه طلبـان را بايـد واجب القتـل" دانسـت. دده پـه انـد "مشـروطيت" هسـې غولـول دي او "بــه حکـم شـرع بايـد ميکـروب مشـروطه از بـين بـرده شـود."(۵۰) ده لا پـه کـال ۱۹۲۰ کـې خپـل دغـه فکـر د کابـل د شـــور بـــازار حضـــرتانو يـــانې شـــمس المشـــايخ مجـــددي او نورالمشـايخ مجـددي تـه پـه يـوې اوږدې استفتايې کـې څرگنـد کـړی و. تـر هغـه دمخـه يـې د کنـدهار لـه عالمـانو څخـه هـم پـه دغــه اړه فتــوا غــوښتې وه، خــو وروســتيو کــه مشــروطيت رد

كړې و، د مشروطه غوښتونكو له مينځه وړل يې هم رد كړي وو. صدراعظم عبدالقدوس كه څه هم د عمل سړى نه و، سره له دې هم د هغه استفتا او سلوك د شوربازار حضرتان او مذهبي عالمان په هماغه اول سر كې نوي توب غوښتونكو او سمونونو ته بدورګي كړل، چې وروسته د هغو نظرونو او كړو سختې پاروني وكړې. درز يوازې د ساتنپالو او بدلون غوښتونكو ترمينځ نه و. د بدلون غوښتونكو ترمينځ چې تاريخ پوه غبار يې "روښانفكران" بولي، هم مخالفتونه او دسيسې وې چې له هغو نه راپيدا وراني په خپله نظام ته متوجه شو.

د پاچا امان الله د واكمنى له پيل نه سياسي ډلې هسكې او فعالې شوې، كه څه هم هغه د قانون له مخې مجازې نه وې. پاچا په عمل كې د هغو لپاره ډګر هوار كړى و، په دې چې هغه د خپل پلار او نيكه د وختو خپه كوونكې فضا د ازادۍ په فضا سره بدله كړې وه، خو د هغو په هكله د غبار او منشي علي احمد ليكنې، چې د هغه وخت خلك وو، سره سر نه خوري. له دغو سياسي ډلو نه مهمه يې د جمهوريت ډله وه. د منشي علي احمد په وينا:

"په كابل كې يو شمېر كسان چې زده كړه يې كړې او په بانديو هېوادونو كې ګرزېدلي وو، د محمد ولي په ګوند كې په پټه ننوتل او د افغان جمهوريت جوړولو په

امکانـاتو بانـدې يـې پـه پټـه بحثونـه کـول. پـه هغــو کــې دغــه کســان وو: غــلام صــديق [څرخــي]، عبــدالهادي خــان [داوي]، حبيــب الله خــان (د حــرب وزيــر مرســتيال)، عبـدالرحمن خـان لـودين، علـي محمـد خـان، ميـرزا محمـد خـان، ميـر سـيد قاسـم خـان، ځيـنې نظـامي افسـران او هـم ځيـنې غيـر مهـم کسـان لکـه ميـر غـلام محمـد او نـور. شـجاع الدولـه خـان او محمـد يعقـوب خـان (د دربـار وزير) هم په دغه ګوند کې وو."(۵۱)

غبـار بيـا د حـزب نقابـدار تـر نامـه لانـدې لـه جمهوريـت غوښتونکــو نــه غړيــږي او ســخت يــې غنــدي او وايــي، چــې هغـوی پـه اصـل کـې د دموکراسـۍ او جمهوريـت دښمنـان او د نورو په خدمت کې وو. ده هغوی "انقلابي" ګڼل.(۵۲)

غبـار لـه يـوې بلـې سياسـي کـړۍ نـه هـم غړيـږي پـه نامـه د "جوانـان افغـان" چـې د هغـه پـه وينـا "مـرام تنـد تـر و جنبـه دسـت چپــی داشــت."(۵۳) خــو دی ددغــو ډلــو پــه هکلــه دوه ډولــه غړيـږي: د نقابـدار حـزب د غـړو نومونـه هيـڅ نـه اخلـي، پـه داسـې حـال کـې چـې د جوانـان افغـان نومونـه اخلـي او پـه هغـو کـې خپـل ځـان او لـودين هـم ښيـي. منشـي علـي احمـد بيـا د جمهوريـت پـه ګونـد کـې د ميـر غـلام محمـد د نامـه ذکـر کـوي، چـې هغـه ممکـن همدغـه غبـار وي، چـې پـه هغـه وخـت کـې مهـم

شخص نه و. دی د افغانستان یو لوی تاریخ پوه دی، خو دی د ژوند تر پایه پورې یو سیاسي شخص هم و. دغه واقعیت د منشي علي احمد د لیکنې پلوه درنه کوي. په هر حال د دواړو په لیکنو کې د جمهوریت، انقلاب او چپې کلمې ښیي چې مفهومونو یې د هغه وخت په تعلیم کړو او حکومتي مامورانو کې نفوذ کړی و، چې هغه به په غالب احتمال د بلشویکي انقلاب له امله و.

د منشي علي احمد لیکنه له دې امله هم مهمه ده، چې د جمهوریت د ډلې فعالیتونه او د هغې د غړو دسیسې بیانوي چې په نظام یې ناوړه اغېزه وکړه. د هغه په وینا "دغه ګوند دغې نتیجې ته ورسېد چې د پوځ له مرستې نه پرته دوی به په مقصد ونه رسېږي او د مصطفی کمال او رضا خان پهلوي مثال د دوی په مخ کې و، نو دوی پرېکړه وکړه چې نادر خان چې د جنګ وزیر و، له ډګر نه وباسي او محمد ولي یې پرځای د جنګ وزیر کړي. دا به نو بیا د دوی د نورو پلانونو لپاره د توپ تخته وي." (۵۴)

دوی د محمد نادر پر ضد په دسیسو لاس پورې کړ او پاچا امان الله یې په دې قانع کړ، چې هغه او ورور یې محمد هاشم د هغه د خور، نور سراج پر سر له هغه نه اوښتي او په دې لټه کې دي، چې هغه خپله کړي او که هسې ونه شول په دغې لار کې خپل ځانونه یا امان الله ووژني. دا هغه وخت و چې امان الله له خپل لوظ نه اوښتی

و چې خپله دغه خور سردار محمد هاشم ته په نامه کړي. په عین حال کې دسیسه ګرو محمد نادر ته ورسوله چې امان الله خپله دغه خور د کورنیو چارو وزیر عبدالعزیز ته په نامه کوي. دسیسه ګر په دې ډول په دې بریالي شول چې امان الله ته د محمد نادر وفا لړل خنثی کړي او امان الله له هغو نه بېګانه کړي. دسیسه ګرو محمد نادر ته وروسته له هغه چې هغه د خپل ځان په اړه د امان الله په اوړېدلي سلوك خبر شوی و، دا هم ورسوله چې امان الله د هغه له ډېرېدونکي نفوذ نه اندېښمن دی او په دې لټه کې دی، چې نسکور یې کړي. دسیسه ګرو په عین حال کې یو سړی وګماره، چې په محمد نادر باندې ډزې وکړي. هغه پرې ډزې وکړې او محمد نادر هغه د امان الله په لمسوني وګڼلې او ځان یې د ناروغ په پلمه په کور کې ایسار او د جنګ له وزارت نه ګوښه کړ. هغه د خوست تر بلوا پورې په کور کې و، خو په بلوا کې یې لاس نه درلود په داسې حال کې چې مخالفانو یې پاچا ته رسوله، چې هغه پکې لاس لري.

پاچا امان الله محمد ولي اول د حرب وزارت مرستیال او وروسته وزیر وټاکه او محمد نادر ته یې اجازه ورکړه، چې اروپا ته لاړ شي.(۵۵) د جنګ له وزارت نه د محمد نادر په لیرې کولو سره چې مسلکي او جنرال و او پرځای یې د محمد ولي په ټاکلو سره، چې یو غیر مسلکي مامور و پوځ غتېه صدمه ولیدله، چې وروسته به په دغه موضوع باندې

نور هم وغړېږم. غير له هغه هم د خوست له ياغي ګرۍ نه رومبی د پوځ وضع خرابه شوې وه.

د مهتاب قلعه له قطعه نمونه سره ډېر افسران مخالف وو او هغوی د هغې په مقابل کې د "نمونه شکن" په نامه بله قطعه جوړه کړه، ترڅو چې لومړنی د خوست له ياغي ګری نه وروسته له مېنځه لاړه او پوځ د پخوا په شان ابترپاتې شو، خو اساسي مخالفت د حکومتي لوړو کسانو و. د غبار په وينا:

> "از مطالعه اين جريانات فهميده ميشود که در کابينه افغانستان چگونه اختلاف نظر در مورد سياست داخلی و خارجی موجود باعث ضعف دولت جوان افغانی ميگرديد. نه انکه صدراعظم با وزير خارجه و شخص شاه اختلاف نظر اساسی داشت بلکه در حکومت مرکزی و ولايات کشور يك قسمت عمده مامورين دولت با طرح های جديد دولت مخالف و يك قسمت ديگر بدشمن حکومت تبديل شده ميرفتند."(۵۶)

## د خوست ياغي توب:

د خوست ياغي توب د ملا عبدالله چې په ګوډ ملا

یادېده او ملا عبدالرشید په سروالي. او د ځدرانو او منګلو په ملاتړ د ۱۹۲۴ کال په مارچ یانې پسرلي کې پیل شو او نږدې یو کال اوږد شو. نور قومونه ورو ورو ورسره ملګري شول او یاغیان پردې بریالي شول، چې ګردېز، تېره کنډو، لوګر له حکومتي قوتونو نه ونیسي. وروسته د غزني یاغیان هم ورسره مل شول او د وردګ تر شیخ اباد پورې ورسېدل. کابل په دې ډول د لوګر او وردګو له خوا تر خطر لاندې شو. په کاپیسا، پروان او ننګرهار کې د حکومت پر ضد تبلیغونه وشول او یوځای بل ځای داړه ماران هم هسك شول. یاغیان پخوا له دې چې د حکومت پر ضد له وسلو نه کار واخلي له حکومت نه وغوښتل چې هغه قانوني مادې بدلې کړي، چې د دوی په فکر د اسلام مخالفې وې. پاچا دوی ته په ځواب کې وویل، چې دغه قانونونه دیني عالمانو منلي او دوی دې کابل ته د خبرو دپاره راشي. یاغیانو د پاچا بلنه رد کړه. پاچا بیا یو لوړ رتبه هیات یاغیانو ته واستاوه، خو هیات هم کومه ونکړه. پاچا وروسته په اوړي کې پغمان ته لویه جرګه وبلله، چې د هغې له لارې د یاغیانو په مقابل کې ولسي ملاتړ وګټي. جرګې هم د یاغي ګړی په غلي کولو کې اغېزمن څه ونه کړای شول. خو د سمونونو یو څه یې واړول او نور یې لغوه کړل.

د یاغي توب په بهیر کې د حکومتي پوځونو او یاغیانو ترمېنځ یوځای بل ځای ډېرې خونړۍ نښتې وشوې او بیخي

ډېر افغانان په دوارو خواوو کې ووژل شول. د جان فدا په نامه له یوه اته سوه کسيز پوځي واحد نه یو هم ژوندی پاتې نه شو. پوځي واحدونه د شخص پاچا نه پرته د حکومتي لوړو ملکي او نظامي کسانو په قومندانۍ له یاغیانو سره وجنګېدل او حکومت د لومړي ځل دپاره د یاغیانو په مقابل کې له یو څو نظامي الوتکو نه هغه هم د باندنیو په پیلوټۍ کار واخیست. نه یوازې د حرب وزیر محمد ولي، بلکې څلور اتیا کلن پخوانی صدراعظم سردار عبدالقدوس هم قومنداني کوله. نښتې وروسته له هغه د حکومت په بري تمامې‌دلې. چې په افغانانو کې دغه فکر بیخ ونیو، چې سردار عبدالکریم انګرېزانو افغانستان ته رالېږلی دی. دغه سردار چې د پخواني امیر محمد یعقوب د یوې وینځې زوی و، د اګست په میاشت کې په داسې حال کې چې جنګ په تینګه روان و، له هندوستان نه منګلو او ځدرانو ته ځان ورساوه، په دغې هیلې چې له یاغي توب نه په ګټه اخیستلو سره د افغانستان پاچايي ترلاسه کړي. له هغه وروسته و، چې د افغانستان ډېرو قومونو د حکومت خوا ونیوله. د جنورۍ په میاشت کې هندوستان ته د سردار عبدالکریم په تښتېدلو او له هغه زر وروسته د ګوډ ملا او ملا عبدالرشید په نیول کېدو سره یاغیان وخپل شول. (۵۷)

د خوست یاغي ګري په خپل ډول کې بېسارې وه، خو چا د یاغیانو غوښتنې په ګوته کړې نه دي، چې د هغو له امله

یې په یاغي توب لاس پورې کړ. غبار دغومره وایي چې د یاغي توب هغو دوو ملایانو "طی یاد داشتی تعدیل بعضی مواد قانونی جزایی عمومی را که مخالف شریعت میدانستند از شاه طلب نمودند."[58] که د یاغیانو غوښتنه یوازې د جزایي قانون د یو څو مادو اړول وای، جنګ به بس شوی وای، په تېره وروسته له هغه چې لویې جرګې ځینې قانونونه واړول او نور یې لغوه کړل. غبار په بل ځای کې دا هم وایي چې:

"مقدمه این اغتشاش در پکتییا از مدت ها قبل در ولایات پکتیا چیده میشد خصوصاً که مردم از شاه بواسطه دست کشیدن دولت از معاونت و حمایت مردم سرحدات ازاد در مقابل انگلیس رنجیده بودند. بعضی ملاها و خان ها هم که بواسطه از دست رفتن امتیازات خود از دولت متنفر بودند ازین انزجار مردم و روش بیخردانه حکومت پاکتیا سوء استفاده کرده رهبری اغتشاش را بدست گرفتند."[59]

د یاغي توب اصلي محرکونه تر دې نه ډېر زور دي او هغو د جنګي وضع په اوښتو سره نوي اړخونه پیدا کول ان تر دې چې ملا عبدالله په لوګر کې د پاچا هیات ته د هغه د

ګوښه کېدو غوښتنه هم وکړه.(۶۰) په دغه وخت کې د ښځو موضوع هم هغسې توده نه وه چې وروسته شوه، که څه هم د ماشومې نجلۍ د نکاح د منع اعلام خلک پارولي وو. د یاغیانو د یاغي توب محرکونه د اعتراض کوونکو په دغې جملې کې غونډېدلی شي، چې ویل یې "قانون ناسخ مذهب است."(۶۱) مانا دا چې ټول هغه قانونه چې د پاچا امان الله په نوښت ایستل شوي دي، د اسلامي شرع پر ضد دي. ددغه ټکي د ښه پوهېدلو دپاره به د هغه وخت د ټولنې په اړه یو څه ووایم.

د هغه وخت افغان ټولنه په ټینګه سنتي او نږدې ټوله نالوستې وه. د هغې ډېرو لږو سواد لرونکو اوښتون غوښتونکي لرل، خو د هغو شمېر بیخي لږ و. په دوی کې مشروطه غوښتونکي یا د قانوني حکومت غوښتونکي چې غبار یې روښان فکران ګڼي، لا د ګوتو په شمار وو، خو دوی په ټولیز ډول د ښاري شویو اطرافیانو او ښاریانو د غېر متجانسې ډلې په شان په ولسي ملاتړ باندې حساب کولی نه شو. دوی چې کوم نفوذ او اعتبار لاره هغه یې د حکومتي چارواکو په توګه لاره. نو د دوی نفوذ د حکومت د پیاوړي توب یا نا توان توب په تناسب و او چې ټولنه ناکاره کېدله، دوی هم ناتوان او بې اغېزې کېدل. د دوی په برابر کې د اوښتون مخالفان یا ساتنپالان وو، چې هم بیخي ډېر وو او هم یې له ولس سره یوځای د عنعنوي دودونو او چلندونو له

مخې ژوند كاوه. ځينې دودونه لا داسې ګڼل کېدل، چې لکه د دين برخې وي. اسلامي شرع د دغسې ذهنيت په جوړېدلو كې اغېزمنه برخه لرله او اسلام په ټينګه هم دين او هم دولت ګڼل کېده. دا د ټولو خلكو ذهنيت او د ملايانو، پيرانو او سيدانو ټينګه عقيده وه.

دغه ډله خلك چې په عمومي ډول د امير عبدالرحمن په وخت كې له خپل عنعنوي نفوذ نه بې برخې شوي وو، د پاچا امان الله په وخت كې په خاص ډول په سرحدي سيمو كې د انګرېزانو په نظامي عملو سره بېرته د خپل عنعنوي نفوذ خاوندان شوي وو. پاچا امان الله د ټولنې د مدني كولو او عصري كولو لپاره مجبور و چې نوي اداري، اجتماعي، حقوقي او داسې نور قانونونه وباسي. خو مذهبيانو او روحانيانو هغه د اسلامي شرع مخالف وګڼل او خلك يې د هغو پر ضد ولمسول، كه څه هم پاچا دغه قانونونه د قانون پوهانو او ولسي استازو په مشوره ايستلي وو، نه په پاچايي فرمانونو سره. د قانون مخالفان حاضر نه وو يا په دې نه پوهېدل، چې د اجتماعي دودونو او اسلامي شرع ترمېنځ توپير وكړي، په داسې حال كې چې دغه قانونونه د اجتماعي دودونو ماتونكي وو، نه د اسلامي شرع او په خپله پاچا. يو رښتينى مسلمان او د اسلام ټينګ دفاع كوونكى و. دا هم واقعيت دى چې د ټولنې نفوذ ناكې ډلې د خپلو عنعنوي مادي امتيازونو په بايللو سره يا ناراضې

شوې یا پاربدلې وې. په دې اړه د یوه مذهب پوه وینا صدق کوي، چې وايي "څه وخت چې کشالې پیدا کېږي، هغه نړدې ټولې په اصل کې سیاسي، اقتصادي او اجتماعي وي. بیا زیاتره وخت هغوی چې غواړي کشاله توده وساتي زاره مذهبي اختلافونه رامېنځ ته کوي، چې هغه لکه د هرې بدۍ علت وي. دوی خپلو موکلانو ته په یاد راوړي، چې که دوی په رښتیا غواړي وفا لرونکي پاتې شي، تر هغو به ارام ونه کړي، ترڅو عقیدې ته هر پخوانی سپکاوی سم شوی نه وي."([62])

په دې کې شك نه شته چې دولتي مامورانو به د قانونو په عملي کولو او په عمومي ډول له دولتي قدرت نه ناوړې ګټې ترلاسه کړې وي، خو دغو ټولو ته په وسلې سره ځواب ورکول، هغه هم په هغه ډول چې په هغو سره په زرګونو افغانان ووژل شي او ټولنه په ژور ډول زیانمنه شي، ډېره غټه ملي تېروتنه وه. د یاغیانو بله غټه تېروتنه دا وه چې دوی په خبرو سره د کشالې د هوارولو لپاره د پاچا وړاندیزونه ونه منل. دوی د لویې جرګې هغو پرېکړو ته هم ارزښت ورنکړ چې له اساسي قانون نه پرته ډېر قانونو او سمونونه یې واړول. د هغو پرځای دوی تر پایه په خپلې یاغي ګرۍ باندې ټینګ ودرېدل، ترڅو په وچ عسکري او قومي زور سره وځپل شول.

د لویې جرګې پرېکړې غبار په دغه ډول بیانوي:

"تعزيـر بالمـال و جـزای مقـدر و تحصـيل زن در مدرسـه لغـو شـد ، نکـاح دختـر صـغيره جـايز گرديـد ، صـلاحيت قاضـی در تعزيـرات مسـلم شـد ، کشـتن سـارق در تکـرار عمـل واجـب و اثـار توبـه و صـلاح در پيشـانی جـانی باعـث تقليـل مجـازات گرديـد. در محـاکم مـامورين دولـت، شـرکت قاضـی و مفتـی اجبـاری شـد ، بـرای تحصـيل السـنه خـارجی در مدرسـه خوانـدن عقايـد و دينيـات محصـل تاکيـد گرديـد ، گماشـته شـدن محتسـبين بـرای احتسـاب لابـدی شـد ، تنظيم امـور مـلا و مـوذن بـر ذمـت دولـت گذاشـته شـد ، کلمـه ازادی فـردی منحصـر بـامور شخصـی گرديـد نـه در امـور سياسـی و عقيـده وی، قيـد داشـتن تـذکره تابعيـت و نفـوس در امـور شرعی لغـو شـد ، نکـاح نمـودن مـرد تـا چـار زن بـدون قيـد و شـرط ازاد گذاشـته شـد ، خـدمت کـردن در زيـر پـرچم بـادادن وجـه نقـد عـوض خـدمت کـردن منظـور گرديـد ، تاسـيس دارالعلـوم عربـی حتمـی شـد ، همچنـين موجوديـت مکاتـب حفـظ قـران تضـمين گرديد."(۶۳)

د یاغیانو په وسله وال ځواب سره په افغان ټولنه کې د بدلون غوښتونکو او ساتنپالو ترمنځ ژور درز پیدا او ټکر پېښ شو. په دغه ټکر کې بدلون غوښتونکو لوبه بایلله. خو دا هسې بایلل وو چې لکه په جنګ کې یوه خوا په نښتو کې وټکوله شي، خو په پای کې هماغه خوا جنګ وګټي. په دې حساب پاچا امان الله چې په هغه وخت کې مات شو، په پای کې بریالی دی. د هغه سمونونه د راتلونکې نه رفع کېدونکی ځپې دي، خو د حېرانۍ ځای دی، چې ده له خپلې دغې ماتې نه زده کړه ونه کړه او ځلور کاله وروسته یې په دغسې نویو سمونونو لاس پورې کړ، چې تر هغو نورو یې لا ډېرې پارونې وکړې.

## د پاچا امان الله سفرونه:

### الف: کندهار ته:

پاچا امان الله د پکتیا له پېښې نه وروسته اداري چارو ته ډېر ځیر شو. د چارو د سمولو لپاره یو څو ولایتونو ته هم لاړ. امان الله چې په نه ویشت کلنۍ کې پاچا شوی و او دغه وخت (۱۳۲۵) د پنځو دېرشو کلونو و، د ځوانۍ په جوش کې و او ډېر ډینامیك او وطن ته په کار او خدمت کولو مین و. ویل به یې چې "از خدمت بوطن بالاتر عشقي ندارم."([۶۴]) په کابل کې د انګلستان د ډېلي مېل استازي.

رولینند وایلډ د هغه کار او مینه په دې ډول یادوي: "هغه به تر امیر نه زیات وي، هغه به یو حکم چلوونکی وي او په هرې ځانګې باندې به ګوته ږدي او چې لازمه وي، په خپلې نیوکې کې به ګړندی وي." دی زیاتوي چې د هغه ماموران له یوه نوي ډول څخه وو، ځوانان وو او له نظامي پوځ څخه راوتلي. "له دوی نه غوښتل کېدل، چې د خپل مشر ارمانونه وغواړي او په دې کې شك نه و، چې په کابل کې هغه وخت ځیني دغسې سخت کوښښونه وشول، چې دغسې تېنګ اخلاقي انضباط وساتل شي چې د پخواني تاریخ له کوښښونو سره یې توپیر لاره." سره له دې هم دی وایي چې هر نوی قانون به چې د خلکو د ښېګڼې لپاره ایستل کېده د فساد لپاره به یې نوی ور پرانېسته. "امان الله په نړۍ کې د چلبازۍ له تولو نه ډېر چلباز سیستم سره مخامخ و"(٦٥) په همدغه دلیل به وي چې امان الله که څه هم پاچا و، په اداري چارو کې یې تر دې اندازې پورې ځان ډوب کړ، چې زیاتره وخت به یې تر نیمو شپو پورې کار کاوه. له کار او خدمت سره د هغه مینه د کندهار چارو له پلټلو نه په هغه اثر کې څرګنده ده، چې پاچا امان الله ته منسوب دی او هغه په ۱۹۹۹ کې د محترم حبیب الله رفیع په زیار په ۲۵۰ مخونو کې خپور شوی دی. "د حاکمیت قانون در افغانستان" تر سرلیك لاندې.

پاچا امان الله په کندهار کې په کال **۱۹۲۵** کې **۳۳**

ورځـې تېـرې کـړې او پـه دغـې مـودې کـې یـې د ټولـو رسـمي دفترونـو چـارې پـه خپلـه وپلټلـې. لـه مخـورو او وګـړو سـره یـې لیـدل کتـل وکـړل، پـه جومـاتونو کـې یـې وینـاوې وکـړې، وړو مـامورانو تـه یـې انعامونـه او ترفیـع ورکـړې، د نـاوړو مـامورانو معـاش یـې یـا لـږ کـړ، یـا یـې پـه خپلـه هغـوی موقـوف یـا بنـدي کـړل او پـه ښوونځیـو کـې یـې زده کـوونکي وپوښتـل. "خـودم بالـذات در مکاتـب قنـدهار رفـتم و از هـر صـنف و هـر جماعـه طلبـه آن رقـم رقـم امتحـان ګـرفتم و سـوالات متعـددی از هـر طالـب العلمـی کـه بنظـر دیګـران کنـد ذهـن و غبـی بنظـر مـی امـد میکـردم لـیکن جوابـات بسـیار خـوب و درست از آنهـا مـی شنیدم."(۶۶)

د پـوهنې د زده کوونکـو پـه اړه د پاچـا نظـر ډېـر ښـه و. خـو د هغـو زیـاتره لویـان یـې د پـوهنې دښمـن ګڼـل :"تمـام طلبـه قنـدهار را بـلا اسـتثنی در تعلـیم شـان بسـیار سـرګرم در تحصـیلات از حـد زیـاد کوشـان دیـدم بـا انکـه بـرای آنهـا از طـرف پـدران و امـران و خـان هـا و اعـزه آنهـا کـه اکثریـه دشـمن معـارف هسـتند هـیچ یـك رقـم تشـویق و ترغیبـی نشـده... بـاز هـم بچـه هـای بسـیار خـورد کـه در مکاتـب مـدت کمـی تعلـیم ګرفتـه انـد نسـبت بـه جوانـانی کـه بـه نـزد اخونـدها و ملاهـای روی کوچـه و بـازار ګلسـتان و بوسـتان و مثنـوی را از مـدت زیـادی تعلـیم ګرفتـه انـد خـوبتر و بهتـر و لایـق تـر بنظـر امدنـد."(۶۷) د پـوهنې او زده کـړې د ښـه والـي لپـاره پاچـا

هدایت ورکړ، چې لـه دې وروسته هندو، شیعه او سني زده کوونکي دې عمومي درسونه سره په ګډه او دیني مضمونونه په بېلو ټولګیو کې ولولي او دا چې د کندهار زده کوونکو ته دې په پښتو کې د زده کړې کتابونه برابر شي او د زده کوونکو شمېر دې ډېر شي. پاچا ددغه منظور لپاره د پوهنې لګښت ډېر کړ. پاچا زده کړه د اتحاد وسیله هم وګڼله او ویل یې چې "باید کوشش ما و شما از عالم بودن و دانسته شدن تمام افراد افغانستان باشد اگرچه مسلمان باشد یا هندو و یا دیگر کسی باشد."(۶۸)

د قاضیانو او دیني عالمانو په اړه د پاچا امان الله نظر د هغه له هغې وینا نه څرګند دی، چې د محکمو د چارو په پلټلو سره یې د مرافعې د قاضي په اړه ښوولی و. "قاضي مرافعه یک شخص بسیار چالاك، زبان باز، بد افعال مفسد بود. هر قدر که سعی میشد که تحت کدام مواد جزائیه بیاید مدافعه شرعی و قانونی میکرد." دغه قاضي په اصل کې د تعزیر د اصل له مخې فیصلې کولې، چې جزا یې د پاچا په ژبه "مرتبه تعزیر از پیشانی ترشی و گوش تابی گرفته بحبس و قتل میرسید. حالانکه سابق برین بدون تشکیل یک جرم و قبا حتی که مدار حکم شده بتواند بسا اشخاص تا سال های دراز محبوس میماندند. حتی میمردند و کشته میشدند و مال و هستی شان بتاراج میرسید."(۶۹) د تعزیر د اصل له مخې و چې د مرافعې

قاضــي دغســـې شـخص د ځـان وصــي گمـارلی و. چــې "علـی العمـوم مـردم او را قاتـل موصـی لـه میگفتنـد." پاچـا وایـي چې قاضـي مـې وپوښتـه چـې "چـرا قاتـل را وصـي مقـرر کـرده ائیـد؟ گفـت مـن او را قاتـل نـی بلکـې یـك شـخص متـدین مـی انگـارم. گفـتم بعـد ازیـن کـه عمـوم اهـالی در قاتـل بـودن او همنـوا شـده تمامــاً قتــل موصــی لــه را بــا و نســبت میدهنــد چــرا او را موقـوف نکـردی؟ گفـت، در مسـئله علـم قاضـی شـرط اسـت حال انکه علم من بر وی تا حال نرسیده."(۷۰)

پاچــا ملایــان او خانــان "نــادان" گڼـل او نیـوکې یــې پــرې کـولې. پـه کنـدهار کـې یـې پـه خـپلې لومـړۍ خطبې کـې وویـل چــې "یــك نفــر مــلا برخاســته میگویــد اگــر در قعــده نمــاز انگشـت خـود را بـالا کردیـد کـافر میشـوید و دیگـر آمـده فغـان بـر میـدارد کــه از بـرای خـدا ضـرور در نمـاز انگشـت اشـاره کنیـد و الانمـاز تـان نمـی شـود. یکـی میگویـد اگـر فـلان عمـل را نمودیـد وهـابی میشـوید و دیگـری آمـده میسـراید کـه اگـر بفــلان مســئاله معتقــد نباشــید حتمــاً قادیــانی میشــوید. شـخص عـامی و نـادان حتـی اکثـری از علمـا و خـوانین نـادان نیـز ایـن اخـتلاف افکـار و رنگـارنگی گفتـار را دیـده حیـران و پریشـان میشـود کـه بکـدام عمـل و عقیـده اقـدام کنـد تـا نـزد خالق و خلق نیك نام در دنیا و اخرت شادکام بماند."(۷۱)

خـو پـه کنـدهار کـې د پاچـا پرېکنـده کـړه داړه مـارو او هغـو خانـانو تـه ځیـر وو چـې داړه مـاران یـې سـاتل او کـراري یـې گـډه

وډه کوله او دغسې کسان په کندهار کې لږ نه وو. د پاچا په وینا په کندهار کې " هر خان و ادم معتبر دزد و اشرار و مردم فساد پیشه برای عزت و افتخار نگاه میداشتند تا مردم بگوید که فلان خان دزدهای خوبی دارد."([72]) په دغه حال کې خلك په امن کې نه وو. بیا هم د پاچا په ژبه "قندهار بدرجه بد امن و خراب شده بود که اگر من به مجازات دادن اشرار آن نمیکوشیدم اصلاح آن ممکن نبود... شروع کردم به مجازات و کشتن اهل فساد و مانند قصابها چند روزی متمادیاً قصابی کردم و بدل خود میگفتم که من در قندهار برای کار نی بلکه برای قصابی آمده ام."([73]) له هغه وروسته وچې په کندهار کې کراري راغله، خو د کراره تینگښت د نویو نظامنانو په عملي کېدو سره وشو نه د شریعت له لارې.

پاچا په دې فکر و، چې د شرع په لارې غله او داړه ماران نیول کېدلی او په جزا رسېدلی نه شي. "اگر بهمراه دزد فقط معامله شرعی کرده و بخواهید که بواسطه شاهد دزدی او را ثبوت کنید این امر نهایت مشکل است زیرا در موقعیکه دو نفر شاهد و صاحب خانه موجود باشد چطور دزد میتواند در دزدی خود کامیاب شود و اگر بقسم خوردن و سوگند نمودن اشرار اهمیت بدهیم معلوم است که خودها را بازی داده ایم زیرا اشخاصیکه بر خلاف او امر همان خدای و قرآنی که بر آن قسم میخورد پس از خوردن سوگند آن چطور خود داری خواهد کرد." په دې اړه د پاچا حکم دا و

چې "محاکم عدلیه در باره اشرار و اشخاص مشهور بالفساد ز قراین و امارات و سجل اهالی و دیگر وسایل لازمه کار بگیرد.. و اگر قراین و امارات موجود نبود در باره خوبی و خرابی اینطور اشخاص مظنون از اهالی قریه او سجل خط شرعی بخواهند. اگر عموم به بدی او اقرار کردند قتل [شوند] و اگر مناصفه و یا ثلث بودند از حبس دوام گرفته تا ادنی ترین مراتب تعزیر در باره او اجرا دارند."(۷۴)

د پاچا ددغسې حکمونو او چلندونو له امله به و، چې ځینو مخالفانو قانونونه د شرع مخالف او ایستونکي یې کافران بلل لکه چې پاچا امان الله په یوې خطبې کې وویل، چې "از این اظهارات خلاف حقیقت آنها بسیار تعجب میکنم که چطور من و وکلای شما و وزرای دولت و علمای کابل همه کافر شدند و تنها اسلام و مسلمانی بر همین اشخاص منحصر ماند و بس."(۷۵)

پاچا امان الله د ښار د ستره ساتلو او ښاریانو ته د خدمت کولو لپاره د ښاروالۍ د جوړولو امر وکړ. د قندهار له مشورتي مجلس نه یې ګیله کوله، چې ښه کار یې هیڅ نه دی کړی، خو د هغه زیږې نیوکې په حاکمانو وې. "یک نفر شان لیاقت و اهلیت حکومت را حسب خاطر خواه من ندارند."(۷۶) پاچا امان الله د خپلې پلټنې په پای

کې دې نتیجې ته ورسېد، چې "در قندهار نسبت به دیگر حصص افغانستان کمتر از زراعت استفاده میگیرند. حتی کاه خوراکی حیوانات را که در اکثر جاهای افغانستان به قیمت درستی بفروش میرسد چون در انجا مصرفی ندارد کاملاً در کردها میسوزانند و هیچ یك نوع مدخل برای پول و پیسه که علاوه بر همین امور زراعیه باشد ندارند. (و مردم انجا) در نوکری قدری تنبل و در تجارت و صنعت و حرفت نسبت بدیگران عقب مانده اند. حکومت هم در انجا تا حال به کشیدن کدام سرك و حفر نهر و تعمیرات و اجاره داری ها و امثال آن که سبب تبادله پول باشد اقدام نکرده است."([77])

امان الله که څه هم پاچا و د هغې مینې له امله، چې وطن ته یې په خدمت کولو کې لرله، په کندهار کې یې په واقع کې د یوه پلټونکي په توګه چارې پلټلې، نه یوازې غټې چارې بلکې وړې چارې هم. پلټنه یې د ربړونو په ګاللو سره په مینه کوله په دې هیله چې محلي حکومت او نظام سم کړي او د خلکو په ژوند کې سوکالي راولي، نو ده چارې د یوه خواخوږي واکمن او د یوه متخصص په شان پلټلې. دی په رښتیا چې یو غیر عادي پاچا و او افغانانو دغسې واکمن هېڅ وخت نه دی لرلی.

**ب: بهر ته:**

په کابل کې د پاچا مشاوران او په سر کې محمود طرزي د اروپا له بښکنو نه ډېر غرېدل او پاچا يې هغه لوري ته سفر ته هڅاوه. طرزي ورته دا هم وويل، چې د ايتاليې حکومت دی خپل وطن ته د سفر لپاره بللی دی، خو دا چې دغه بلنه په ربښتيا استول شوې وه، څرګنده نه ده. په هر حال دغه سفر پاچا امان الله ته په زړه پورې و او وزيرانو ته يې په يوې غونډې کې څرګنده کړه، چې:

*"مونږ د دننيو چارو د پرمختګ په اړه ډاډه يو او افغانستان په پوره ازادۍ او خپلواک سره په ښه ډول پرمخ ځي. د هېواد له يوه ګوټ نه تر بل ګوټ پورې له قانونونو څخه اطاعت کېږي. هرڅه په کرارۍ سره پر خپل محور څرخي، نو اوس ما ته ښايي چې اروپا ته په سفر لاړ شم او بېرته له ځان سره د خپل ګران وطن د پرمختګ لپاره د څيزونو په بڼه د نوي د خلکو د چلندونو او رواجونو پوهه راوړم. زه به تجربې ترلاسه کړم او د ډول ډول څيزونو د جوړولو لپاره به فابريکې جوړې کړم. روسيې د لوی پيتر تاريخ ته يوه کتنه به*

*ونيسي، چې هغه د دننيو سمونونو له کولو نه وروسته متمدنو هېوادونو ته لاړ او د هغو پرمختيايي لارې يې وڅېړلې، چې بيا يې هغه په خپل هېواد کې رواج کړې، چې د هغو په نتيجه کې د شوروي اوسنی حکومت يو پياوړی حکومت دی. دا ټول د لوی پيتر د زيارونو له امله و چې روسيې خان د بېرونيو له اړتياوو څخه وژغوره، نو ماته ښايي چې زه هم پر هغې لارې يون وکړم.*"

وزيران څو ورځې د پاچا د سفر په اړه وغږېدل، خو په پای کې څنګه چې په خپله پاچا سفر غوښته، ټولو ورسره ومنله.

دا هغه وخت و چې د حرب پر وزير محمد ولي باندې پاچا خپل باور له لاسه ورکړی و او غوښتل يې له دغه وزارت نه يې ليرې کړي. هغه يې خپل نايب او د بهرنيو چارو وزير کړ. عبدالعزيز يې دوهم نايب السلطنه او د حرب وزارت مرستيال او پر دې مامور کړ، چې د محمد ولي او نورو کړه وڅاري. پاچا داسې هم محمود ياور . د کابل والي مرستيال ته واك ورکړ، چې هر هغه څوك وڅيي چې په خيانت لاس پورې کوي. پاچا د کابل والي علي احمد او د حرب مرستيال حبيب الله د دولتي شورا سروال سردار شېراحمد د خپل سفر په ملګرو کې ونيول. پاچا په لومړنيو

دوو باندې شك درلـود او پـردې پوهېـده. چې شېر احمـد او محمـد ولـي دومـره سـره وران دي. چې دده پـه غيـاب كـې بـه هېـواد تـه جنجالونـه پيـدا كـړي پاچـا بيـا د شـمال او ختيځـو ځينـو ولايتونـو پـه سـفر لاړ او هلتـه يـې لـه خلكـو سـره هغسـې خبرې وكـړې لكـه چې لـه وزيرانـو سـره يـې كـړې وې. پـه كابـل كې يې د عيدګاه پـه لـوى جومـات كـې هم پـه همدغې روحيې سره خبرې كړې وې.

پاچـا امـان الله لـه ملكـې ثريـا او د سـفر لـه ملګـرو سـره د ۱۹۲۷ كـال د ډسـمبر پـه لسـمه چمـن تـه او بيـا لـه هغـه ځايـه كـوټې، كراچـۍ او بمبـۍ تـه لاړل. وروسـته يـې پـه ترتيـب سـره مصـر، ايتاليـه، فرانسـه، بلجيـم، سـويس، جرمنـي، برتانيـه، پولينډ، روسـيه وليـدل. د سفر پـه پـاى كـې يې تركيـه او پـارس هـم وليـدل او د مشـهد، كنـدهار او هـرات لـه لارې د ۱۹۲۸ كـال د جـولاى پـه لومـړۍ ورځ كابـل تـه سـتون شـو. پـه دغـه ډول دغه سفر شپږ مياشتې او يوولس ورځې اوږد شو.

پـه ټولـو هېوادونـو كـې هـم دولتـي سـرانو، مـامورانو او هـم عـادي وګـړو د پاچـا او د هغـه د ملګـرو تـود هركلـى وكـړ. پـه هـر هېـواد كـې دوى اول رسـمي مېلمانـه وو او بيـا پـه خپـل لګښـت اوسـېدل. يـوازې پـه مصـر او پـارس كـې كوربـه پاچايـانو لـه عـادي وګـړو سـره د پاچـا امـان الله د ازاد روغبـړ او د ملكـې ثريـا د مـخ لوڅـۍ لـه املـه نـاارامي وښودلـه. د مصـر پاچـا، فـواد پاشـا د هغـه پـه رخصـتېدو سـره خپلـه خوښي پـه دې ډول

ثرګنده کړه، چې "خدایه! شکر چې دی لاړ." پاچا په روم کې د کاتولیکي عیسویانو له لوی مشر، پاپ سره هم ولیدل. افغانان په انګلستان کې د خپلې هستوګنې په ۲۳ ورځو کې اول د پاچا او ملکې او وروسته د حکومت مېلمانه وو. دوی هلته له لندن نه سربېره شپږ نور صناعتي ښارونه هم ولیدل. هلته "برتانوي موسسو له یوې او بلې سره ددغه ویار په لرلو کې سیالي کوله چې پاچا یا ملکه یا د هغو د کورنۍ غړي د دوی په مراسمو کې ګډون وکړي. حتی د افغان-انګلیس د جنګ پخوانیو پوځیانو موسسې غوښتل چې دوی د افغان پاچا په مخ کې په سلامي تېر شي." د انګلستان د خلکو ددغسې تاوده هرکلي په اړه د برتانیې یوه وزیر څرګنده کړه، چې انګرېزانو "ددغسې شخص له لیدلو سره علاقمنې ښودله، چې د برتانیې امپراتورۍ ته یې په بري سره چیلنج ورکړی و."(۷۹) پاچا امان الله پاس له الوتکې نه هم د لندن ښار ولید او له سمندر لاندې په اوبتل کې وګرزول شو او له یوې بېړۍ نه یې د سمندري انداختونو ننداره هم وکړه. د لندن ورځپاڼو پاچا امان الله د روسیې لوی پیتر وباله. په مسکو کې هم د شوروي لویانو له خوا د پاچا امان الله تود هرکلی وشو، خو یوازې ستالین ورسره ونه لیدل.

له دغه تاوده هرکلي سره سره افغان هیأت ونه شو کولی، د انکشافي پروجو د عملي کولو لپاره له اروپايي

هېوادونو څخه پورونه ترلاسه کړي. یوازې جرمني که څه هم په نړۍ وال جنګ کې د خپلې ماتې له امله په پورونو کې ډوب و، تیاری وښووده چې غیر حکومتي بانکونه وهڅوي، چې افغانستان ته پور ورکړي. افغانانو بیا له جرمني نه شپږ میلون مارکه پور ترلاسه کړ، چې په هغه سره له هغه هېواد نه څیزونه وارد کړي. دا هم ویل کېده چې د فرانسې یوه بانک منلې وه، چې د افغانستان د ګمرکي عایداتو په ډاډ د ګټې په برابر کې یو ملیون پونډ سټرلنګ پور ورکړي. څنګه چې پاچا امان الله د وطن پرمختیا په ټینګه غوښتله، حاضر وو ددغه پور په برابر کې ټینګ ضمانتونه ورکړي. هغه وخت پرمختللو هېوادونو د نن ورځې په شان له بېرته پاتې هېوادونو سره وړیا مرستې نه کولې. سره له دې هم یوازې د برتانیې حکومت له پاچا امان الله سره ومنله، چې د افغانستان د پیاوړي کېدلو لپاره ډول ډول عصري توپونه، ټوپکونه او نورې وسلې وړیا ورکړي او شل تنه افغان نظامي افسران په خپل سان هرست نظامي اکاډمۍ وروزي. (٨٠)

بهر ته د پاچا امان الله سفر له سیاسي پلوه پوره بریالی و. معاصر افغانستان لوی واکمنان لري خو یوه هم افغانستان اروپائیانو ته هغسې نه و پېژندلی لکه امان الله چې ورو پېژانده. افغانستان د پاچا امان الله په سیاستونو او کړو سره په اروپا کې نوم وایست. پاچا امان الله په خپل دغه

سفر سره د افغانستان خپلواکي نوره هم یقیني کړه. برتانیې تر دغه وخته پورې خپلواك افغانستان هم تر خپلې اغېزې لاندې هېواد ګڼانه او په خپل نفوذ سره یې د هغه د خپلواك چلند کولو مخه نیوله. خو د برتانیې خلکو له خوا د پاچا امان الله تاوده هرکلي هم کوربه او هم افغانان دواړه حېران کړل. دغه تود هرکلی د اړیکو د ښه کېدلو دپاره غټ دلیل کېدلی شو خو چې لندن د پښتنو په سرحدي سیمو کې د هند د حکومت د نظامي عملیو مخه نیولي وای. لندن دغه کار نه کاوه.(۸۱)

مګر دننه په هېواد کې په خپله افغانانو د پاچا ددغه سفر قدرونه کړ. مذهبیانو یې لاخپل مخالفت ته زور ورکړ او پر ضد یې ډنډورې ګډې کړې. په اصل کې د امان الله لپاره چې هم پاچا او هم صدراعظم و، مصلحت نه و چې څه باندې نیم کال په بهر کې په سفر کې تېر کړي. ددغه اوږده او ډېر ښه هرکلی شوی سفر غټ اثر په خپله په پاچا و، چې له خپلو کلتوري ارزښتونو څخه یې لیرې او د اروپایي کلتوري ارزښتونو په لور یې واړاوه.

## وروستي سمونونه او له وطن څخه د پاچا وتل:

پاچا امان الله کابل ته تر ستنېدو وروسته لویه جرګه وبلله، چې په پغمان کې د اګست په ۲۹مه به غونډې پیل کوي. پاچا لادمخه (جون ۲۷مه) په کندهار کې د سمونونو

په ضرورت غږېدلی و. هلته يې د سمونونو، پوهنې. له ځان سره د مرستې کولو او ملي هاند په ضرورت باندې ټينګار کړی او ويلي يې وو چې پرمختګ يوازې د ښځو په ازادۍ سره ممکن کېدلی شي. هغه دا هم ويلي وو، چې سمونونه د افغان ملت د ګټې لپاره دي، نه د هغه شخصي ګټو لپاره. خپل مامورران يې لټ او بې پروا وبلل او برخلاف اروپايان يې وستايل. کندهاريانو ته يې د پای خبرې دا وې:

***"تاسې په لټۍ سره خپلو موخو ته رسېدلی نه شئ. امان الله د تاسو لپاره هرڅه کولی نه شي. هغه مشوره درکوي، زاري درته کوي او فشار درباندې راوړي، خو له هغو نه پرته نور څه کولی نه شي. باور ولرئ چې امان الله به تېولې هغه هيلې له ځان سره ګور ته يوسي، چې د نوه شتمن او پرمختللي افغانستان لپاره يې لري، خو دا چې تاسې له خپل درانده خوب نه وېښ شئ."(٨٢)***

د جرګې له پيل کېدو نه دمخه لا پاچا امر کړی و چې د سلام عليکم پرځای دې شاپوله سرنه جګه شي. اروپايي شاپو يا پيك لرونکې خولۍ دې په سر وي او په تيلفوني خبرو کې دې يوازې هلو وويله شي.(٨٣) پاچا بيا د خپلو مامورانو په يوې غونډې کې وويل چې دی د هغو له شراب

ځنبلـو او بـدې اخیسـتلو نـه خبـر دی او شـرابیانو او رشـوت خـورو تـه بـه سـختې جزاګـانې ورکـړې. د پاچـا پـه دغـه اخطـار سره پـه مـامورانو کـې وېـره پیـدا شـوه او د منشـي علـي احمـد پـه نظـر پاچـا خپـل مـاموران ددې لپـاره ووېـرول چـې د چـادرۍ د لیـرې کولـو لپـاره هغـوی لـه مخالفـت کولـو نـه واوړي. پـه رښتیـا هـم هغـو لومړنیـو مـامورانو تـه چـې امـر وشـو چـې خپلې ښځـې د چـادرۍ لــه قفـس نــه ازادې کـړي، د مــالیې وزیــر محمــد هاشــم او محمــود یــاور و. ورو ورو نــورو مــامورانو خــپلې ښځـې، پغمــان، سـینماګانو، پــارکونو او نــورو ځــایونو تـه مـخ لـوڅې بـوتللې. پاچـا د کابـل ښځـې د دلکشـا مانۍ تـه څـو ځلـه وبللې او هغـو تـه چـې ورغلـې وې، پـه خپلـې وینـا کـې وویـل چـې دوی پـه خپلـو کورونـو کـې د بنـدیانو پـه شـان د خپلـو مېـړو تـر ظلـم لانـدې دي او دی ددې ثبـوت پـه لاس لـري. چـې یـو شـمېر ښځـې د چـادرۍ کولـو لـه املـه پـه نـري رنـځ اختـه شـوې دي. هغـه دا هـم وویـل چـې مـخ پټـې د زده کـړې پـه مـخ کــې یــو لــوی خنــډ دی او افغــان ښځــې یــې د خپلـو اروپــایي خوېنـدو پـرخلاف د کسـب او کـار لـه کولـو نـه بـې بـرخې کـړي او پــه مېــړو بانــدې پــوره متکــې کــړې دي. پاچــا امــان الله دا هــم وویـل چـې ښځـې دې د سـتر پـه برخـه کـې د خپلـو مېـړو پـروا ونـه کړي او پـه عـامه تفریحي ځایونو کې دې وګرزي.(۸۴)

د پاچــا خبــرو ډېــرو ښځــې تــر تــاثیر لانــدې راوســتلې او ځینـې نارینـه یـې وپـارول. څـو مېـړو خـپلې ښځـې ووژلـې او پـه

خپلـه وتښتېـدل. دغـه پېښـې كـه څـه هـم د پاچـا غـوږو تـه ورسـولى شـوې. خـو هغـه څـان ناګـاره واچـاوه. د كابـل ښاروالـۍ تـه يـې لاامـر وكـړ، چـې د ښـار د كونډو لسـت برابـر كـړي، چـې پـه روغتونونـو او لابراتوارونـو كـې چـې نـوى پرانسـتل شـوي وو، كـار ورتـه وركـړل شـي. پـه عـين حـال كـې د ښځـو د سـاتنې ټولنـه (انجمـن حمايـه نسـوان) پـه نامـه د ښځـو دپـاره يـوه ټولنـه جـوړه شـوه، چـې چلوونكې يـې د كبـرا جـان پـه نامـه د پاچـا يـوه خـور وه. دغـه ټولنـه پـه اصـل كـې ددې لپـاره جـوړه شـوې وه چـې نجـونې د هغـې پـه غـوره كولـو سـره د دولـت پـه لګښت تركيې ته زده كړې لپاره واستولى شي.

د خپلواكـۍ تـر جشـن پـورې چـې پـه شـان او شـوكت سـره ونمانځـل شـو، كابـل تـه د جـرګې اسـتازي رسـېدلي وو. حكومـت هـر اسـتازي تـه اروپـايي تـوره كرتـۍ او پتلـون، سـپين څـت، تـوره نكتـايي او تـوره شـاپو برابـره كـړه او ټـول يـې پـه پغمـان كـې څـاى پرڅـاى كـړل. هېـڅ اسـتازي تـه اجـازه نـه وه، چـې پـه وطنـي جـامو كـې پـه جرګـه كـې ګډون وكـړي. غونډې د پغمـان پـه سـينما كـې د اګسـت پـه ۲۹مـه پيـل شـوې او د يـو باندې زرو استازو په ګډون يې پينځه ورځې دوام وكړ.

د لـويې جـرګې د جريـان لنـډيز د منشـي علـي احمـد او لودويـك ادمـك پـه اثرونـو كـې راغلـى. لومـړنى د پاچـا امـان الله منشـي و او وروسـتى خپـل اثـر دارشـيفي راپورونـو لـه مخـې ليكلـى. خـو د دوى پـه ليكنـو كـې ددغـې لـويې جـرګې موضـوع

ګانې سره سر نه خوري. د غبار لیکنه خو په دغې برخې کې لنډه او بې نظمه او له شخصي حکمونو او تبصرو نه په دغه ډول ډکه ده، چې د هغو او د وخت د پېښو ترمېنځ توپیر په مشکل کېږي، نو زه دلته د جرګې جریان د ادمك د لیکنې له مخې برابروم او د ضرورت په حال کې یې د نورو په لیکنو پوره کوم.

پاچا امان الله د لویې جرګې د پرانستلو په وینا کې ټینګار وکړ، چې دی به استازو ته د واکمن په شان ونه ګرېږي او نه به هغوی د خپل نظر منلو ته اړ کړي. هغه دا هم وویل چې دوی باید د ولس په ګټه په ازاد ډول وغږېږي، خو کله چې کومه پرېکړه د رایو په ډېروالي سره کېږي، دوی دې بیا له هغې نه وانه وړي او که یې مخالفت وکړ له خپل ولس، خپلو کورنیو او خپل پېغمبر(ص) سره به یې خیانت کړی وي. هغه دا هم وویل چې جرګې ته به هېڅ دغسې موضوع وړاندې نه شي، چې هغه د اسلامي شرع مخالفه وي.(٨٦) غبار بیا وایي:

"برای هیچ نماینده اجازه داده نشد که از سوء اداره وزرا و حکام کشور بنام ملت حرف بزنند و راه اصلاح نشان دهند. مقرر بود که هر ولایتی مطالب خودش را کتباً به رئیس شورای دولت سردار شیر احمد خان بسپارد، سردار اختیار داشت که چه چیز را

در اجنـــدای مباحثـــات جرګــه بپـــذیرد و چـــه
چیـز را ممنـوع قـرار دهـد. پـس جرګـه مـایوس
و متوحش ګردید."[۸۷]

د جرګې پـه لومړنـۍ غونډې کـې ومنلـه شوه چـې د دولتـي شـورا پرځـای دې ملـي شـورا وي او د هغـې غـړي دې د ولـس لـه خـوا غـوره شـي، خـو حکـومتي مـاموران دې د غـوره کېـدو (انتخـاب کېـدو) حـق ونـه لـري او ملـي شـورا او لویـه جرګـه دې دواړه پـه عـین حـال کـې وي.[۸۸] د دویمـې ورځـې پـه غونـډې کـې پرېکـړه وشوه چـې د بـډې اخیسـتلو او لـه دولتـي قـدرت نـه د نـاوړې ګټـې د ترلاسـه کولـو مخنیـوي لپـاره دې د بېنـل کېـدو اختیـار لـه حاکمـانو او قاضـیانو نـه واخیسـتل شـي او هغـه دې یـوازې لـه پاچـا سـره وي. دغـه پرېکـړه هـم وشـوه چـې عسـکري خـدمت دې د دوو کلونـو پرځـای درې کالـه وي او هغـه دې عـام او جبـري وي او عوضـي دې هېـڅ نـه وي. دا هـم ومنلـه شـوه، چـې د تعزیـر د اصـل لـه مخـې عمـل کـول دې، چـې پـه هغـه سـره مجـرم تـه د مـرګ تـر حـده پـورې جزا ورکولـه کېـږي، پـه دقیـق ډول تعریـف شـي. بلـه پرېکـړه دا وه چـې څـاروی دې هر کال وشمېرل شي.

د اګسـت پـه ۳۱مـه جـرګې پـه لاغـتې سـمون لاس پـورې کـړ او هغـه دا چـې لـه دې وروسـته دې تـول رسـمي ملکـي لقبونـه نـه وي او هـر مـامور دې تـر پاچـا پـورې د عزیـز یـا ګـران پـه لقـب یـاد شـي لکـه ګـران مـدیر او ګـران وزیـر. حتـی پـه خپلـه امـان الله

وغوښتل، چې ګران پاچا ورته وویل شي. استازو د هغه غوښتنه ومنله، خو ټينګار يې وکړ چې دی دې د لوړ حضرت (اعلحضرت Majesty) په لقب هم ياد شي. دا هم ومنله شوه چې په رسمي موقع کې دې يونيفورم نه وي او ټول ملکي ماموران دې توري دريشۍ او نظامي افسران دې خړې دريشي په ځان کړي. دا پرېکړه هم وشوه چې له دې وروسته دې ټول افغان مډالونه او نښانونه نه وي، د خپلواکۍ له نښان نه پرته چې هغه په جنګ کې اتلانو ته ورکول کېږي. د بلې ورځې اصلاحي پرېکړه د ملايانو د نفوذ د لړولو په هکله وه او هغه دا چې ملايان دې له هغه وروسته ملايي وکړي، چې په خپل مسلك كې امتحان ورکړي او بريالي شي او غير افغان ملايانو ته په تېره هغوی ته چې د ديوبند د مدرسې فارغان وي اجازه نه وي، چې افغانستان ته ننوځي، ځکه چې دوی به يا "بد او شرير کسان" وي يا هم باندني ډنډورچيان او خاينان." د منشي علي احمد د ليکني له مخې "امان الله په دې ټينګار وکړ چې ټول دغسې ملايان د باندنی دسيسې تر اغېزيې لاندې دي او د خپلې ادعا په ثبوت کې يې شواهد هم وړاندې کړل. ده غوښتل چې ټول دغسې ملايان دې له افغانستان څخه وايستل شي، يا دې په يوه ټاکلي ځای کې وي او له هغه ځايه دې له اجازې پرته بهرون نه شي." د جرګې بله پرېکړه دا وه چې د محکمو پرارديان دې د قانون له مخې د

دولتــي مــامورانو لــه خــوا محکــوم شــي او دغســې نــوې محکمــې دې جــوړې شــي، چــې پرېکــړې د شــواهدو پــر بنســټ وکړي، نـه د پخـوا پـه شـان د شـاهدانو پـه شـاهدي. پـه دغـه ورځ پاچـا څرګنـده کـړه، چـې هغـه پنځـوس زره ټوپـك پېرودلـي او غـواړي پنځـوس زره نـور ټوپـك لـه يـو مليـون كارتوسـو سـره پـه بيـه واخلي او د هغـو لپـاره دې لـه پـنځلس کلـن نارينـه نـه پورتـه هــر افغــان پنځــه افغانــۍ او هــر حکــومتي مــامور د يــوې مياشتې معـاش ورکـړي. د پاچـا دغـه غوښتنـه پـه خوښـۍ سـره ومنلـه شـوه او د کابـل وکيـل غـلام محـی الـدين ومنلـه. چـې دی بـه د همدغـه مقصـد دپـاره يـو لـك افغانـۍ بسـپنه ورکـړي او لـه نـورو وکيلانـو نـه يـې وغوښتـل، چـې هغـوی هـم همدغسـې وکړي.

د جـرګې څلورمـه غونـډه د دولتـي مـامورانو پـه هکلـه وه. ددې لپـاره چـې د بـډې اخيسـتلو مخـه ونيولـه شـي لـه ملکـي مـامورانو نـه غوښتـل کېـدل، چـې د خپـل کـار پـه پيـل کـې دې خپلـه شـتمني وښيـي، چـې پـر هغـه بـه بيـا د هغـوی رسـمي معاشـونه اضـافه کېـږي او کـه مجـازي محاسـبې وښودلـه، چـې شـتمني يـې تـر هغـو نـه ډېـره شـوې وه، هغـه بـه د هغـه د بـډې اخيسـتلو ثبـوت وي او هغـوی تـه بـه بيـا جـزا ورکولـه کېـږي. دا هـم ومنلـه شـوه چـې د ملکـي اسـتخدام او ترفيـع يـو قـانون دې وايسـتل شـي. ددغـې ورځـې يـو تـولنيز نوښـت دا و، چـې حکـومتي مـاموران دې يـوازې يـوه نکـاحي ښځـه ولـري. خـو د

واده کولو رواج ته په تغيير ورکولو کې پرمختګ ونه شو. پاچا امان الله استازو ته څرګنده کړه چې جرمنان او انګرېزان تر نورو ډېر فعال او پياوړي دي او دا له دې امله، چې دوی په ښځې ځوانی کې ودونه کوي. نه په خامې ځوانی کې. پاچا امان الله بيا وړانديز وکړ، چې افغانانو ته دې اجازه نه وي، چې ځوانان يې له دوه ويشت کلنی نه دمخه او ځوانانې يې له اتلس کلنی نه دمخه ودونه وکړي. په دغې موضوع باندې تود بحث وشو او زياترو استازو د پاچا دغه وړانديز رد کړ، په دې چې د دوی په نظر هغه د اسلامي شرع مخالف دی. پاچا امان الله خان بيا څرګنده کړه، چې ده خپل دغه نظر پلرونو ته د نصيحت په توګه وړاندې کړی نه د کوم رسمي امر په شان. وروسته د پاچا يو بل تجويز په خوښی سره ومنل شو، چې د هغه له مخې د هغه مېرمن ملکه او زوی يې رحمت الله د تخت وارث وپېژندل شول.

د سپتمبر په دوهمه د جرګې په اخري غونډې کې پاچا امان الله د نوي درې رنګه بېرغ ياني تور سره او شين بېرغ وړانديز وکړ. چې په هغه کې د واورينو غرو د پاسه به هسکېدونکی لمر ځلېږي او شاوخوا به يې د غنمو وږی او د خدای تعالی نوم وي. پاچا دغه بېرغ په دغه ډول شرح کړ، چې تور د ماتم ورځې ښيي چې افغانستان د باندنيو تر اغېزې لاندې و، سور هغه وينې انځوروي چې د خپلواکی

بېرته ګټلو په لار کې تویې شوې او شین له خپلواکۍ ګټلو نه وروسته د هیلې او پرمختګ انځور وړاندې کوي. غرونه د افغانستان او ختونکی لمر د افغانانو پرمختګ ښیيي او د غنمو وږی هغه وږی انځوروي، کوم چې احمد شاه بابا د تاج په توګه منلی و. د جرګې د یوه استازي په وړاندیز د حضرت محمد نوم هم پرې اضافه شو. (افغانستان د امیر شېرعلي خان په وخت کې هم د غرونو د هېواد په نوم یاد شوی و).

په دغې غونډې کې د ښځو د ستر موضوع هم پورته شوه، خو د ادمک د لیکنې له مخې بحث پرې ونه شو، په داسې حال کې چې د منشي علي احمد د لیکنې له مخې پرې باندې تود بحث وشو. ځینې ملایان استازي ددغه سمون په مخالفت وګرېدل او د خپلو نظرونو په ملاتړ یې آیتونه او حدیثونه یو په بل پسې بیان کړل. امان الله په ځواب کې وویل، چې دی که څه هم ملا نه دی، خو په دې پوهېږي، چې ستر د اسلامي قانون له مخې له غاړې نه ښکته د بدن پټول دي. ملایانو دده نظر په ټینګه رد کړ او په هغې سره امان الله، چې د مصطفی کمال هغه سپارښتنه په زړه کړه چې ده ته یې کړې وه، کنټرول له لاسه ورکړ او په لوړ اواز یې وویل، چې:

***"دا ټول ملي مصیبتونه د تاسو له لاسه دي، تاسې ملایان چې له دووسانو نه پرته نور***

*څه نه یې، زه به هغه څه نافذوم چې یې غواړم او زه به ستر پرېښودل ان د برچو په زور عملي کړم، نه په غوړه مالۍ سره. پوه شئ چې زه یو انقلابي پاچا یم."*

امان الله بیا مخ نورو استازو ته واړاوه او په جګ اواز یې وویل، چې:

*"او! زما د ګران ملت استازو! تاسو ته زما توصیه ده، هغه توصیه چې تاسې یې ټول ملت ته ورسوئ، چې تاسې باید پوه شئ چې دغه ملایان په دغه هېواد کې په خپلو وعظونو سره د دښمنو د دسیسو د خپرلوو مسئولان دي. زموږ د خلکو ډېرته پاتې توب د هغو موهومي کیسو (myths، افسانو) له امله دی، چې دوی یې خلکو ته رسوي او په هغو سره یې تېر باسي. زه به په خپل وخت کې ددغو ملایانو چاره وکړم، خو تاسې استازي باید ولس په دغسې حال کې کړئ، چې رېوهبري او په دغو یو موتي ملایانو باندې چې د ملت بده غواړي ونه غولېږئ."*

د همدغې موضوع په پای کې د کابل وکیل غلام محی الدین [انیس] چې په روسیې کې یې زده کړه کړې وه، ولاړ شو او پاچا یې په دې ډول وپوښته چې:

"ستاسـې اعلیحضـرت فکرونـه ډېـر ښـه
دي، خـو تاسـې اعلیحضـرت ولـې د وزیرانـو
په چلونو سترګې پټې کړې دي؟"

ده دغـه پوښتنـه پـه دغسـې حـال کـې وکـړه، چـې وزیـران هـم هلتـه ناسـت وو. پاچـا ځـواب ورکـړ، چـې "مـا څنګـه سـترګې پټې کـړي دي؟" محی الـدین بیـا کـړه چـې "لـس کالـه کېـږي چـې تاسـې اعلحضـرت د اداري چـارو پـه اړه قانونونـه او مقـررې ایسـتلي دي. پـه زرګونـو اعـدام یـا بنـدي شـوي دي، خـو یـو وزیـر هـم محاکمـه شـوی نـه دی. تاسـې اعلحضـرت بـه ارومـرو د هغـوی پـه تقلـب پـوه شـوي یـئ او د هغـو مانـۍ ګـانې او ګـړنـدي موټرونـه بـه مـو لیـدلي وي. د اروپـا پـه سـفر کـې پـه بانـدنیو هېوادونـو کـې پـه بـانکونو کـې د دوی شـتمني یقینـي شـوې وې، نـو څرګنـده ده چـې دغـو مهمـو کسـانو تـه جـزا نـه ورکولـه کېـږي. قانونونـه یـوازې ددې لپـاره ایسـتل کېـږي، چـې وزیـران پـه دې وتوانـوي چـې ځانونـه د وګـړو پـه تـاوان شـتمن کـړي او هغـو تـه جـزا ورکـړلـه شـي، چـې د هغـو لـه نظرونـو سـره مخالفـت کـوي." پاچـا بیـا محـی الـدین تـه مـخ واړاوه چـې هغـه څـه چـې هغـه وویـل، لـه موضـوع سـره اړه نـه لـري او بېځایـه دي." د وزیرانـو پـه انـد پـه خپلـه پاچـا هغـه ددغسـې اعتـراض کولـو لپـاره هڅـولی و او کـه نـه هغـه ددې زړه نـه لاره، چـې پـه دغـه ډول وګړېږي([89]).

داسـې ښکـاري چـې پاچـا امـان الله د لـویې جـرګې پـه کـړو

قانع نه و، ځکه چې د بلې میاشتې یانې د اکتوبر د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې یې په کابل کې د چمن دستور په مانۍ کې څلور غونډې سر په سر وبللې. په هرې غونډه کې د شپږو سوو کسانو په شاوخوا کې باندنیو ډیپلوماتانو، افغان ملکي او نظامي افسرانو، د دولتي شورا غړو او د کابل مخورو ګډون لاره. د دغو غونډو غټه ځانګړتیا دا وه، چې په هغو کې په کابل کې د لومړي ځل لپاره ښځو ګډون کاوه او په خپله پاچا پکې ویناوې اورولې.

پاچا لومړۍ غونډه خپل باندني سفر ته ځانګړې کړه، چې دمخه پرې ګړېدلی یم. دلته به دغومره ووایم چې پاچا خپل دغه سفر له هرې ډډې نه پوره بریالی وګاڼه او زیاته یې کړه، چې د سفر د اویا زرو پونډو د لګښت په برابر کې یې د څلور سوه او شپېته زرو پونډو په اندازه د وطن دپاره سوغاتونه راوړي دي، خو په وروستیو پیسو کې هغه پیسې ګډې نه وې، چې په هغو سره وسلې اخیستلې شوې وې، چې هغه د جرمنانو د حساب له مخې یا دیارلس یا څوارلس ملیون، نغد مارك په ایتالیې او فرانسې او شپږ ملیون مارك په جرمني کې وو.

پاچا خپله دوهمه وینا د نظامي او ملکي پوهنیز سمون لپاره ځانګړې کړې وه. څرګنده یې کړه چې غواړي موجوده نظامي ښوونځي له سره تنظیم کړي او نوي ښوونځي پرانیزي. افسران به له دېنه منع وي چې د پیرانو مریدي

وکړي او د ملایانو طالبان او عسکري کسانو به د خدمت په دوره کې دغسې مهارتونه زده کوي، چې وروسته به یې عملي کولی شي او کله چې بیا ملکي ژوند کوي، هغه به نورو ته ورښیي. د پاچا پرېکړه دا وه، چې د ځینو سمونونو لپاره دې نظامي افسران په خپله خوښه له درېیو میاشتو معاش نه تېر شي، چې له سفر نه دده د راستنېدو په هر کلي، له باندې نه په وسلو اخیستلو او د یوه عصري نظامي کلب جوړلو باندې ولګول شي. پاچا په عین حال کې څرګنده کړه، چې د پوځیانو معاش به ډېر کړي، خو دا چې هغه به څنګه ډېر کړي، معلومه نه وه. دده د تجویز له مخې په ولایتونو کې به ډول ډول پوهنځي پرانیستل شي او د اماني (وروسته نجات)، او امانیې (وروسته استقلال) لوړو ښوونځیو څانګې به هم پرانېستلی شي. پاچا امان الله د ځوانانو د نکاح موضوع بیا پورته کړه، امر یې وکړ چې تر هغو چې ځوانان په ښوونځي کې وي، ودونه نه شي کولی.

پاچا د درېیمې ورځې وینا د ستر موضوع ته ځانګړې کړه او څرګنده یې کړه، چې په راتلونکو دوو ماشتو کې دې چادري نه وي. پرځای دې ترکي ډوله دوه ټوکره وي، چې په یوه سره به د مخ ښکته برخه پوښلې وي، خو دغه ډول ستر به اختیاري وي نه اجباري. پاچا وویل چې افغان خیمه ډوله چادري ښځو ته په کوڅو کې د ګرځېدلو په وخت کې خطر پېښوي. پاچا د خپلې غوښتنې په ملاتړ دلیل راووړ، چې

ستر په اسلام کې په رښتيا فرض نه دی او له خپلې ښځې ثريا نه يې وغوښتل، چې خپله چادري له مخ نه ايسته کړي هغې همدغسې وکړل او حاضرو ښځو په چک چک کولو سره د هغې تود هرکلی وکړ. ملکه ثريا په دې ډول لومړنۍ افغان مېرمن ده، چې د خلکو په مخ کې مخ لوڅې شوې ده.

پاچا بيا ملايان تعصبناک وبلل او په وګړو غولولو او د ناپوهۍ او تعصب په خپرولو يې تورن کړل. پاچا د اکتوبر په پنځمه په خپلې وروستۍ وينا کې څرګنده کړه چې له سردار شير احمد نه يې وغوښتل، چې صدراعظمي وکړي، خو هغه په دغه کار کې پاتې راغی. پاچا بيا وويل، چې دی به په خپله د ملي شورا تر جوړېدو پورې د صدراعظم په توګه هم چارې پرمخ بوځي. څنګه چې د شنوارو ياغي ګري له دغې موضوع سره تړلې ده، دغه موضوع به زر بيان کړم. دلته به دا ووايم چې پاچا د خپلې وينا په دوام وويل، چې يوازې دی کولی شي ضروري انقلابي سمونونه وکړي، ځکه چې د هغه په وينا "زه يو انقلابي پاچا يم او غواړم په هېواد کې د ژوندانه په هر اړخ کې انقلاب راولم" ده دا هم وويل چې هر هغه څوک چې د خپل وجدان په حکم له ما سره کار کولی نه شي ځان دې ګوښه کړي. عبدالرحمن لودين چې د ګمرکو لوی سروال او د جمهوري ګوند غړی و، همدغسې وکړل.(۹۰)

د منشي علي احمد د ليکنې له مخې د جمهوري ګوند

مخ په ډېرېدو پيا وړی توب پاچا په دې فکر کړ چې که هغه خپل کېدلی نه شي بايد بې اغېزې کړل شي. د لويې جرګې د پای ته رسېدلو نه وروسته پاچا پرېکړه وکړه، چې د وزيرانو کابينه دې د يوه صدراعظم په مشرۍ هېواد اداره کړي. ده دا هم پتېيلې وه، چې په دغسې نظام سره به دده کار سپك شوی او ورته به وخت په لاس ورغلی وي، چې مهمې دولتي چارې اجرا او باندنيو چارو ته خاصه توجه وکړي، خو ددغه حکومت لوړ کسان به هغوی وي، چې د جمهوري ګوند مخالف او په خپلو کې سره جوړ وي، نو پاچا د دولتي سروال سردار شير احمد ته د حکومت د جوړولو بلنه ورکړه. خو هغه په دغه کار کې بريالی نه شو. هغه لا په هماغه اول سر کې غوښتل، چې په دغه کار کې له پاچا نه بښنه وغواړي، خو بيا يې د خپلو ملګرو په سلا د وزيرانو نومونه پاچا ته وړاندې کړل، چې په هغو کې غلام صديق د باندنيو چارو د وزير په توګه غوره شوی و. پاچا له يوه کس نه پرته نور ټول ومنل. خو کله چې غلام صديق ځرخي ته رجوع وشوه. هغه ځرګنده کړه چې نه يوازې دی. بلکې اويا نور ملکي او نظامي افسران هم نه غواړي د سردار شېر احمد تر لاس لاندې کار وکړي.

غلام صديق دغه دريځ د محمد ولي په قوت غوره کړ ی و. پاچا چې د شېراحمد په برابر کې له ټينګك مخالفت هغه هم له نظامي مخالفت نه واورېدل. د شير احمد تجويز يې

پرېښود او محمد ولي ته يې د صدراعظمۍ بلنه ورکړه. خو هغه د روحي ستړيا او ښو درد له امله ښښنه وغوښتله. پاچا د هغه خدمتونه وستايل او بيا يې په يوه عام دربار کې ځرګنده کړه چې ځنګه چې هېواد دغسې سمون دپاره لا اماده نه دی. دی په خپله به چارې د پخوا په څېر ددغو وزيرانو په مرسته ترسره کوي. عبدالعزيز د حرب وزير. غلام صديق د بهرنيو چارو وزير، عبدالاحد د کورنيو چارو د وزارت کفيل. علي احمد د سوداګرۍ وزير. عبدالهادي د شورا رئيس. شېر احمد د ټولو وزارتونو څارونکی. د ماليې، پوهنې او عدليې وزيران به مخکينۍ وزيران وي.([91]) محمد ولي د پاچا نايب ونومول شو چې دغه مقام هغه هم په خپله د پاچا په شته والي سره يوازې په نامه و. خو غبار پاچا ته په غونډې کې د عبدالرحمن لودين د وينا په نقل کې د پورته ليکنې په مخالفت وايي چې"...ده سال است که اعلحضرت وظيفه صدارت عظمی کشور را شخصاً بدوش ګرفته اند در حاليکه انقلاب متقاضی آن است که عوض اعلحضرت شخص مسئول ديګری به حيث صدراعظم افغانستان منصوب ګردد." غبار بيا وايي چې "اين پيشنهاد ها پذيرفته نګرديد (و) همرفته اداره دولت بشکل يك حکومت مطلق العنانی درامد."([92])

منشي علی احمد د شنوارو ياغي ګري د جمهوري ګوند په لمسون ګڼي او وايي چې "خو [دغه حکومت] د غلام

صدیق او د هغه د ملګرو په خوښه نه و. دوی چې ناراضي شوي وو پرېکړه وکړه چې کوم قوم د یاغي ګرۍ دپاره ولمسوي. غلام صدیق چې د خپل پلار غلام حیدر په سبب، چې د امیر عبدالرحمن په وخت کې یې په مشرقي کې کلونه کلونه خدمت کړی و، په دغو قومونو کې د ډېر نفوذ خاوند و او څنګه چې پښه شوه، په دغه وخت کې دوه شنواري مشران په کابل کې وو. د محمد افضل او محمد علم له خوا غلام صدیق هغوی ته د غټو وعدو په ورکولو سره بېرته وطن ته واستول چې خپل قوم د پاڅون لپاره ولمسوي. هغوی وطن ته په رسېدلو سره په یوې قومي غونډې کې خپلو شنوارو ته وویل، چې پرېکړه دا ده چې د دوی لوښې به د زده کړې لپاره ترکیې ته واستولې شي. خو دا چې دوی د هرې یوې د معافېدو په لاز کې پنځه سوه روپۍ ولګوي."([93]) خو غبار د شنوارو یاغي توب د هغو د سنګوخیلو د ځانګې او کوچیانو د یوې نښتې نتیجه بولي او وايي چې د جلال اباد اعلی حاکم د شنوارو شکایت ته غوږ ونه نیوه او شنواري پاڅېدل([94])

د شنوارو یاغي توب د نورو قومونو د یاغي ګرۍ لپاره پیلامه شوه. له هغه وروسته حکومتي ضد پېښې یو په بل پسې په چټکۍ سره وشوې او حکومت ونه شو کولی هغه بې اغېزې کړي. په خپله د شنوارو یاغي توب (نومبر ۱۴، ۱۹۲۸) مرکزي حکومت ته خطر کېدلی نه شو. خطر چې

مرکزي حکومت ته متوجه شو له دې امله و، چې حکومت د خپل نظامي قوت غټه برخه د شنوارو د ځپلو لپاره واستوله او کابل یې چې د ټول هېواد د حکومت او د نظم او امنیت زړه دی له اغېزمن دفاعي قوت نه بې برخې کړ. په دغه حال کې د کوهدامن داړه مار حبیب الله کلکاني چې د سقاو زوی په نوم یادېده وکولی شول د شنوارو له یاغي توب نه یوه میاشت وروسته (ډسمبر ۱۴، ۱۹۲۸) له خپلو داړه مارو ملګرو سره د کابل باغ بالاته ورسېږي.

د شنوارو له یاغي توب له پیل نه له افغانستان نه د پاچا تر وتلو پورې په ټول افغانستان په تېره په مشرقي، کابل، کوهدامن، د کابل-کندهار ترمېنځ سیمو کې دغسې وړې غټې نوې ډوله پېښې او نظامي او قومي ټکرونه شوي، چې د هغو په سم او رښتیني شرح او بیان کې د قومونو، مشرانو، مذهبي ډلو او فردي کسانو او همدا ډول د حکومت د نظامي او ملکي ډلو او کسانو رښتینې ځېرې لیدل کېدلی شي. سیاسي تاریخ په واقع کې د ټولنې ددغسې فعالو خلکو د کړو او ټولنیزو پېښو او واقعیتونو بیان دی. تر بحث لاندې پېښې د غبار، ادمك، منشي علي احمد او یو څه د تاریخ پوه فیض محمد په اثر کې چې سرلیك یې دی:"کابل تر محاصرې لاندې" بیان شوې دي. زه دلته ددغو اثرونو له مخې، چې د موضوع په هکله د لومړي لاس اثرونه دي، د کابل د نسکورېدلو لړ څه ډېر او د نورو

یوازې لنډیز وړاندې کوم او بیا د پاچا امان الله په نابریتوب او له وطن نه د هغه په وتلو یو څه اوږد بحث کوم.

پاچا امان الله خان اول کوښښ وکړ، چې شنواري په خبرو سره ارام کړي او چې خبرو ګټه ونه کړه. د الوتکو بمباري پیل شوه. په بمبارۍ سره شنواري لا راوپارېدل. پاچا بیا سردار شېر احمد د تنظیمي رئیس په نامه له پوره اختیارونو سره جلال آباد ته وستاوه. چې یاغیان په نظامي قوې او قومي ایله جاري سره ایل کړي. په هماغه وخت کې یې غلام صدیق هم د هغه په خپل وړاندیز جلال اباد ته واستاوه. دی له جلال اباد نه په خپله شنوارو ته ورغی او له شنوارو سره له دوو اونیو خبرو کولو نه وروسته د هغوی له ټولو غوښتنو سره کابل ته ستون شو. دغه غوښتنې چې ملایانو لیکلې وې. د پاچا ټول سمونونه ردول او له وطن نه یې د محمود طرزي د کورنۍ د ټولو غړو ایستل غوښتل.([٩٥])

د منشي علي احمد په نظر غلام صدیق "... د تللو موخه دا وه چې دغه اور ته چې اوس خلېده پکې ووهي." دی دا هم وایي چې غلام صدیق د مومندو او خوګیانیو د خاصیت په نظر کې نیولو سره هغو ته له حکومتي پوځ نه د وسلو اخیستلو لارې چارې هم وښودلې.([٩٦]) فیض محمد لاوایي چې "د غلام صدیق دوه مخي توب له امله چې د یاغیانو په لاس یې خپل نیول جعل کړل، خو په واقع کې دی په خپله د هغو کامپ ته ورغی او ویې هڅول چې په جلال اباد باندې

یرغـل وکـړي. بـرى د (حکـومتي) قـوو پـه نصـیب نـه شـو." جـلال اباد بیـا چـور شـو. حکـومتي پـوځ تـالاترغـی او لـه کابـل سره د تلیفـون مـزي پریکـړل شـول. وضـع چـې پـه دغـه ډول لـه کنتـرول نـه ووتلـه، سـردار شـیر احمـد کابـل تـه وغوښتـل شـو او پرځـاى یـې والـي علـي احمـد د اعلـی رئـیس او مطلـق مختـار پـه نامـه مشـرقي تـه او محمـود یـاور لـه یـوه پـوځ او ډیـرو سـپکو او درنـدو وسلو او ماشـین ګنو سره د دسمبر پـه پـای کـې جګدلك ته واستول شو.

والــي علــي احمــد د لوینــاب خوشــدل بــارکزي زوى او د پاچـا امـان الله دنیـايي زوى او اوښـی و. دى پـه دې بریـالی شـو چــې "یاغیــان ارام کــړي او ســریله شــنواري د نغــدو او نــورو سـوغاتونو پـه ورکولـو سره د امیـر اطاعـت تـه وبـولي." خـو دا هاغــه وخــت و چــې پاچــا امــان الله واکمنــي پــرې ایښــي او کندهار ته تللی و.(۹۷)

یـوازې د شـنوارو یـاغي تـوب او پـه کابـل کـې د پـوځ لـړوالی نـه و. چـې حبیـب الله کلکـانی یـې د کابـل نیولـو تـه وهڅـاوه. پــه بېــل ډول او د بېلــو موخــو لپــاره د محمــد ولــي او د شــور بــازار حضــرت محمــد صــادق او د نــورو لمســونو. د حکــومتي لـوړو مـامورانو تېروتنـو او داسـې هـم پـه خپلـه د پاچـا امـان الله د سملاسـي او بېفکـره اعـدام کولـو حکمونـو هـم د سـقاو زوى په برې کې سملاسي رول ولوباوه.

حبیـب الله کلکـانی اول پـه قلعـه مـراد بـیګ کـې د محمـد

ولي نوکري کوله. چې هغه په اصل کې د اعدام شوي مېرزا محمد حسین مستوفي ضبط شوی جایداد و حبیب الله بیا په قطعه نمونه کې له یو نیم کال خدمت کولو نه وروسته له خپل ټوپك سره پېښور ته وتښتېد او هلته یې د سماوار یو دکان ګوتې چلاوه. بیا پاړه چنار ته لاړ او هلته یې یو نیم کال د غلا په تور په بند کې تېر کړ. له بند نه په خلاصېدو سره یې د خوست په خپل سر کېدو سره له منګلو سره برخه واخیستله او یو څو هغه حکومتي عسکر یې ووژل، چې په نیولو یې مامور شوي و. بیا یې په کوهدامن او کوهستان کې داړه مارۍ ته ملا وتړله. له غریبانو سره یې خواخوږي لرله او له شتمنو لارویو او حکومتي مامورانو سره یې پوره بې رحمي کوله.(۹۸)

غبار پېښور ته د حبیب الله ورتګ په ۱۹۲۷ کې او بېرته راتګ یې په ۱۹۲۸ کې ښیي. په هر حال په کوهدامن او کوهستان کې دده په سروالۍ او د چاریکارو د سید حسین او د سرای خوجه ملك محسن په ګډون د داړه مارو دغسې یوه ډله فعاله وه، چې ټول غړي یې د ۲۴ کسو په شاوخوا کې وو. دوی درې کاله (۱۹۲۴_۱۹۲۷) په غرو کې اوسېدل. د ورځې به یې داړې اچولې او د شپې به غرو ته ختل.(۹۹) د پاچا د سفر په وخت کې د قلعه مراد بیګ شاوخوا خلکو له محمد ولي نه چې قلعه مراد بیګ ته یو وخت بل وخت ته د حبیب الله شفاعت وغوښته او ورته یې

وویل، چې هغه له داړه ماري نه لاس اخیستلی او د هغه (محمد ولي) "تعلقداران" دېته حاضر دي، چې ضمانت یې وکړي. محمد ولي په دغه وخت کې چې د پاچا نایب و، له هغو سره ومنله چې هغه کولی شي د شپې په تیاره کې ورسره وګوري. هغه همدغسې وکړل. نور نو د منشي علي احمد په ژبه:

"محمد ولي حبیب الله ته وویل، چې که دی حتی هغه وبښي هم امان الله به یې ژوندی پرې نه ږدي. محمد ولي وعده ورکړه چې ورسره به مرسته وکړي، خو چې هغه، هغه څه وکړي چې هغه یې ورته وایي. حبیب الله هوکه وکړه او له هغه وروسته یې په قلعه مراد بیګ کې له محمد ولي سره په پټه لیدل او هم وسلې او هم پیسې یې ترېنه ترلاسه کولې."(١٠٠)

خو غبار د هزاره بهسودو د میر غلام حسن له خولې نه وایي چې دا والي علي احمد و، چې حبیب الله او سید حسین یې د "راتلونکو عملیاتو" دپاره هغه وخت هڅولي وو، چې دی کوهدامن ته د تحقیق کولو دپاره تللی و.(١٠١) په هر حال، محمد ولي غلام صدیق، والي علي احمد او د دوی په شان نور حکومتي لوړ کسان به وي چې د هغو په هکله د امان الله لور هندیه وایي چې "چیزیکه بسیار غم

بزرگ بود [این بود که] کسانیکه میگفتند دوست هستیم... انها دوست نبودند."

په هر حال، حبیب الله او نور داړه ماران په داړه مارۍ کې تر دې حده پورې دمخه ولاړل، چې د چاریکارو حاکم غلام غوث او یو علاقه دار یې هم ووژل. حکومت د سورو او پلیو یو پوځ له توپونو سره د هغوی د نیولو لپاره واستاوه، خو پوځ په خپل مقصد ونه رسېد. حکومت بیا احمد علي لودي، چې پخوا د کوهدامن حاکم او دغه وخت کابل ښاروال و، کاپیسا او پروان ته د تنظیمي رئیس په توګه واستاوه. هغه هغسې چې له شنوارو سره لومړی د خبرو لار نیولې شوې وه، له هغو سره هم د خبرو لار ونیوله. احمد علي له جبل السراج نه حبیب الله او سید حسین ته (ملك محسن له یو څو نورو ملګرو سره په کابل کې بندي و) په همدغې روحیې سره پیغام واستاوه. "هغو ته یې د شخصي خوندي توب ضمانتونه ورکړل او په قرآن مجید باندې یې هغه په لوړې کولو سره تائید کړ. دواړو ته یې د نایب سالارۍ وعدې ورکړې او هر یوه ته یې درې زره نغدې روپۍ او له کارتوسو سره اووه واړه ټوپکونه او هر یوه ته چې له دوی سره یې لوټماري کوله وبښل.(۱۰۳)

د پاچا روایت له دېنه یو څه توپیر لري. هغه وایي چې:

"ما علي احمد ته حکم ورکړ چې دغه دوه کسان خپل ځای ته وبولي او معلومه

کړي چې دوی په خپل لوظ کې رښتیني دي یا نه دي. دغو دوو [حبیب الله او سید حسین] له خپلو پنځوسو داړه مارو ملګرو سره [د احمد علي په مخ کې] په اخلاص سره لوړه وکړه چې له پخوانیو جنایتونو نه یې لاس اخیستی او ویې غوښتل، چې ورته وسلې ورکړلې شي او ضبط شوي جایدادونه یې ورته بېرته ورکړل شي. احمد علي جان ماته وویل، چې دوی په خپلې توبې کې رښتیني دي. ما دوی ته... یو نیم سل ټوپکونه ورکړل او څنګه چې د دوی جایدادونه د حکومت له خوا خرڅ شوي وو، د هغه پرځای مو د پرش زره روپۍ ورکړلې. دوی له دغو وسلو او پیسو نه په کار اخیستلو سره په کابل حمله وکړه. دغه خلك د غولولو لپاره له قران مجید نه یوازې د یوې وسیلې په توګه کار اخلي او زه پر دې پوره باور لرم، چې زموږ سپېڅلی کتاب به له دوی نه بدل واخلي."(١٠۴)

پاچا دا هم وایي چې حبیب الله او سید حسین د شنوارو د یاغي توب په اوربدلو سره علي احمد ته د خدمت کولو لپاره تللي وو، په دې شرط چې دوی وبښل شي. په هر حال

دوی لـه بېنـل کېـدو نـه وروسـته د کابـل تـګ تـه تيـاری وښـود، خـو حبيـب الله لـه پاچـا نـه پـه اندېښنـه کـې و او شـايد د محمـد ولـي خبـرې يـې پـه زړه کـې وې، نـو چېرتـه د کابـل پـه لار کـې لـه کـوم تليفـون نـه د تنظيمـيې رئـيس علـي احمـد پـه نامـه لـه پاچـا سـره وغږېـد، چـې د ځـان پـه اړه د هغـه پـه نيـت پـوه شـي. پـه تليفـون کـې يـې ورتـه وويـل چـې "مـا د سـقاو لـه زوی سـره موافقـه کـړې او هغـه مـې پـه لاس کـې دی. څـه غـوارې چـې ورسـره يـې وکـړم؟" پاچـا ورتـه کـړه چـې "ويـې وژنـه." حبيـب الله بيـا پاچـا وپوښتـه چـې "مـا خـو لـه هغـه سـره د خونـدي تـوب ژمنـه کـړې، څنګـه يـې وژلـی شـم؟" لـه پاچـا نـه يـې بيـا واورېـدل چـې "رښتيـا، هغـه لـه تـا سـره موافقـه کـړې، نـه لـه مـا سـره. ژونـدی يـې پـرې نـه ږدې." حبيـب الله بيـا پاچـا تـه ځـان وښـوده. سـپکې سـپورې يـې ورتـه وويلـې او لـوړه يـې وکـړه، چـې زر بـه پـه کابـل بانـدې يرغل کوي او د امير کار به کوي.(۱۰۵)

لـه هغـه وروسـته حبيـب الله او سـيد حسـين لـه خپلـو داړه مـارو ملګـرو سـره جبـل السـراج تـر محاصـرې لانـدې ونيـو. احمـد علـي دغـه ښـارګوټی د اتلسـو ورځـو محاصـرې نـه وروسـته د خپـل خونـدي تـوب پـه برابـر کـې د دسـمبر پـه ۱۲مـه ورتسـليم کـړ. "دوی دغـو داړه مـارو تـه ددغـه ښـارګوټي تـولې حکـومتي پيسـې لـه اتلسـو ماشـين ګنـو او يـو نـامعلوم شـمېر درنـو وسـلو او يـو څـه ټوپکـو سـره ورتسـليم کـړل او پـه خپلـه بېرته کابل ته لاړل."(۱۰۶)

داړه مارانو چې په دې ډول د ډېرو پيسو او وسلو خاوندان شول، نيت وکړ چې په کابل يرغل وکړي او ايله جاري يې په دغه پلمه چې غواړي د ياغي شنوارو په برابر کې د حکومت په خوا وجنګېږي، تولول. دوی لا د مراد بيګ کلي ته رسېدلي نه وو، چې د کابل ځينو نفوذ ناکو حکومتي او ښاري مخورو، چې نومونه به يې زر واخلم، دوی نه يوازې په کابل باندې يرغل کولو ته وهڅول بلکې د يرغل کولو ډېر ښه وخت يې هم وروښود. د جمعې په ورځ د دسمبر په ۱۴مه ۱۹۲۸ د دوو زرو مېړو په شاوخوا کې چې دوه سوو يې ټوپکونه او نورو يې سوټي او تبرونه لرل، خرس خانې (خېرخانه) ته نارسېدلي د مراد بېګ په کلي ننوتل. دلته داړه ماران په دې فکر شول، چې په جنګ کې د دوی وژل کېدل به بابېزه وي، خو دا چې د شريعت له مخې امير ولري، نو دوی د جمعې په ورځ د دسمبر په ۱۴مه حبيب الله له يوې خطبې نه وروسته امير وټاکه او د ماسپښين په درېو بجو په شاوخوا کې باغ بالا او د برتانيې سفارت ته ورسېدل. باغ بالا يې ونيو او برتانوي سفارت ته يې ډاډ ورکړ، چې دوی به د ملت د مېلمنو په شان په امن کې وي.(۱۰۷)

غبار وايي، چې حبيب الله د کلکانو د ملا ويس په کلي کې د "افغانستان د پاچا" په نوم وپېژندل شو.(۱۰۸) نور نو د فيض محمد په ژبه:

"د خاينو وزيرانو او د کابل نفوذمنو لکه د شور بازار حضرت [ګل اغا مجددي]، سردار محمد عثمان خان، ولي محمد [د پاچا نايب] او د نورو په دستور چې دمخه يې حبيب الله ته په کابل باندې د يرغل کولو ښه وخت ښودلی او خپل ملاتړ ورورساندې کړی و. باغيان د ارواښاد صدراعظم عبدالقدوس خان په کور ننوتل... په دغه وخت کې په دغه کور کې د حربيې مدرسه د اسماعيل خاکابيګ او نورو ترکي افسرانو تر څارنې لاندې ځای پرځای وه. داسې هم باغيانو وکولی شول د شهرارا په برج ورننوزي، چې هلته د حبيبيې ښوونځی د شوکت بيګ ترکي په سرواله ځای پرځای و."

"د محمد اکبر خان يو زوی چې د مير بچه په نوم يادېده، د يوې وړې قطعې په قوماندانۍ سخت مقاومت وکړ او دغه سيمه يې دده افغانان د اوبو تر زيرمه تون پورې وساتله. داسې هم يو ټولګی افسرانو چې د حبيبيې ښوونځي په سهيل ختيځ کې د امير شېرعلي خان په پارک کې پراته وو،

د یاغیانو مخه ونیوله او پرې یې نه ښودل چې زاړه ښار ته ورننوځي. سره له دې هم ټول ښاریان د توپونو او ټوپکونو په ډزو سره په سخته وېره کې شوي وو. "خو د پاچا شخصي ساتونکو سورو او یو څو نوررو عسکرو رښتینې جنګ ته ملا وتړله. نور پوځ د یاغي توب په حال کې و، ځکه چې د دوی افسرانو د دوی جیرې خپلې ولې. دوی ددغه مشکل پره په خپلو افسرانو اچوله نه په یاغیانو او چې د ډزو قومنده ورکړل شوه، ډزې یې د هوا پر لور کولې."

"اوس نو شور او زوږ او ګډوډي په ټول ښار کې خپره وه. امیر چې د خپلو مامورانو له خیانته خبر شو، په غوسه شو، امر یې ورکړ چې د کابل په خلکو او پر هغو قومي خلکو دې وسلې وویشلې شي چې ښار ته راغلي او لاجلال آباد ته له شنوارو سره د جنګ لپاره تللي نه وو."

"خو د ښار، د چاردهي په خلکو او په ډېرو قومي ډلو باندې د پنځوسو زرو ټوپکو او بېخې ډېرې اندازې کارتوسو وېشلو اغېزه ونه کړه. په ډېره اندازه له دې امله

چې د پاچا د فاسدو وزيرانو او مامورانو په مقابل کې کرکه عمومي وه. بده يې لا دا وه چې ځينو وزيرو، منګلو او احمدزيو چې د شنوارو پر ضد جنګ ته راغلي وو، د کابل په اسه مايي غره باندې موقع ونيوله او د امير په پوځ باندې يې ډزې پيل کړې."

"غلام غوث [امير غوث الدين] د ملك جهانداد احمدزي زوی... له درې سوو ټوپکو سره ښار پرېښود، خوست ته ستون شو، خپل خلك يې وسله وال کړل او د حکومت پر ضد جګ شول. نورو قومونو هم همدغسې وکړل، ځکه چې د ټوپکو په وېشلو باندې کنټرول نه و."

"امير چې په دې پوه شو چې د چاردهي خلکو چې د هغه وروستۍ هيله او ملاتړ وو، هغه ته شا وګرزوله، په وېره کې شو. ځلور ورځې وروسته له هغه چې حبيب الله او سيد حسين په کابل باندې دانګلي وو، هغه خپله مور، ښځه، خور او واړه ماشومان له ډېرې خزانې سره کندهار ته واستول."

"ښتې دولس ورځې او يوولس شپې په پرله پسې ډول روانې وې. کومې هغه

وسلې، چې په کلوله پشته او باغ بالا کې زېرمه شوې وې، د کوهدامنیو، کوهستانیو او نورو یاغیانو لاس ته ورغلې. ددغو وسلو ډېره برخه چې د امیر عبدالرحمن خان له وخت نه راپه دېخوا زېرمه شوې وې، په دې موخه چې د باندنیو یرغل کوونکو پر مقابل کې استعمال شي، د تل لپاره له لاسه ووتلې."

"حبیب الله د جنګ په حال کې له هوایي بم نه په اوږه کې ټپي شو او هغه سمدلاسه کوهدامن ته په شا شو."(۱۰۹)

خو د غبار په وینا "بچه سقاو در زیر اتش توپهای دولت دران طرف تپه شیرپور به ضربت چره شرپنل زخم برداشت و به جای نامعلومی برده شد و به سرعت مداواشد."(۱۱۰)

د حبیب الله په پرشا کېدلو سره نښتې سپکې شوې، خو په ټپه ونه درېدلې. پاچا امان الله ته موقع په لاس ورغله، چې یاغیان خواره او بې اغېزې کړي. د فیض محمد په وینا حکومتي عسکرو د حبیب الله په هستوګنځي، مراد بیك کلي ډزې کولې او بمونه یې پرې غورزول خو اثر یې نه کاوه. داسې هم د پاچا هغه فرمان بې اغېزې شو، چې د حبیب الله په سر باندې یې د څلوېښتو زرو روپیو انعام ایښی و. نښتې تر یکشنبې د جنورۍ تر دیارلسمې پورې

روانـــې وې. "امـــان الله لـــه مـــنظم پـــوځ، قـــومي واحـــدونو او د کابـل او چـاردهي خلكـو نـه پـه وېـره كـې و، چـې لـه حكومـت نـه خپـه وو. د هغـه لپـاره دا هـم نـاراموونكې وه، چـې پـه زرګونـو ټوپـك او توپونـه ويشـل شـوي وو. بـې لـه دې چـې اثـر وكـړي او دا چـې د پيلوټـانو نـه شـو كـولى د دښمـن پـه مهمـو ځـايونو بانـدې غوځـوونكي وارونـه وكـړي. اميـر اوس پـه خپـل قابليـت بانـدې چـې بريـالى شـي عقيـده لـه لاسـه وركـړې وه او پـه دې ډول يـــې د حبيـــب الله د بريـــالي كېـــدو لپـــاره ډګـــر برابـــر كړ."(۱۱۱)

پاچـا امـان الله د دوشـنبې پـه ورځ د جنـورۍ پـه ۱۴مـه كـال ۱۹۲۹ لـه پاچـايي نـه لاس واخيسـت او هغـه يـې خپـل مشـر ورور، عنايـت الله تـه وسـپارله او پـه خپلـه د سـهار پـه نهـو بجـو لـه پنځـو مـوټرو سـره د كنـدهار پـه لـور روان شـو. لـه محمـود طـرزي، غـلام صـديق څرخـي، د دربـار وزيـر محمـد يعقـوب، د كورنيـو چـارو وزارت مرسـتيال، عبدالاحـد او شـپږو شخصـي سـاتونكو سـره. پاچـا امـان الله پـه روسـي او برتـانوي سـكو كـې يـو مقـدار سـره زر هـم لـه ځـان سـره يـوړل، چـې ټـول ارزښـت يـې لس ميليون روپۍ كېده.

پاچـا عنايـت الله د ورځـې پـه يـوه بجـه پـه داسـې حـال كـې چـې د خبرخـانې پـه كوتـل كـې لا نښـتې روانـې وې، د كابـل ځينـې مخـور، پـوځي اسـتازي او قـومي كسـان د دلكشـاه پـه ماڼـۍ كـې د بيعـت منلـو لپـاره وبلـل. هغـو تـه د پاچـا امـان الله

د ګوښه کېدو فرمان ولوستل شو او نوي پاچا ته د هغو د بیعت لوري پرځای شوي. نور نو د فیض په ژبه: "عنایت الله هغه بې وجدانه، رذیل د شوربازار حضرت [ګل اغا مجددي]، محمد عثمان او دوه یا نور د دروغو ملایان چې په خپله د یاغي توب محرکان وو، وغوښتل چې له هغو عمري غلو او شریرو جانیانو حبیب الله او سید حسین سره وګوري." داسې یې هم د هغو په لاس هغو ته یوه لیکنه واستوله. په دغه مقصد چې اوس نو امان الله چې تاسې "کافر" ګاڼه، ګوښه شوی او پرځای یې د کابل د خلکو له خوا زه پاچا شوی یم، چې تاسې هم ما "رښتینی مسلمان" ګڼئ، نو د جنګ لپاره تول دلیلونه له منځه وړل شوي دي. "که تاسې په رښتیا د رښتین توب لپاره جنګېدلي یئ نه د مسلمانانو ترمېنځ د دښمنۍ لپاره، نو بیا لازمه ده، چې بې اتفاقي پرېږدئ او د افغان امیر صلاحیت وپېژنئ."(١١٢)

هئیات په لار کې د امان الله د ګوښه کېدو او د عنایت الله له پاچا کېدلو نه هغه نظامي واحدونه او قومي خلک خبر کړل، چې په ستراتیجیکي ځایونو کې ځای پرځای وو. دوی له عسکرو نه وغوښتل چې جنګ بس کړي، په دې یې خبر کړل چې دوی حبیب الله او سید حسین سره د خبرو کولو لپاره روان دي. د دوی په سپارښتنې د هرو عسکرو خپل ځایونه پرېښودل او د ښار په لور روان شول. یوازې لږ شمېر پرځای پاتې شول، چې د وضعې په رښتیني حال ځان

خبر کړي.

هئيات حبيب الله او سيد حسين ته په رسېدلو سره د نوي پاچا پېغام وررسـاوه، خـو هغـوی د پاچـا د پېغـام او د خپل رسمي مقصد پرخلاف په خپله حبيب الله د پاچا کېدلو لپاره وهڅاوه او ورته يې وويل، چې دی د پاچايي مستحق دی، نه عنايت الله. په دغه عجب دليل چې "ددغه حقيقت په نظر کې نيولو سره چې حبيب الله د رجب په لومړۍ [دسمبر ۱۹۲۸، ۱۴] په پاچايي تخت باندې ډډه لګولې، په داسې حال کې چې د عنايت الله پاچا کېدل د شعبان په دوهمې [جنوري ۱۹۲۸، ۱۴] سره سمون کوي. نو ته، نه عنايت الله د تخت رښتينی مستحق کېږئ. که عنايت الله تاته بيعت نه کوي، د هغه کړه به د شريعت له مخې ناروا وي."(۱۱۳)

حبيب الله او سيد حسين د هئيات ددغسې نظر په اورېدلو سره سم له لاسه د ښار په لور وخوځېدل. په لار کې يې کومې هغه وسلې چې دمخه پرې ايښې وې، ټولې کړې. په دې ډول اته ويشت وسله وال مېړونه په شکېدلو جامو کې له تش لاسو کوهدامنيانو سره له ده افغانان نه په ښار ننوتل. د چاريار نارې سورې يې پورته کړې او هوايي ډزې يې وکړې. "د ښار خلک لا دمخه د امان الله پر ضد متمايل شوي وو، دوی له هغو ډېرو وسلو نه کار وانه خيست چې هغو ته ورکړل شوې وې، نو د حبيب الله ملګرو او سيد حسين ښار په قبضه کې ونيوه." حبيب الله د عنايت الله له

هئيات سره، چې اوس د هغه ډېر عزتمن مېلمانه وو. د باغ بالاقصر ته وختل. سيد حسين چې ښار ارام وموند هم له هغو سره يوځاى شو. عنايت الله د خپلې پاچايي په اوله ورځ خپل ځان او خپل وزيران په ارګ کې ايسار وموندل. د سه شنبې په ورځ د جنورۍ په پېنځلسمه د چاردهي او د کابل ډېر ښاريان د شاه زي حيات الله او محمد کبير او نورو سردارانو په ګډون چې يوه ورځ دمخه يې عنايت الله ته د بيعت لوړه کړې وه، له سوغاتونو سره په باغ بالاکې د حبيب الله سلام ته لاړل او "وروسته له هغه چې هغه يې له خپل ربښتين توب نه ډاډه کړ او د واکمن کېدو مبارکي يې ورته وويله، کورونو ته ستانه شول."

په دې ډول په ښار کې په يوه وخت کې دوه پاچايان ځاى پرځاى وو. يو نالوستى داړه مار او بل بې زړه او ناوړه سردار. يو هم د واکمنۍ وړ نه و او دا پرله پسې ناکرارۍ وې چې دوى يې رادمخه کړي وو، خو داړه مار په يرغليز او سردار د ځان ساتنې په حال کې و. وروستى هغه وخت پوره بې زړه شو چې د شور بازار حضرت، سرار محمد عثمان او نور "خاينو وزيرانو او د هغوى غوړه مالو ملګرو" هغه د حبيب الله په اړه له خپلو نظريو نه خبر کړ. "دوى په دغه کار سره هغه ووېراوه او د تخت له دفاع نه يې د هغه اراده ولړزوله" که يې لرله.

د چارشنبې په ورځ د جنورۍ په ۱۶مه په داسې حال کې

چې د کوهدامنیو او امان الله د پلویانو ترمېنځ نښتې لا هم روانې وې او اتیا بهسودي هزاره ګانو د قلعه بلند او کلوله پشته له وسله تون نه دفاع کوله، د ښار ځینو لویانو لکه د شورا سروال شیر احمد، د پوهنې وزیر فیض محمد، د سوداګرۍ پخوانی وزیر عبدالهادي، د مالیاتو وزیر میر هاشم، د امیر عبدالرحمن زامنو (سردارر امین الله او سردار محمد عمر) او د وزارتونو یو شمېر مرستیالانو او د دولتي څانګو سروالانو د حبیب الله تابعیت ومانه. په هماغه ورځ د ښار قزلباش باغ بالاته لاړل او حبیب الله ته یې بیعت وکړ. نښتې غلې شوې. د شور بازار حضرت سردار محمد عثمان او یو څو وزیرانو کوښښ وکړ، چې عنایت الله وهڅوي، چې واکمني پرېږدي او ارګ خوشې کړي. عنایت الله موافقه وکړه. په هماغه ورځ حبیب الله د شور بازار حضرت له یوه فرمان سره عنایت الله ته واستاوه، چې هغه، د هغه د خوندي توب ضمانت و. عنایت الله د پنجشنبې په ورځ د ۱۹۲۹ کال د جنورۍ په ۱۷مه له درېیو ورځو تش په نامه پاچایي نه وروسته حبیب الله ته په دغو لفظونو سره له واکمنۍ نه تېر شو.

"زما ورور حبیب الله تولو ته څرګنده ده، چې زه نه غواړم پاچا اوسم. د پلار له مړینې نه وروسته مې هېڅکله د تخت د ګټلو لپاره هیله نه ده کړې. زه اړ شوم چې هغه یوازې د لویانو په ټینګار ومنم، چې هغوی په تخت باندې زما

کښېناستل د خلکو د شتمنۍ او د اسلام له پیاوړي توب سره تړلې وګاڼه، خو اوس چې زه وینم د مسلمانانو وینې توییږي پرېکړه مې وکړه، چې د افغان امارت لپاره له خپلې دعوا نه تېر شم او د نورو صاف زړو مسلمانانو په شان تاسو ته خپل بیعت درکړم. نن ورځ په ارګ کې له ما سره لاندې مسلمانانو ژمنه کړې ده." په دغې لیکنې کې د شلو حکومتي کسانو نومونه دي، چې په هغو کې د محمد ولي او عبدالعزیز نومونه هم شته. عنایت الله د لیك په دوام حبیب الله ته خپل بیعت په لاندې شرطونو سره ورکوي:

"لومړی دا چې ماته، زما کورنۍ ته او زما پراخې شوې کورنۍ ته او د پورته نوموړو کسانو او د ارګ ټولو افسرانو او عسکرو ته دې حتماً د خوندي توب ضمانت وي."

"دوهمه دا چې زه او زما کورنۍ یا کندهار یا باندې ته تلونکي یو. غواړم کندهار ته د تګ لپاره باید یوه الوتکه زما په خدمت کې وي."

"درېیمه دا چې زه غواړم محمد ولي خان، عبدالعزیز خان او احمد علي خان ته اجازه وي که غواړي له خپلو کورنیو سره د باندې ولاړ شي."

"څلورمه دا چې له نن نه د یوې میاشتې په بهیر کې هر هغه لوړ رتبه مامور ته اجازه وي که غواړي له خپلو کورنیو سره دباندې ولاړ شي."

پنځمه دا چې تر هغو چې زما لپاره الوتکه راځي، زه په ارګ کې اوسم." (۱۱۴)

د جنوري په اتلسمه د جمعې په ورځ د حبیب الله په غوښتنه دوه برتانوي الوتکې د کابل په هوایي ډګر کې ښکته شوې. په هغو کې د درېیو ورځو پاچا، د هغه کورنۍ، دوه خپلوان یې، د حرب له پخواني وزیر عبدالعزیز او احمد علي خان سره د پېښور په لور ولاړل. دوی بیا له هغه ځایه په ریل کې چمن ته او له چمن نه په موټرو کې په کندهار کې له امان الله سره یوځای شول.

په دې ډول د ضیایي کورنۍ چې نیمه پېړۍ دمخه د امیر عبدالرحمن په کوښښ سره واکمنۍ ته رسېدلې وه، له واك نه ولوېدله او واکمنۍ په معاصر افغانستان کې د یوه کوهدامني داړه مار ته په لاس ورغله. چې خان یې امیر حبیب الله د دین خادم په نامه یاد کړ. محمد ولي په کابل کې پاتې شو.

امان الله په کندهار کې د سردار عنایت الله په رسېدلو سره بېرته په غورځنګ شو، په دغه نیت چې له لاسه تللې واکمني بېرته خپله کړي، لکه چې امیر شېرعلي له هغه وخت نه شپېته کاله دمخه له همدغه ښار نه په کابل کې له لاسه تللې پاچایي بېرته ګټلې وه. خو امان الله د امیر شېر علي پرخلاف په خپلو کوښښونو کې بریالی نه شو. دلته زه د منشي علي احمد د لیکنې له مخې چې هغه د پاچا منشي

پــه توګــه تــر غزنــي پــورې د امــان الله مــارش پــه دقیــق او اوږد ډول لیکلی ددغه مارش لنډیز وړاندې کوم.

امـان الله پـه کنـدهار کـې پـه یـوې سـترې غونـډې کـې بیـا د پاچـا پـه توګـه وپېژنـدل شـو، خـو هلتـه یـې نـوی حکومـت جـوړ کـړ او هرې خـوا تـه یـې فرمانونـه واسـتول او خلـك یـې د حبیـب الله پرزولــو تــه وبلــل. د حــرب وزیــر عبــدالعزیز او عبدالاحــد مایــار پــه کوښښونــو ســره امــان الله وکــولی شــول د مــارچ پــه میاشـت کـې لـه لـږو ډېـر څلـور زره قـومي خلکـو او پینځـه سـوه مـنظم پـوځ سـره د کابـل پـه نیـت روان شـي. ددغـه مـارش پـه برابـر کـې پـه قـلات او مقـر کـې د سـقاویانو لـه خـوا مقاومـت وشـو. پـه مقـر کـې حتـی د محمـد اکـرم پـه نامـه یـوه محمـدزي غونـډ مشـر هـم د سـقاو زوی پـه پلـوی نابریـالی مقاومـت وکـړ. سـره لـه دې هـم مـارش تـر غزنـي پـورې بـې لـه غـټ مقاومـت نـه ورسـېد. پــه مقــر کــې جــاغوري هــزاره ګــان او وروســته د بهســودو، مالســتان، جـاغوري او نـورو ځـایونو نـه څـه بانـدې شپږ زره هزاره مېړونـه د ملاتـړ پـه توګـه د پاچـا امـان الله کامـپ تــه ورســېدل، خــو د دوی راتــګ د غلزیــو خېلونــه لکــه انــدړ، سـلیمان خېـل او تـره کـي لاوپـارول او د غزنـي سـقاوی حـاکم محمـد کـریم پـه دغـو قومونـو کـې د ګرزېـدلو پـه وخـت کـې دغسـې تبلیـغ کـاوه، چـې کـه " امـان الله پـه رښتیـا کـافر نـه وای، هـزاره ګـان بـه یـې چـې د دوی پخـواني دښمنـان دي، نـه وای غـوښتي او د دوی شـته والـی یـوازې دغـه مانـا لـري، چـې

هغـه د غيـر افغانـانو لـه خـوا د افغانـانو خپـل دي. ددغـې سلهورې اغيـزه سملاسـي وه. پـه داسـې حـال کـې چـې دمخـه لوازې شـل پـه سـلو کـې د امـان الله مخـالف وو، اوس يـې ټـول مخالف شول."(۱۱۵)

پـه داسـې حـال کـې چـې د سـقاوي پـوځ او سـپاه سـالار پـردل خـان دننـه د غزنـي پـه ښـار کـې وو، امـان الله پـه ښـار بانـدې د يرغـل حکـم وکـړ او هـزاره ګـان يـې شـاته د سـاتنې لپـاره وګمـارل. وروسـته دوی هـم د پاچـا امـان الله پـه حکـم پـه ښـار يرغـل يـوور. لـه مقـابلې خـوا سـليمان خېلـو، انـدړو، تـره کـو، دوتنيـو او تاجکـانو پـه غزنـي کـې د پاچـا پـه پـوځ حملـې پيـل کـړې. د ښېتـو پـه پيـل کـې بـرې د پاچـا د پـوځ پـه ګتـه و، خـو ښېـتې پسـې اوږدې شـوې او يـو شـمېر کنـدهاري او هراتـي عسـکر وتښتېـدل او هـزاره مېړونـو اغيـزمن کـار ونـه کـړای شو.

د پاچـا پيسـې او وسـلې هـم مـخ پـه خلاصـېدو وې او عسـکرو تـه خـواړه رسـول او تنخـواه ورکـول هـم سـخت شـوي وو. پـه دغـو ټولـو سـربېره د غزنـي د شـاوخوا لـه زېـږو سـيمو سـره د پـوځ نااشـنايي ګرانـه تمامېـده. ددې ټولـو نتيجـه دا شـوه چـې پاچـا امـان الله معنويـات بـايلي. "امـان الله هـم عصـبي او پـه وېـره کـې شـو. خپـل دوه مشـاوران محمـد يعقـوب [د دربـار وزيـر] او محمـد حسـن جـان [ د پاچـا اوښـی] يـې وغوښتـل او لـه هغـوی سـره پـه پټـه جرګـه شـو. هغـه تـه د هغـو مصـلحت دا و

چې لـه غزنـي نـه پـه مـنظم ډول پـه شـا شـي او افغانسـتان پرېږدي. دوی د خپـل مصلحت پـه ملاتړ وويـل چې ټـول افغا... ملـت پـه څرګنـد ډول د هغـه پـر ضـد شـوی دی. دوی د شيې لـه خـوا د کنـدهاريو او د هراتيـو تښتېـدلو تـه اشـاره وکـړه او دليـل يـې راوړ چـې څنګـه چـې دغـو نـاپوهو احمقـانو دستاسـې اعلحضـرت د لسـو کـالونو خـدمت درنـاوی ونـه کـړ تاسـې بايـد افغانسـتان پرېږدئ او کـه تاسـې اعلحضـرت (بيـا) پاچـا شـئ څـه ګټـه بـه وکـړي، ځکـه چې د افغانسـتان وضـع پـوره ګـډه وډه ده او شتمني يې هم ضايع شوې ده."

لـه هغـه وروسـته پاچـا کنـدهاري خانـان، ببـرغ لرونکـي او عبدالاحـد خـان سـره جرګـه کـړل او د خپـل تللـو تجـويز يـې ور وړانـدې کـړ. "د کنـدهاريو معنويـات دومـره ضـعيف شـوي وو چـې هغـو ټولـو رضـايت وښـود. عبدالاحـد خـان مخالفـت وکـړ او وې ويـل، چـې وردګـو لـه سـقاويانو نـه ډېـر مهمـات ترلاسـه کـړي. هغـه وړانديز وکـړ، چې څـه وخـت چې پوځ پـه وردګـو کـې وي د هغـوی ټـول لګښـت بـه ورکـړي او دا چـې د وردګـو لـه لارې دې پـه کابـل بانـدې يرغـل وشـي. عبدالاحـد هغـه يـوازينی کـس و چـې د پاچـا لـه وتلـو سـره يـې موافقـه نـه لرلـه او د هغـه پلان ونه منل شو."(۱۱۶)

پاچـا امـان الله بيـا پـوځ تـه مـخ پـه کنـدهار د مـارش امـر ورکـړ. کنـدهار تـه د امـان الله پـه رسـېدلو سـره سـقاويان مقـر تـه ورسـېدل او هـرات هـم د حبيـب الله لپـاره د عبـدالرحيم

کوهستاني لـه خوا ونیـول شـو. امـان الله د مـی پـه میاشـت کـې لـه کنـدهار نـه د چمـن پـه لار هندوسـتان تـه او لـه هغـه ځایـه د ایټالیې مرکز روم تـه لاړ او هلتـه یـې پاتې عمر تېر کړ. پـه کـال ۱۹۶۱ کـې د اویـا کلونـو پـه مـنګ مـړ شـو او مړی یـې د هغـه د وصیت لـه مخې افغانسـتان تـه راوړل شـو او پـه جـلال آبـاد کـې د خپل پلار د قبر ترڅنګه خاورو ته وسپارل شو.

اوس ددې وخـت رسـېدلی، چـې پـه پاچـا امـان الله او د هغـه په واکمنۍ باندې بحث وکړم او لیکنه پای ته ورسوم.

***

## پایلیک

پـه معاصـر افغانسـتان کـې پاچـا امـان الله یـوازینی واکمـن دی، چـې د عمومـو پـه فشـار سـره لـه وطـن نـه د تـل لپـاره ووت، ټـول سـمونونه یـې پـه ټپـه ودرول شـول. اساسـي قـانون یـې لغـو شـو او ټـول دولتـي نظـام یـې نسـکور شـو او د نـاکرارۍ یـوه نـوې دوره پیـل شـوه. ټولنـه پـه دغـو ټولـو پېښـو سـره پـه ژور ډول زیانمنـه شـوه او افغانسـتان د تمـدن لـه کـاروان نـه کلونـه کلونـه وروسـته ولوېـد. دا پـه واقـع کـې یـوه ملـي غمېـزه وه. پوښتنـه دا ده چـې ولـې دغسـې وشـول او کومـو کسـانو او ډلـو ددغـې پېښې په واقعي کولو کې لاس لاره؟

دا بـه سـادګي وي چـې وویـل شـي لکـه چـې کلـه کلـه اورېـدل کېـږي چـې دا ټـول پـه خپلـه د امـان الله لـه املـه وو. کـه داسـې وای د هغـه پـه وتلـو سـره بـه ارامـي او نورمـال ژونـد یقینـي

شوی او سمونونه به یې په راتلونکي کې له سره نیول شوي نه وای.

په دې کې شك نه شته چې د پاچا ځینې سمونونه بېخایه وو، خو ډېر یې په تېره د پوهنې او صناعتي کولو سمونونه، بنستیز او ضروري وو. دومره وو چې ټول یې په ګړندي توګه او په زور او ځینې یې لا په ننداره ییز ډول پلي کېدل په اصل کې ټولو سمونونو لړ یا ډېر د ټولنې نفوذناکې ډلې اغېزمنې کولې لکه ملکي ماموران، نظامي افسران، قومي مشران، ملایان، قاضیان، روحاني پیران او محمد زي سرداران. دا ټول په عمومي ډول له دې امله چې د سمونونو په پلي کولو او په دولتي لګښت سره د پوهنې او روغتیایي اسانتیاوو د برابرولو، د دفتري ادارو د زیاتولو. د سفارتونو په چلولو، د نویو ماموړانو او د بانډنیو متخصصانو د استخدام، د نویو ودانیو د جوړولو او نظامي وسلو د پېرودلو له امله حکومتي لګښتونه دومره ډېر شوي وو. چې په دولتي عایدونو سره نه پوره کېدل د خوست بلوا هم اقتصاد او هم د حکومت مالي توان ته سخته صدمه ورسوله. انګرېزانو هغه پیسې هم درولې وې، چې افغانستان ته یې په اصل کې د هند د ساتنې په مقصد له ۱۸۸۳ څخه وروسته ورکولې.

په دغه حال کې پاچا امان الله دې ته اړ شو، چې د مځکو مالیات څو وارې ډېر کړي، د ډلو او کسانو عنعنوي مادي

امتيازونه کټ کړي او افسران وهڅوي، چې له خپلو څو مياشتو معاش نه حکومت ته د بسپنې ورکولو په نامه تېر شي. دا ټول په داسې حال کې چې د ملکي مامورانو او نظامي افسرانو معاشونو په اصل کې د هغو د کورنيو لګښتونو پوره کولی نه شول. نو نظامي افسرانو د عسکرو له جېرې او معاش او ملکي مامورانو له دولتي پروجو او خلکو نه ناوړې ګټې ترلاسه کولې. په افغانستان کې ددغو ډلو کسانو هر وخت ناوړې ګټې ترلاسه کولې، خو په هغه وخت کې د ټولو ليکنو له مخې له هغو نه نارضايت عام و، نو دا به ښځايه نه وي چې ووېل شي چې په دغو دليلونو او داسې هم په ځينو پارونکو سمونونو سره د پوهنې له منسوبانو او له وېښو ښځو نه پرته د ټولنې نفوذمنې ډلې او هم ملکي او نظامي افسران لږ و ډېر ټول په بالقوه ډول ناراضي وو. البته په دوی کې هغوی په تېره مشروطه غوښتونکي چې په حکومتي چارو نوي ګمارل شوي وو او هغو چې له خپلو رسمي مقامونو نه ناوړې ګټې ترلاسه کولې، له موجودې وضع څخه راضي وو خو په هغې ازادې فضا کې چې پاچا امان الله واقعي کړې وه، د شکايت غږونه لوړ او عام وو.

په افغانستان کې چې هر وخت له اوږدې خپه کوونکې دورې نه وروسته ازادي واقعي شوې، شکايتونه عام شوي او حتی بې مسئوليته غږونه پورته شوي دي، خو نارضايت

که عام هم وي، د دولتي نظام د نسکورېدلو سبب کېدلی نه شي، دومره چې د هغه چلوونکي په تېره د سر چلوونکي یې په ترکیب کې سره همغاړي، په موخه کې سره یوموټي او په هوډ کې ټینګ او په نیاو باندې ولاړ وي. د پاچا امان الله د نظام د سرچلوونکي دغسې نه و او نظامي قوه یې هم وړه وه.

داړه ماړو چې کابل تر فشار لاندې ونیوه او پاچا امان الله چې کابل پرېښود په اصل کې له دې امله و، چې نظامي پوځ له کابل نه اغېزمنه دفاع ونکړه، یا یې دفاع کولی نه شوه.

لکه چې دمخه مې ویلي، پاچا امان الله له پوره خپلواکۍ ګټلو نه وروسته خپل پوځ د پلار او نیکه له پوځونو نه ډېر ووړ کړی و، په دغه خام فکر چې افغانستان ته له باندې نه خطر متوجه نه دی او اوس د قلم وخت دی نه د توري. دا چې د افغانستان پوځ دده په وخت کې د لومړي ځل لپاره د ۱۱ جنګي الوتکو په لرلو سره د فضايي قوې خاوند شوی و، شاید د هغه په دغه فکر باندې هم اغېزه لرلې وي. په هغو سربېره حتی دغه کم شوی پوځ هم د محمد ولي په لاس هغه وخت چې د حرب وزیر و، او وروسته د شنوارو په یاغي توب سره نور هم ابتر شو.

د محمد ولي د رول په هکله چې د جمهوري غوښتونکو د ډلې د مشر په توګه یې ځانله خاصه اجندا لرله، منشي

علي احمد لیکي چې:

"د حرب په وزارت کې د محمد ولي د ښي لاس سړی (د هغه مرستیال) حبیب الله و. محمد ولي په هغه باندې پوره ډاډه و. ورو ورو (د حرب د پخواني وزیر محمد نادر تهول اعتباري کسان په هغو سره عوض شول، چې دوی غوره کړي وو. د پوځ لرېدل د بودجې له لارې وشو او زېرمه شوې پیسې پوځ ته د څیزونو په اخیستلو ولګېدلې. پېرودنې د فاسدو مامورانو له لارې وشوې، چې په نتیجه کې محمد ولي او حبیب الله دواړو خپل جیبونه ډك کړل."

"ددې لپاره چې حکومت کمزوری کړل شي چې کله څه وخت انقلاب پیښېږي، اساسي وه چې پوځ ناراضي شوی او ناتوان شوی وي، نو محمد ولي په دغه فکر عمل وکړ. ولایتي چونې ګانې په خپله د ولایت له کسانو نه په پچې سره جوړې شوې. دوی ته غله ګي کله کله پوره ورکول کېده. افسرانو هغه خپلوله او عسکرو ته یې هغومره ورکوله، چې ژوندي وي، نو په دې ډول یو عسکر چې وږی و، په دغسې حال کې نه و

چې خپلې کورنۍ ته نفقه پيدا کړي او په نتيجه کې د هغه کورنۍ اړ کېدله چې ګدايي وکړي."(۱۱۷)

دغه لړ شوی او ابتر شوی پوځ د شنوارو په ياغي کېدو سره نوره هم صدمه وليدله. سره له دې هم د غبار په وينا د کابل له دفاع نه لږ څه دمخه "...تقريباً دوازده هزار عسکر غير منظم و منظم در سرتاسر خط کوتل خيرخانه وغيره حصص تمرکز يافت و اشغال قطعی کاپيسا و پروان محتمل گرديد."(۱۱۸) خو له هغو نه کار وانه خيستل شو، يا په اغېزمنه توګه کار وانه خيستل شو. داسې هم د غبار په وينا د پغمان او لوګر له رضاکارو نه کار وانه خيستل شو. د کابل او چاردهي په خلکو باندې د وسلو وېشل هم ګټه ونه کړه او هغه قومي ملېشاوې چې د شنوارو د ځپلو لپاره لا هم په کابل کې وې يا خورې شوې يا يې خپل ټوپکونه په حکومتي عسکرو تش کړل. د کابل په دفاع کې د فيض محمد په وينا "...يوازې د امير سورو ساتونکو [پاچايي رسالې] او يو څه نورو عسکرو د زړه جنګ وکړ، نور پوځ د بغاوت په حال کې و."(۱۱۹) غبار لاوايي، چې "...اختلال دستگاه اداره... بجايې رسيد که دزدی فقط با سه صد نفر تفنگدار... در پای تخت افغانستان حمله برد و وزارت حربيه فقط ۸۰ نفر برای دفاع حاضر کرده توانست بس."(۱۲۰) خو غبار په عين حال کې په ارګ کې د دوو زرو

عسکرو له شته والي نه هم غږېږي.(۱۲۱) فیض محمد د داړه مارو دغه لاس بری عمومي نارضایت او د حکومتي مامورانو او حضرتانو په رول کې ويني، په داسې حال کې چې غبار يې په "... فقدان مرکز عالی سوق و اداره باسبوتاژ دستهای مخفی در داخل دستگاه دولت."(۱۲۲) کې ويني.

په عمومي نارضايت باندې مې کافي بحث کړی. اوس به د لوړې اغېزمنې قوماندانۍ په نشتوالي او سبوتاژ او په حکومتي لوړو کسانو او ملايانو او حضرتانو باندې وغږېږم، چې د نظام په نسکورولو کې يې په ډېر حساس وخت کې ټاکونکی رول ولوباوه.

په حکومتي لوړو کسانو کې په خپله پاچا د ټولو په سر کې و، چې د يوه "انقلابي" مصلح په توګه يې غوښتل د ټولنې ځينې اړيکې په خپل فکر سم او دولتي نظام عصري کړي او ولس د عصري مدنيت او د پرمختګ په کرښې باندې روان کړي.

پاچا امان الله د نورو مصلحانو په شان د خپلې ټولنې موجود حال ته په انتقادي سترګه کتل. پروګرام يې دا شو چې ټولنه او نظام د نظامنامو په ايستلو او د هغو په پلي کولو سره اصلاح کړي. د ډاکټر محمد هاشم کمالي په نظر "د نظامنامو سمونونه چې د پاچا امان الله په دورې کې وايستل شول، تر يوه حده پورې د نونسمې پېړۍ د وروستيو کلونو د ترکيې تنظيماتو له سمونونو نه متاثر او

پـه ځينـو برخـو کـې ورسـره ورتـه وو. امـان الله د تـرکيې لـه مشـر، اتـاترك سـره تمـاس ټينـګ کـړ او ترکـي مشـاوران يـې اسـتخدام کــړل، چـــې هغـــو د نظامنــامو پـــه ايســـتلو کـــې لـــوی رول ولوبـاوه."(۱۲۳) خـو پـه داسـې حـال کـې چې ترکيـي تنظيمـات پـه عمــده ډول د اداري او نظـامي چـارو پـــه اړه وو، د پاچــا امــان الله نظامنــامې د اجتمــاعي، اقتصــادي او اداري چــارو پـــه اړه وې. لومړنـــۍ پـــه اولـــه درجـــه د نظـــام د پيـــاوړي کېـــدو او وروســـتی د نظـــام او ټـــولنې د اصـــلاح کولـــو پـــه هکلـــه وو. د دواړو تـرمېنځ بـل غـټ تـوپير دا و چـې تنظيمـات لـه ۱۸۳۹ نـه تـر ۱۸۷۶ پـورې پـه وار وار ايسـتل کېـدل او نظامنـامې ټـولې پـه دوه ځل وايستلې شوې، پـه داسـې حـال کـې چـې د ټولنې او ادارې اصلاح په ماهيت کې يوه روانه پروسه ده يا بايد وي.

د پاچـا د اوښـي، محمـد حسـن لـه خـولې نـه ويـل شـوي، چـې اتـاترك امـان الله تـه وويـل چـې کـه قـوي نظـامي قـوه ونـه لـري، سـمونونه بـه سـرته ونـه رسـېږي. امـان الله د هغـه پـه سـپارښتنې عمـل ونـه کـړ، خـو د خپلـو پروګرامونـو د پـرمخ بيولـو لپـاره يـې ډېـر ترکـي متخصصـان اسـتخدام کـړل. ترکيـه د هغـه خوښېدلـه او پـه ترکـي ژبـې هـم ښـه پوهېـده. حقيقـت دا دی چـې امـان الله چـې پـه اصـل کـې يـو ملکـي فـرد و د اتـاترك پـر خـلاف چـې مسـلکي جنـرال و، نظـامي پـوځ تـه پـه اهميـت قايـل نـه و، سـره لـه دې چـې د زړو افغانـانو او د يـوه پـوره محـاط شـوي هېـواد سـروالي وربـه غـاړه وه، نـو امـان الله خپـل اصـلاحي پروګرامونـه

د ټولنې مدني کولو او د سیاسي نظام عصري کولو ته متوجه کړل. له مدني کولو نه مې مقصد دا دی، چې د امان الله په نظر د افغان ټولنې ټول فردونه په حقونو کې سره برابر، له قانوني ازادۍ نه بهره من او له تبعیض او امتیاز نه پاك وي. دی افغانانو ته تر دې حده په برابرۍ ټینګ و چې په کندهار کې یې خلکو ته وویل چې "خودم ګاهی خوش ندارم که محض برای ابادی یك شهر غلجایی و درانی را بهم بیاندازم و بلحاظ قومیت و شخصیت ملت عزیزم را مانند سابق تکه تکه و پارچه پارچه کرده رقابت شدیدی بین شان تولید کنم."(۱۲۴)

د غلامۍ له کړۍ نه د هزاره ګانو ازادېدل د امان الله د خوښې غټه موضوع وه. د هغه لور، هندیه په خپلې خاصې فارسۍ کې له ښاغلي طارق بزګر سره په مرکه کې وایي، چې "برای بابه جانم از چیزی که زیاد تر سبب خوشحالی او شده... ازاد کردن غلامان بود. همان شب همان روزیکه دستور داده شد که غلامان ازاد هستند تمام ان شب اتشبازی شد... و این همه برای بابه جانم یك یادګار عمیق ماند. خودش خوش بود از این کارش."(۱۲۵) پاچا امان الله د اغېزمنو ډلو او کسانو امتیازونه په دغه فکر له منځه یووړل، چې "خودم هیچ نوع امتیاز و افتراقی در بین افغان های مملکت خود مناسب نمی بینم."(۱۲۶) دده په نظر د افغانستان هر تبعه افغان یانې یو حقوقي او سیاسي واحد

و" "هر کسیکه در افغانستان سکونت دارد و از هر مذهب و فرقه که باشد و هر کار و صنعت و خدمتیکه میکند تماماً افغانان گفته میشوند."([127]) داسې هم نه وه، چې دده د برابرۍ مفکوره تش د کاغذ د مخ توري وي. لکه چې دمخه مې راوړې د غبار په وینا "روح این مواد قانونی آن بود که در عمل مورد تطبیق قرارداشت و از لوث ریا و مردم فریبی و کذب و نفاق مبرا بود."

د پاچا امان الله په څه لږ لس کلنې دورې کې هېڅ افغان د سیاسي نظر د څرګندولو له امله بندي شوی نه دی. دا چې په هغه وخت کې سیاسي ډلې له افراطي مفکورو سره فعالې وې، د همدغې ازادۍ له برکته و. پاچا امان الله د یوه پاك زړي واکمن په توګه د جاسوسۍ له څانګې نه کار وانه خیست. ښځو ته د ځینو اساسي حقونو په منلو سره پاچا امان الله د ټولنې د مدني کولو په لور یو بل مهم ګام پورته کړ. د ټولنې د مدني کولو په لور یو بل اساسي ګام د پوهنې عام کول وو، چې د پاچا ددغه نظر له مخې واخیستل شو، چې "باید کوشش ما و شما در عالم بودن و دانسته شدن تمام افراد افغانستان باشد اگرچه مسلمان باشد یا هندو و یا دیگر کسی باشد."([128]) ده له پوهې او پوهنې او فن سره دغومره علاقمنې لرله، چې په کال ۱۹۱۴ کې یې د محمود طرزي له ثریا نومې لور سره د خپل واده لګښت د یوه ښوونځي د جوړولو لپاره خاص کړ. د هغه

وخت یوه ځوان پاچا زوی ددغه عمل اهمیت له دېنه جوتېږي، چې حتی د نن ورځې عصري افغانان هم په ودونو کې رواج ته په اطاعت سره ننداره ییز لګښتونه کوي. پاچا امان الله ته پوهنه د مدني مذهب په شان وه لکه امیر شېر علي ته چې پوځ د مدني مذهب په شان و.

د ټولنې د مدني کولو لپاره ددغسې دموکرات یا لږ تر لږه تمثیلي نظام شته والی ضروري وي، چې له وړ او اصولي کسانو نه جوړوي او دوی په اتفاق او مسئولیت سره حکومت وچلوي. امان الله دغسې حکومت نه لاره. د هغه د حکومت د سر ځینې کسان په خپلو کې سخت بې اتفاق او نور یې جمهوري غوښتونکي وو. دوی ټولو په څرګند ډول پاچا ته غوړه مالي کوله، خو ځینو یې په کلکه په پټه ورانی کاوه. دغه ټکی به زر نور هم وسپړم. د پاچا امان الله بل اساسي نوښت د لویو جرګو له لارې د قانونونو ایستل او د سمونونو پاس کول وو. له لویو جرګو نه کار اخیستل ښیي چې پاچا هغومره چې په ولس ډډه کوله، په عنعنوي اغېزې لرونکو ډلو یې نه کوله، خو د لویو جرګو استازو د ناکرارۍ په وخت کې ونه شو کولی یا یې نه غوښتل خلك د هغه په لیکه کې ودروي. د پاچا غټه ماتی دا وه، چې هغو ته یې چې د زړه خدمت کاوه، په سخته کې ورسره ونه درېدل یا له هزاره ګانو نه پرته، ټول ورسره په ټینګه ونه درېدل. په نړۍ کې به بل دغسې ولس نه وي، چې پاچا یې ورته هم په

قانون او هم په عمل کې فردي ازادي ومنې، خو د هغه استازي هغه رد کړي. که د غبار دغه وینا دقیقه وي د خوست د یاغي ګرۍ په وخت کې د لویې جرګې د وکیلانو له خوا "کلمه ازادي فردی منحصر بامور شخصی ګردید نه در امور سیاسی و عقیده وی."

پاچا امان الله په شخصي لحاظ له افغان واکمنو نه ځرګند توپیر لاره. په افغان واکمنو کې یوازې ده په افغانستان کې یوه نکاحي ښځه لرله چې هغه هم دده په شان سمون پاله او لومړۍ افغانه وه، چې د چادري له قید نه یې ځان ازاد کړ او ښځو او پوهنې ته یې خدمتونه وکړل. امان الله او دا د سراج الاخبار په اداره کې سره اشنا او بیا سره ملګري او مېړه او ښځه او پاچا او ملکه شول. د پاچایۍ او ملکې په دوره کې دوی دواړه د ځوانۍ په جوش کې وو او دواړو فعال ژوند لاره.

امان الله د پاچاهۍ په وروستیو میاشتو کې د عالیې په نامه د خپل تره، سردار نصرالله لور ځان ته په نکاح کړه، ددې لپاره چې مخالفانو ته وښیې چې دی نور نو د نارینه لپاره یوازې د یوې ښځې په نکاح کولو بانديې ولاړ نه دی. دغه واده سیاسي و او دوام یې ونه کړ، خو امان الله په ایټالیې کې له یوې ایټالوۍ نجلۍ سره واده وکړ. په دې ډول هغه په ایټالیې کې دوه نکاحي ښځې لرلې.

امان الله د پاچایۍ په وخت کې هم د یوه عادي افغان

غونډې ژوند کاوه. د بازار په کڅه کوڅه کې به په بدلو جامو کې ګرځېده، د ډوډۍ اخیستلو لپاره به یې په تېل ماتېل کې ځان ډوډۍ پخونکي ته رساوه، ددې لپاره چې د خلکو په حال ځان خبر کړي. داسې یې هم د قومي لویانو په مېنځ کې په حکومت او پاچا نیوکې کولې او له هغوسره به په ګډه د عرض کولو لپاره ارګ ته روانېده او چې په لار کې به پېژندل کېده، مشران به خجالت کېدل او بیا به پاچا هغوی مېلمانه کول. خو ددې پرعکس هغه د امنیت ګډوډونکو په برابر کې هغسې بې رحم و لکه نیکه چې یې و. د هغو د له مېنځ نه وړلو لپاره به یې سم له لاسه د اعدام حکم ورکاوه، بې له دې چې د اعدام پایلې په نظر کې ونیسي، لکه چې د کندهار داړه مارو او د سقاو زوی په اړه یې دغسې حکمونه ورکړل.

پاچا امان الله موټر او موټر سایکل په مهارت سره چلول، د ټوپک او ټوپنګچې په استعمال ښه پوهېده. ماهر اس سپور و، د ټینس لوبه یې کوله، پیانو یې وهله او یوې یې کوله. د هغه د یوه ستایوال په وینا "در سرای شاهي همیشه نمی نشیند. در فضاهای وسیع کار و ګردش میکند. بموتر هوا خوری تنها میرود."(۱۲۹)

امان الله د ژوند تر پایه پورې کارګر و. په ایټالیې کې یې نجاري او برقي ګري هم کوله. د هندیې په وینا "اګر موتر خراب میشد ،لباس مستری را میپوشید ، زیر موتر

میرفت و آن را درست میکرد." ددغسې په کار مین شخص لپاره له پاچایۍ قدرت نه لوېدل او بیا جلا وطن کېدل اسان نه وي. هندیه وایي چې پلار یې تر ۳۹ کلنۍ پورې دغومره ډېر کارونه کړي و، چې "دفعتاً بیکار شد، بیکاری و دوری از وطن برایش بسیار سخت بود." غازي امان الله هم د غازي محمد ایوب په شان شو چې هغه هم د ځوانۍ په جوش کې په هندوستان کې جلاوطنی شو، خو هلته هم د هغه شاوخوا ډېر افغانان وو، په داسې حال کې چې امان الله د افغانانو له ملګرتوب نه په ایټالیې کې بې برخې و.

د پاچا امان الله بله ځانګړتیا مناقشه او مناظره کول وو، له امامانو او دیني عالمانو سره هم. هغوی ته به یې ویل چې خطبه باید د خلکو په ژبه وي، چې هغوی پرې پوه شي. په خپله به یې شمله ییز لنګوټۍ په سر او توره په ملا خطبه ویله او په دغسې جوش او احساس سره به یې وعظ کاوه، چې اورېدونکي به ې په ژړا کول. په وګړو باندې یې تر دغې درجې پورې اعتماد کاوه، چې حتی څه وخت چې کابل د سقاو زوی تر خطر لاندې هم و، باغ عمومي ته لاړ او هلته یې خلکو ته خبرې واورولې، خو دده زړورتیا کله کله د ماجرا غوښتنې بڼه نیوله، لکه په منځنۍ اسیا کې د ده د ډېر پرمختللو هڅې. ده په دغسې سیمې او خلکو کې په خپلې سروالۍ سره اسلامي کانفدرېشن غوښته چې د بری چانس یې نه و او د ختیځو پښتنو په مېنځ کې یې هغسې

کوښښونه ونه کړل، په داسې حال کې چې دغه سیمې په اصل کې د افغانستان زړه و او خلکو یې د خپلواکۍ په جنګونو کې دغه واقعیت په کړو سره ثابت کړی و. ښښې ښیي چې محمود طرزي او هغو ترکي پاشایانو دی منځنۍ اسیا ته هڅولی او د هغه پرعکس د سردار نصرالله مړینې دی له دغو پښتنو نه لیرې کړی وي. هرڅه چې وو، پاچا امان الله په دواړو کې ناکام پاتې شو.

د پاچا امان الله ډېره غټه ځانګړتیا، چې نابریالی یې کړ دا و، چې دی ډېر ایډیاپال (Idealist) او لږ واقع پال (Realist) و او له ژوند پېښو نه یې زده کړه نه کوله، په داسې حال کې چې د یوه واکمن لپاره هغه هم د افغان تینګې سنتي ټولنې واکمن لپاره حتمي ده، چې د خپلې ټولنې په ژوند پېښو او د خلکو په ارزښتونو او غوښتنو هغسې چې په واقع کې وي، پوه وي او د هغو په نظر کې نیولو سره سمونیزې کړنلارې وباسي او د همفکرو ملګرو او ډاډمنې نظامي قوې په لرلو سره یې په پلې کولو لاس پورې کړي. سره له دې هم ده غوښتل د ټولنې او حتی خلکو هغه نیمګړتیاوې سمې کړي، چې د هغه په فکر پرمختګ او ښه ژوند ته خنډ کېدل. په دغې لار کې یې ربړونه ګالل او مخالفتونه زغمل. دی په رښتیا یو نوښتګر او غیر عادي افغان واکمن و، خو دغه پاچا امان الله د اروپا په شپږ میاشتې سفر سره هغومره تحول وکړ، چې نور یې ممکن په

کلونو کې ونه کړي. امان الله له سفر نه وروسته نور نو هغه پخوانی دموکرات او ولسي واکمن نه و. له ده نه يو بل امان الله جوړ شوی و، هغسې امان الله چې زورواکۍ ته اوښتی او ددغه فکر له مخې يې حکومت کول پيل کړل، چې يا تخت يا تابوت. د غبار په وينا "وقتيکه شاه برگشت آنمرد گذشته نبود او بسيار خودرای و خود خواه و مغرور شده بود و با اقدامات عجولانه يې که نمود بزودی افغانستان را مستعد يك انفلاق منفی نمود."(۱۳۰) منشي علي احمد هم دغه فکر په لږ څه نرمو عبارتونو کې څرگندوي.

د پاچا امان الله له کړو نه داسې ښکاري، چې دی د اروپا په سفر کې تر دې حده د اروپايي مدنيت تر اغېزې لاندې تللی و، چې نور يې نو د کرښته افغانانو واکمني نه خوښېدله. د غبار تبصره پرڅای ښکاري، چې مطلب يې دا دی چې امان الله وضع په خپله کړکېچنه کوله. په رښتيا هم د هغه، هغه فکر چې د کابل خلك دې سمدلاسه په جامو او چلند کې د اروپائيانو په شان شي، له هغه نه غېر بله معنی نه لري. دا بل څه نه و، خو د افغان کلتوري ارزښتونو په برابر کې د جنگ اعلان او هغه هم په دغسې حال کې چې څلور کاله دمخه تر هغو ډېر نرم سمونونه په مطلق ډول ناکام شوي وو. په ټوليز ډول د پاچا د دوهمې دورې سمونونه د لومړۍ دورې سمونونو په تناسب ډېر پاروونکي وو. داسې هم په لويه جرگه کې له ملايانو سره د پاچا چلند

زیر او د یوه پاچا لپاره د ملت د استازو په برابر کې نامناسب و. بیا هم د پاچا ددغو تېروتنو او پارووونکي چلند سره سره فکر نه کېده، چې د داړه مارو یوه ډله به د افغانستان پاچایي نسکوره کړي.

د پاچایي په نسکورولو کې د جمهوري غوښتونکو، په سر کې د محمد ولي، د شور بازار حضرت او نورو سملاسي رول تاکونکی ثابت شو. لکه چې دمخه مې ویلي د جمهوري غوښتونکو دوو مخکښانو یاني غلام صدیق او محمد ولي د پروګرام له مخې په پټه د شنوارو او د کوهدامن داړه مارانو په لمسولو سره بې امنیتي واقعي کړې او د کابل د نسکورېدلو لپاره ډګر هوار کړی و. دا دواړه هغه کسان وو، چې پاچا امان الله ورته لوړ لوړ مقامونه او غټ غټ انعامونه ورکړي وو، دغسې مقامونه چې ممکن د خپلې خوښې په نظام کې یې خپلولی نه شول، د دوی د نورو ملګرو نومونه مې دمخه راوړي. شجاع الدوله او د دربار وزیر محمد یعقوب هم د دوی په ډلې کې وو. والي علي احمد بارکزی هم جمهوري غوښتله، خو هغه د دوی په ډلې کې نه و. دوی ټولو د حکومتي لوړو کسانو په توګه په رسمي ډول حکومتي چارې پرمخ بېولې، خو په پټه یې د جمهوري نظام راوستلو په غرض ورانول کول. په دې ډول دوی سربېره پردې چې د دوه مخو په شان چلند او ژوند کاوه، په دې نېوهېدل چې که جمهوري نظام بریالی

کېږي، هغه به په کوم ډول کودتا سره وي او ټینګېدلی به نه شي. له دوی نه یو هم دداغسې ولسي اعتبار او قوت خاوند نه و، چې ولس به یې د مشر په توګه وپېژني او امنیت به ټینګ کړای شي، نو د حېرانۍ خبره نه ده چې د اړودوړ په وخت کې دوی هم، د نورو مشروطه غوښتونکو په شان، د اوبو پر سر د هغو وچو وښو په شان شول، چې هرې خوا ته وړل کېږي. د دوی د سر کسانو په هماغه اول سر کې حبیب الله ته بیعت وړاندې کړ. په دې ډول دوی د شوربازار حضرت، سردار محمد عثمان محمدزی او یو څو نورو ملایانو د افغانستان د پاچایۍ لپاره یو نالوستی داړه مار تر پاچا امان الله نه غوره وباله.

په لوړو مامورانو کې پاچا امان الله بې رښتینو ملګرو نه و. د هغو د سرکسان، نایب الحکومه ګان، د دولتي شورا سروال سردار شېر احمد، عبدالاحد وردګ، د حرب وزیر عبدالعزیز او محمود یاور وو، چې تر پایه پورې له هغه سره ټینګ ودرېدل، خو دوی سره یو موټی نه وو او په پېښو یې اغېزمن اثر ونه کړای شو. په ټولیز ډول حکومتي مامورانو د لوړو مامورانو په ګډون په بدی اخېستلو او غرور ښوولو کې نوم ایستلی و. د منشي علي احمد په ژبه "د امان الله مامورانو د په خپل سري او نازړه سواندي چلند د هغه رجیم بې اعتبار کړی و." (۱۳۱)

په افغانانو کې تراوسه هم اورېدل کېږي، چې د پاچا

امــان الله نظــام د انګرېزانــو پــه توطيــو ســره نســکور شــوی. منشــي علــي احمــد پــه دې اړه وايــي، چــې "پــه خپلــه پــه افغانســتان کــې هغــه علتونــه چــې د انقــلاب ســبب شــول، د افغــان مــامورانو او درباريــانو لــه خــوا د برتــانيې حکومــت توطيــو تــه منســوب شــوي دي. کــه څــه هــم دغــه واقعيــت پــوره څرګنــد و، چــې د برتــانيې حکومــت پــه دغــه انقــلاب کــې لاس نــه درلــود، افغانــانو تــه دغســې ويــل کېــدل، چــې دغــه پــاڅون د برتــانيې د حکومــت د معــاش خــورو ملايــانو لــه لارې شــوي دي، ددې لپــاره چــې د افغــان ملــت پــرمختګ شــنډ شــي او ټــول هغــه تجويزونــه کفــري وګڼــل شــي، چــې ددغــه ملــت د پــرمختګ لپاره ګټور وو."(۱۳۲) غبار وايي چې:

> "اينکــه ناکــامی مرحلــه دوم ريفــورم حکومــت امانيــه را بعضــاً تنهــا نتيجــه مخالفــت اقليــت فيــودال و روحــانی و يــا توطيــه و مــداخلت يــك دولــت خــارجی ميدانند تماماً منطبق با حقيقت نيست."(۱۳۳)

ډاکتـر ادمـك چـې خپـل کتـاب يـې د برتـانيې او د هنـد د حکومـت د رسـمي پـاڼو او راپورونـو لـه مخـې ليکلـی داسـې کومـه ليکنـه نـه ده ليـدلې، چـې انګرېزانـو بـه د پاچـا امـان الله پـه نسـکورولو کـې لاس لرلـی وي. دی هـم وايـي چـې "د امـان الله بنسـټيزو سـمونونو بنسـټيز عکـس عمـل توليـد کـړ." (۱۳۴) تراوسـه پـورې دغسـې ليکنـه ليـدلې شـوې نـه ده، چـې د هغـې

لـه مخـې بـه د پاچـا پـه نسـکورېدلو کـې د هنـد حکومـت لاس لرلی وي.

د برتـانوي هنـد حکومـت او د برتـانيې د حکومـت سياسـت دا نـه و، چـې د امـان الله نظـام دې نسـکور شـي، هغـه هـم د داړه مـارانو لـه خـوا چـې پـه واك کېـدو سره بـه يـې افغانسـتان پـه حتمـي ډول او هندوسـتان پـه احتمـالي ډول نـاارام وي. کرنيـل ټـي. ای. لارنـس، چـې د عربسـتان لارنـس پـه نامـه يـاد شـوی او د لـوی جـنګ پـه بهیـر کـې یـې عربـان د عثمـانیې امپراتوري پر ضد په بري سره لمسولي وو، هـم لـه هندوسـتان نـه وایسـتل شـو. دی د ۱۹۲۸ پـه مـی کـې یـانې هغـه وخـت، چـې امـان الله پـه سـفر بوخـت و، د میـران شـاه پـه نامـه پـه کراچۍ او میـران شـاه کـې پـه هـوایي قـوې کـې خـدمت کـاوه، خو د هنـد حکومـت هغـه پـه کابـل کـې د برتـانيې سـفير همفريـز پـه ټينګـه غوښتنـه انګلسـتان تـه ولېـږه. (۱۳۵) لکـه چـې دمخـه مـې ويلـي د برتـانيې حکومـت لـه امـان الله سـره مـنلې وه، چـې د هغـه حکومـت تـه بـه ډول ډول عصـري توپونـه او ټوپـك ورپـا ورکـوي. خو پاچـا امـان الله پخـوا لـه دې چـې دغـه وسـلې کابـل تـه ورسـېږي، پـه سـمونونو بيـا پيـل وکـړ. البتـه پـه دې کـې شـك نـه شـته، چـې د افغانسـتان او د هنـد حکومـت اړيکـې د خټيځـو پښتنـو پـه سر کـړکېچن و او احتمـال لـري، چـې د هنـد د حکومـت سـرحدي مـامورانو بـه د خپلـو معـاش خـورو ملايـانو لـه لارې د پاچـا امـان الله او ملکـې ثريـا پـر ضـد

لمسوني كړې وي. كه دغه لمسوني په رښتيا شوې وي، هغه به لمسوني وي، نه نظامي عمل. په هر حال په دې كې شك نه شته. چې مذهبي او روحاني ډلو په تېره حضرتانو د پاچا امان الله او د هغه د سمونونو پر ضد د اسلامي شرع په نامه بيخي ډېر تبليغونه وكړل او وګړي يې د هغو پر ضد د كړو لپاره ولمسول.

د پاچا امان الله په وخت كې د افغانستان ملايان يو ځل بيا نفوذمن شوي وو. لكه د امير عبدالرحمن له دورې نه دمخه چې وو. افغان ملايان پر افغانستان باندې د انګرېزانو له لومړي يرغل نه وروسته ډېر نفوذمن شول، نه يوازې په دې چې د خپلو نالوستو مسلمانو وطنوالو مذهبي مخكښان وو، بلكې له دې امله هم چې له هغو سره په ګډه د (كاپرو) يرغلګرو په مقابل كې جنګېدل. له دغو "كاپرو" سره غزاګانو افغانانو په عمومي ډول او پښتانه په خاص ډول ټينګ مذهبي كړل، په داسې حال كې چې تر هغو دمخه افغانان د ګرځندويانو د ليكنو له مخې په ټولې اسيا كې تر نورو خلكو ډېر د زغم وړ خلك وو. د افغان ملايانو نفوذ د افغان_انګليس د دوهم جنګ په تېره د ميوند په جګړې كې نور هم ډېر شو. حكومت هم هغسې چې ملكانو، خانانو او سردارانو ته مواجب وركول نفوذمنو ملايانو او سيدانو ته هم د وظيفې په نامه مواجب وركول، په اصل كې په دې هيله چې دوى به د دوى د رقيبانو او ياغيانو او باندنيو

پرغلګرو پر ضد شرعي فتواګانې ورکوي، نو هم له دې امله او هم دا چې ملا کېدل د دینې زده کړې په تصدیق لرلو سره مقید نه وو، چې باید وای هر مسلمان ملا کېدلی شو، دومره چې یو څو دیني کتابونه یې په عربي کې لوستلی او په جامو او شکل کې ملا معلومېدلی شو. نالوستو وګړو ته دوی ټول ملایان او د درناوي وړ وو، نو ځکه په افغانستان کې د دوی شمېر له حساب نه وتلی و، خو امیر عبدالرحمن د ملایانو قوت مات کړ، په اصل کې له دې امله چې ډېرو دده په مقابل کې په ۱۸۸۱ کې د غازي محمد ایوب او په ۱۸۸۶ کې د غلزیو په پاڅون کې د ملا عبدالکریم خوا نیولې وه. وروستی د ملا مشك عالم اندړ زوی و. امیر یوازې هغو ملایانو ته د مواجبو ورکول ومنل، چې د ملا خوسه په مشرۍ د یوه کمیسیون له خوا په دیني چارو کې په ازموینې کې بریالی کېدل. څنګه چې د اسلام په اړه د زیاترو ملایانو پوهه سطحي وه، ډېر یې په ازموینې کې پاتې شول امیر دا هم ویل، چې "زما... هغه کسان نه خوښېږي، چې د دین په نامه په پاچایې سیاست کې ګوتې وهي."

ملایان د پاچا امان الله تر وخته پورې بېرته په قوت شول، زیاتره له دې امله چې د انګرېزانو په مقابل کې دوی د ختیځو پښتنو په غزاګانو کې برخه اخیستې وه. تر دغه وخته پورې د هندوستان د دیوبند مدرسې نه فارغ ملایان

هم افغانستان ته ننوتل. دغه مدرسه د نونسمې پېړۍ په وروستۍ نیمایې کې په کار لوېدلې وه. لکه چې دمخه مې ویلي و، پاچا امان الله لویې جرګې ته دغسې شواهد وړاندې کړي وو، چې د هغو له مخې په افغانستان کې دیوبندي ملایان د یوه باندني ځواك په لمسه (برتانوي هند) پارونې کولې. غبار هم په خپل کتاب کې د حبیب الله له قول نه وایي، چې هغه له پاړه چنار نه کوهدامن ته د تګ په لار کې په څو ځایونو کې د ملایانو له خوا د عمل لپاره هڅول شوی و. ملایان البته د پاچا په سمونونو سره پارېدلي وو. دوی له دېنه هم وېرېدل، چې پاچا امان الله به د ترکیې د نوي مشر اتاترك په شان وي، چې ملایان یې ځپلي او دولت یې سیکولر یا دنیایي کړی و. خو څنګه چې ملایان خواره واره وو او منظم قوت یې هم نه لاره او زیاترو یې د وګړو په سخاوت ژوند کاوه، د دولت په مقابل کې یې عمل نه شو کولی، نو دوی ډنډورې ګډولې، پاورنې کولې او په پاچا یې تور لګاوه، چې "کافر" شوی دی. سره له دې هم د دوی له خوا نظام ته خطر متوجه نه و. خطر هغه وخت ورته متوجه شو، چې محمد ولي او حضرتانو د عمل سري یا ډله د نظام او پاچا پر ضد په حساس وخت کې ولمسوله.

د حضرتانو یا مجددیانو په نامه کسان د هندوستان له سرهند نه افغانستان ته راغلي. ددغې کورنۍ یو نومیالی، شیخ احمد مجدد الف ثاني، په دین او تصوف کې د ژور

فکـر خاونـد و. د هغـه لـه املـه مسـلمانانو ددغـې کورنـۍ درنـاوی کـاوه. دوی لـه دې ډېږ نـه هـم نفوذنـاك شـول، چـې د نقشـبندي طریقـه یـې چلولـه. کـه څـه هـم سـني اسـلام او تصـوف سـره جوړ نـه دي بیـا هـم د دوی درنـاوی کېـده، لـه دې املـه چـې دوی شـرع پـه فعـال ډول پاللـه او د خپلـې طـریقې پـه حکـم یـې کـوښښ کـاوه، چـې د ټـولنې سـروال پـه مسـلماني او د اسـلام پـه تطبیـق کـې ټینـګ وي. د نقشـبندي طریقـه پـه دې ډول سیاسـي ده، پـه داسـې حـال کـې چـې د صـوفي ګـرۍ نـورې طـریقې سیاسي نه دي.

د پاچـا امـان الله پـه وخـت کـې حضـرتان د زاړه ښـار پـه شـوربازار کـې اوسـېدل. لـه دې املـه دوی د شـوربازار پـه حضرتانو باندې هم یادېدل.

د حضـرتانو نومیـالي ورونـه درې تنـه وو پـه نومونـو د فضـل محمـد، فضـل عمـر او محمـد صـادق. لومړنیـو دوو یـې د خپلـواکي پـه جګـړه کـې د جنـرال محمـد نـادر او د هغـه د ورونـو پـه کامـپ کـې د جهـاد لپـاره تبلیـغ کـاوه. فضـل عمـر مجـددي پـه زرملـه کـې پـه یـوې غونـډې کـې خلکـو تـه وویـل، چـې "پادشـاه افغانسـتان... عـزم مصـمم فرمـوده... ازادی نامـه افغانسـتان را بهـر فـداکاری کـه باشـد بهمکـاری ملـت مسـلمان و غیـور افغانسـتان از انګلـیس اسـتعمار جـو بدسـت دارد. اګـر شـهید شـدیم جنـت الفـردوس جـای ماسـت و اګـر زنـده و مجاهـد مانـدیم باعـث سـعادت داریـن مـا اسـت...

استقلال خود را بفدا کردن نفس، مال و اولاد و احفاد بدست می اوریم." (۱۳۶)

پاچا امان الله بيا د دوی د خدمتونو په درناوي دوی په ترتيب سره د شمس المشايخ او نورالمشايخ په لقبونو وويارل، خو شمس المشايخ فضل محمد په ۱۹۲۴ کې ناڅاپه مړ شو او پاچا د هغه په مړينې سره يو ټينګ ملاتړ له لاسه ورکړ او ورور يې نورالمشايخ فضل عمر مجددي د پاچا او د هغه د سمونونو مخالف شو ان تر دې چې د خوست په اله ګوله کې يې د ياغيانو خوا ونيوله او بيا له افغانستان څخه ووت او په اسماعيل خان ډېره کې ډېره شو. له هغه وروسته ټولو حضرتانو نه يوازې د پاچا او د هغه د سمونونو مخالفت کاوه، بلکې له نورو مخالفانو سره يې د پاچا او د هغه د سمونونو پرضد دسيسې هم کولې.

پاچا امان الله لا اروپا ته په سفر روان شوی نه و، چې په کابل کې محمد صادق مجددي له ځينو محمدزي سردارانو او ملايانو سره په توطيو لاس پورې کړ. د غبار په قول په کابل کې د حضرتانو امان الله ضد کړۍ ښه فعاله وه. دا هغه وخت و، چې بيا هم د هغه په وينا "در تمام ولايات افغانستان حلقه های مخفی و مخالف به فعاليت ضد دولت درامدند "(۱۳۷)

د ادمك په وينا

"د ۱۹۲۷ په پای کې چې امان الله په

سفر بوخت و، فضل رحیم او ګل اغا [محمد صادق] له قومي کسانو او ملایانو سره په پټه خبرې کولې، چې پرمختګ غوښتونکي به څنګه له قدرت نه وغورزول شي. د سمت جنوبي او کندهار عالمانو د هندوستان په اسماعیل خان دېره کې غونډه وکړه او په هغې کې په دې وغږېدل، چې د عصري کوونکو پر ضد به څنګه عمل وشي. مقصد دا نه و، چې پاچا له واکمنۍ نه ګوښه کړل شي، بلکې د ځوانو افغانانو پرضد کودتا وشي او پاچا امان الله په ستنېدو سره له یوه شوي عمل سره مخامخ شي. ساتنپالو پرېکړه وکړه چې په وروستي ګام کې دې پاچا ګوښه او جمهوري نظام په پښو ودرول شي."([138])

خو د عمل ګام په کابل کې د محمد صادق مجددي په تحریك واخیستل شو. ښاغلی فضل غني مجددي په خپل اثر کې ددغه ټکي په هکله وایي، چې "علمای افغانستان برای توحید صف در منزل حضرت صاحب در شور بازار اجتماعات نمودند."([139]) منشي علي احمد دده د "علمای افغانستان" د ناځرګندې افادې په تشخیص کې وایي، چې پاچا امان الله له ستر قاضي عبدالرحمن پغماني نه په پټه

وغوښتل، چې د ښځو مخ لوڅي او سمونونه له اسلامي شرع سره موافق وښيي. هغه ښښه وغوښتله. هغه ته بيا اخطار ورکړل شو چې که سمونونه يې تصديق نه کړل، وبه وژل شي. نور نو د منشي علي احمد په ژبه:"هغه د شور بازار حضرت له دغې موضوع نه خبر کړ او هغه داسې وګڼله، چې که عبدالرحمن د امان الله د کرکې قرباني شو دده پای به هم دهغه په شان وي او بيا دوی پرېکړه وکړه، چې جنوبي ته وتښتي او له هغه ځايه له حضرت شېراغا سره په هند کې يوځای شي."(۱۴۰)

د ۱۹۲۸ کال په ژمي کې دوی له قاضي فضل حق، قاضي عبدالقادر پغماني او نورو سره اول په ځايو کې د عزيز خان ځاځي په کلي کې واړول او بيا خوست ته لاړل. دوی هلته خلکو ته وويل چې "پروګرام شاه مخالف شريعت و بضرر ملت افغان است. ما اينجا امديم تا باتفاق مردم پاکتيا پيشنهادات خود را به شاه بفرستيم و مانع خرابی افغانستان گرديم."(۱۴۱) له احمدزيو نه پرته د پکتيا هېڅ قوم د دوی وړانديز ونه مانه. د جنوبي عسکري قوماندان عبدالغني سرخابي هم له هغوی سره سر ونه خوځاوه، خو تولو ورته ډاډ ورکړ، چې حکومت ته به يې په لاس ورنکړي او که غواړي روغ رمټ به يې هندوستان ته ورسوي.

دوی د قاضي عبدالرحمن د وړانديز په برابر کې حکومت ته د تسليمېدو فيصله وکړه. د هغه وړانديز دا و

چې "پیش روی ما دو راه بیشتر نیست. یا فرار بهند [که] در انصورت حکومت انګلیس مارا با عزاز خواهد پذیرفت ولی برای، که مسلمان و افغانیم مرګ بهتر از این اعزاز اجنبی است. راه دوم تسلیم شدن بحکومت افغانستان و دست از جان برداشتن است. ایا رفقا چه میګویند؟ همه ګفتند، شق دوم را ولو بفدا کردن جان ما باشد ترجیح میدهیم."(۱۴۲) هغه و، چې دوی ټول محلي حکومت ته تسلیم شول، چې بیا په چټکۍ سره کابل ته ورسول شول. پاچا امان الله په پغمان کې له هر یوه سره بېل بېل وکتل او بیا یې د محاکمې لپاره د حرب وزارت د حرب دیوان ته وسپارل، چې د همدغه مقصد لپاره د حرب وزیر عبدالعزیز، د قول اردو قومندان محمود سامي، فرقه مشر فضل احمد، کندك مشر سید شریف، کندك مشر عبدالله نه جوړ شوی و. دیوان په ترتیب سره د پاچا، محمد ولي، عبدالعزیز، محمود سامي په سروالۍ محاکمه وکړه. محاکمه یوه میاشت اوږده شوه. محاکمه کېدونکو له خپل عمل نه انکار ونه کړ. په محاکمه کوونکو کې عبدالعزیز او کندك مشر سید شریف اعدام غوښته او نور د اعدام مخالف وو. سره له دې هم د غبار په وینا دغه دیوان د ټولو د اعدام حکم وکړ او پاچا هغه لاسلیك کړ. محکوم شوي وروسته په سیاه سنګ کې اعدام شول، له محمد صادق مجددي او د هغه وراره محمد معصوم مجددي نه پرته، چې

پاچا هغوی د شمس المشايخ د خدمتونو په درناوي له اعدام نه معاف کړل او په بندي کولو يې بسنه وکړه.(۱۴۳)

داسې ښکاري چې د پاچا په کامپ کې چا د قاضيانو د اعدام په پايلو باندې سم سوچ نه و کړی. دوی پردې باندې هم فکر کړی نه و، چې افغانان په ټوليز ډول له ظلم نه بده وړي او له مظلومانو سره خواخوږي کوي، هغه هم هغسې مظلومان چې قاضيان وي. د اعدام د پلويانو دليل به دا و، چې د حکومت مخالفان عبرت واخلي او ټولو ته ثابته وي، چې حکومت پياوړی او په وضع حاکم دی، خو د اعدام پايلې د هغه پرعکس شوې. غټه خبره دا ده چې قاضيانو او مجدديانو په خپله ځانونه حکومت ته تسليم کړي وو بې له دې چې د حکومت پر ضد يې عمل کړی وي. دوی په راتلونکي کې هم امنيت ته خطر کېدلی نه شو. هو، دوی د حکومتي ضد عمل نيت درلود. خو عمل يې ونه کړ يا يې عمل نه شو کولی. ځکه چې دغه موضوع په اصل کې سياسي وه، سياسي مصلحت دا و چې دوی يوازې په بندي کېدلو سره بې اثره شوي او په دې ډول د اعدام د ناورو پايلو مخه نيولی شوې وای، خو په اعدام سره دوی پياوړي شول او په خپل مقصد ورسېدل. د هغو په اعدام سره خلک وپارېدل او هغه د شنوارو او د کوهدامن داړه مارو د بغاوت لپاره لومړی گام شو. د ښاغلي مجددي په وينا حتی "بعضی از وزرا و بزرگان دولت موقف امان الله خان را تائيد

نکردند مثل محمود طرزی و عبدالهادی خان داوي وزیر تجارت و عبدالرحمن لودي همه استعفی خود را تقدیم پادشاه کردند."(۱۴۴) ځینې وزیران به د قاضیانو په اعدام سره ناراضي شوي وي، خو ددغې موضوع په سر هېڅ وزیر ځان گوښه کړی نه و او لودي خو دمخه ځان گوښه کړی و یا گوښه کېدو ته اړ شوی و.

له اعدامونو نه وروسته

"... د امان الله پر ضد گوند د ملایانو په مېنځ کې په ازادۍ سره تبلیغ کاوه، چې امان الله عزم کړی د مصطفی کمال په مشوره ملایان یا ووژني یا یې له ملك نه وباسي، ددې لپاره چې د پرمختگ د لارې خنډونه له مېنځ نه یووړل شي او دا چې امان الله د عبدالرحمن په اعدامولو سره په خپلې مبارزې پیل کړی. دغه تبلیغ هغسې اثر وکړ، چې هیله یې کېدله. ملایان چې پوره نارام شوي وو، په امان الله باندې یې د کافر تاپه ولگوله. دوی د مخ لوځۍ پرضد هم تبلیغ کاوه او خلکو ته یې ویل، چې د دوی ښځې به هم ژر مخ لوڅې شي او ټولې لوڼې به یې ترکیې ته واستولې شي. ولس د امان اله پرضد شو."(۱۴۵)

یو شمېر دیني عالمان له افغانستان نه ووتل او په دېره اسماعیل خان کې له نورالمشایخ سره دېره شول. نورالمشایخ سلیمان خېل د امان الله پر ضد وتورول. حضرتانو په سلیمان خېلو کې مریدان لرل. همدغو سلېمان خېلو د بل کال په مې کې په غزنې کې د پاچا د پوځ په شا کېدلو کې غټه ونډه واخیسته.

لکه چې دمخه مې شرح ورکړې، په کابل کې محمد صادق مجددي، محمد ولي او سردار محمد عثمان او نورو حبیب الله ته د کابل د نیولو لپاره لار خلاصه کړې وه، پاچا امان الله په کابل باندې د حبیب الله له اول یرغل نه وروسته محمد صادق مجددي او وراره یې معصوم مجددي له بند نه خوشې کړل، په دې هیله چې هغوی به د ارامۍ په ټینګولو کې له خپل نفوذ نه کار واخلي، خو هغوی چې د بند په لنډې مودې کې سختۍ ګاللې وې، پرېکړه کړې وه چې نه یوازې د امان الله د واکمنۍ بلکې د هغه د کورنۍ واکمنۍ د پای ته رسولو لپاره کار وکړي. هغو ته د عمل موقع هغه وخت په لاس ورغله، چې پاچا عنایت الله دغه محمد صادق مجددي د یوه هیات په سروالۍ حبیب الله او سید حسین ته د جنګ بس کولو او د خپل واکمنۍ منلو لپاره واستاوه، خو هغوی د خپل ماموریت پرعکس په خپله حبیب الله د پاچاېي کولو لپاره په دغو کلمو سره وهڅاوه :"ته، نه عنایت الله د تخت رښتینی مستحق کېږې. که

عنايت الله تاته بيعت نه کوي، د هغه عمل به د شريعت پر اساس ناجايز وي."

حقيقت دا دی چې په خپله د دوی دغه نظر د اسلامي شرع مخالف و. د اسلامي شرع له مخې هغه څوك د اسلامي ټولنې يا امې د سروالي کېدو وړ وي، چې د ښو صفتونو خاوند وي لکه مسلماني، عدالت، تقوا، په جرمونو نه ککړتوب او داسې نور، حال دا چې حبيب الله غل او داړه مار و، د دين او وطن ساتندويان او بې ګناه ملکي افغانان يې وژل. په هغو سربېره لکه چې غبار په حقه وايي :"شخص حبيب الله طبعاً از اداره يك کشور نی بلکه از اداره حسابی يك قريه هم عاجز بود."([۱۴۶]) حبيب الله يوازې د خپلو يو څو تنو داړه مارو ملګرو له خوا امير يا پاچا غوره شوی و، نه د ملت د استازو له خوا. دی د دغسې قدرت او اعتبار خاوند هم نه و چې په ناکرار ملك کې امنيت او نظم ټينګ کړای شي. ده تر اخره پورې مشروعيت خپل نه کړای شو، نو محمد صادق او ملګرو يې پاچايي ته د حبيب الله په هڅولو سره د امنيت له واقعي کولو سره مرسته ونه کړه. د هغه پرخلاف دوی د داخلي جنګ، افغان وژنې، ملك ورانونې ددغسې نوې دورې لپاره لار خلاصه کړه، چې نهه مياشتې اوږده شوه.

دا ټول په اصل کې له دې امله چې دغه حضرتان او ملګري يې د شخص امان الله او بدلون غوښتونکو په تېره د

افغــان ځوانــانو مخــالف وو. دوی پــه دې ډول پــه وطــن کــې د بــدلون غوښتونکــو او ســاتنپالو تــرمنځ د جګــړې یــوه نــوې دوره پیـل کـړه او د هغـو ملایـانو خـوا ونیولـه، چـې پـه هـر هغـه چـا بانـدې یـې د کفـر ټاپـه لګولـه، چـې د اسلام پـه اړه یـې نظـر د دوی لـه نظـر سـره مخـالف وو. د پاچـا امـان الله سـمونونو چـې پـارونې وکـړې لـه دې املـه نـه و، چـې هغـه د اسـلام مخـالف و، هغــه د هغــو د فکــر مخــالف و چــې د اجتمــاعي دودونــو او اسلامي شرع تـرمنځ یـې تـوپیر نـه شـو کـولی، نـو مخالفـانو پـه تېـره مـذهبي مخالفـانو پـه ډېـر پـراخ ډول ډنـډورې ګـډولې او تبلیغونــه کــول، چــې ســمونونه د اســلام مخــالف دي او امــان الله "کافر" شوی دی.

کـه اجتمـاعي، سیاسـي، اقتصـادي او پـه ټـولیز ډول ژونـد چـارې لـه دې املـه، چـې هغـه د بـدلون پـه حـال کـې وي او دینـي عقیـده، چـې هغســې نـه ده، سـره پـه څرګنـد ډول بـیلې وای، دغســې ژونـد چـارو تـه بـه بـس د ژونـد عـادي موضـوع ګـانو پـه توګـه کتـل کېـدلای پـه دغـه حـال کـې بـه د سـمون مخالفـانو نـه شـوای کـولی چـې ادعـا وکـړي، هغــه د دیــن مخــالفې دي. د هغــه پــرعکس هغــوی بــه کــوښښ کــاوه، چــې یــه ســمونونو کــې ســمون وکــړي او هغــه ترېنــه غــوره کــړي. چــې د ټولــو لپــاره د منلــو وړ او د خلکــو لپــاره ګټــور وي. خــو امــان الله ضــد ملایــانو پــه عمــل کــې وښودلــه، چــې هغــوی چــې د تېــنګې عقیــدې خاونــدان وو، یــوازې خپــل فکــر غوښتــه او د جــوړې،

زغـم او سـم کولـو پـه فکـر کـې نـه وو ، خـو دوی ژونـد چـارو تـه د پښتو په سترګه کتل، نه د موجود واقعيت په سترګه.

کـه ژونـد چـارو تـه د دينـي عقيـدې لـه چوکـاټ نـه دبانـدې کتـل کېـدلای، هغـه بـه د ژونـد عـادي چـارو پـه توګـه ګڼـل کېـدلای او د فکـري زغـم او جـر او بحـث پـه رڼـا کـې بـه هغـه غـوره کېـدل، چـې د ټولـو يـا اکثـرو لپـاره د منلـو وړ او د ژونـد لپـاره ګټـور وای. پـه دغـه حـال کـې بـه حتـی مخالفـانو هـم هغسـې شـدت نـه ښـوده، لکـه چـې د پاچـا امـان الله د سـمونونو پر مخالفت يې وښوده

پـه دغسـې شـديد مخالفـت سـره و، چـې د پاچـا امـان الله ټول سـمونونه لـه يـوه سـره رد او پـه ټپـه ودرول شـول. پـه دغـه رد سـره د پاچـا امـان الله څرګنـدو او پټـو مخالفـانو د شـلمې پېـړۍ افغانسـتان پـه منځنيـو پېړيـو کـې ننوېسـت او هغسـې پاچـا يـې هـم لـه وطـن نـه وتلـو تـه اړ کـړ، چـې افغانـانو تـه يـې د پـوره خپلـواکي تلپـاتې وياړ ګټلـی و او ددغـه فکـر لـه مخـې يـې حکومت کاوه، چې :

"از خدمت بوطن بالاتر، عشقی ندارم."

پای

# یادښتونه او لمن لیکونه:

١. عبدالحی حبیبي، جنبش مشروطیت در افغانستان، سازمان مهاجرین مسلمان افغانستان، ١٩٩٩/١٣٧٧، دغه اثر هغومره چې د شخصونو بیوګرافي دی، د مشروطه غوښتنې شرح نه دی، خو دغه او د غبار اثر، افغانستان در مسیر تاریخ په فارسي کې هغه اثر ونه دي، چې د مشروطیت په هکله تر هر بل اثر نه ډېر او د اعتبار وړ معلومات ورکوي.

٢. منشي علي احمد، د امان الله نسکوریدنه، د برتانیې د حکومت خپرونه، لندن، ١٩٢٩، ٣. لیکونکی د غزنې مومند، او د امان الله د دربار منشي او د معلوماتو خاوند و. دده د امان الله د د دورې په فارسي کې دغه لیکنه د سکاټ په نامه یوه انګرېز په انګرېزي اړولې او اوس په لندن کې په برتانوي کتابتون کې خوندي ده. په دغې لیکنې کې د امان الله د واکمنۍ په اړه دغسې، دقیق معلومات شته. چې په نورو اثرونو کې نه مونډل کېږي. زه دلته له ښاغلي ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي نه مننه کوم، چې ددغه نادر اثر یوه نسخه یې له لندن نه رااستولې ده.

٣. میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، موسسه چاپ کتب، ١٩٦٧/١٣٤٦، کابل، ٧٥٣.

۴. لـودویک ادمـک، د شـلمې پېړۍ تـر نیمـایې پـورې د افغانســتان بانــدني اړیکــي، د اریزونــا پوهنتــون، ۱۹۷۴، ۴۷. دغـه اثـر د برتـانیې، برتـانوي ضـد حکومـت او د جرمنـي پـه نـاخپرو شـویو داسـې پـاڼو، راپورونـو او خپرونـو لـه مخـې لیکـل شـوي او پـه خـاص ډول د امـان الله د واکمنــۍ پـه اړه ډېـر او دقیــق معلومــات ورکوي.

۵. ادمک، ۷۷.

۶. وارتــــن ګریګــــوریین، د معاصــــر افغانســــتان هسکېدنه، د ستېفورډ پوهنتون، ۱۹۶۸، ۲۲۹.

۷. عبــدالعلي ارغنــداوی، د برتــانیې امپیریلــزم او د خپلواکــۍ لپــاره د افغانســتان مبــارزه ۱۹۱۴_۱۹۲۱، مونشــي رام مــانوهرلال خپرونــه، ۱۹۸۹، نــوې ډهلــي، ۱۷۴_۱۸۱. دغــه اثر هـم د برتـانوي هنـد حکومـت پـه ارشـیفي پـاڼو بنـا او مهـم کتـاب دی.

۸. ارغنداوی، ۱۹۷

۹. ارغنداوی، ۱۹۱

۱۰. عزیز الـدین وکیلـي فـوفلزایی، نګـاهی بتـاریخ اسـترداد استقلال افغانستان، کابل، ۱۹۸۹/۱۳۶۸، ۷۹.

۱۱. ادمک، ۴۹

۱۲. ادمک، ۹۲

۱۳. ادمک، ۶۲_۶۶

۱۴. منشي علي احمد، ۱۴، ۹

۱۵. ادمک، ۶۶

۱۶. ادمک، ۶۷

۱۷. ادمک، ۶۱

۱۸. ادمك، ۶۹
۱۹. ادمك، ۶۸
۲۰. ادمك، ۶۹
۲۱. ادمك، ۷۰
۲۲. ادمك، ۱۶۹
۲۳. پیتهر هاپکرك، ختیځ ته اور اچول، په اسیا کې د لېنن د امپراتورۍ خوب، کوډن شابین الملل، لندن، ۱۹۸۴، ۱۸۱_۸۳
۲۴. هاپکرك، ۱۶۰. ادمك، ۷۰
۲۵. منشي علي احمد، ۶
۲۶. ادمك، ۷۰
۲۷. منشي علي احمد، ۷. ادمکو ۷۱
۲۸. ادمك، ۷۱. علي احمد، ۷
۲۹. غبار، ۷۶۱
۳۰. ادمك، ۸۱
۳۱. فوفلزایی، ۱۱۹
۳۲. ادمك، ۱۳۳. غبار، ۸۱۳
۳۳. محمد علم فیض زاد، جرگه های بزرگ ملی افغانستان و جرگه های نام نهاد تحت تسلط کمونست ها و روس ها، اسلام آباد، ۱۹۸۹/۱۳۶۸، ۵۳. ادمك، ۸۱
۳۴. محمد حسن کاکړ، د افغانستان حکومت او تولنه، د امیر عبدالرحمن خان واکمني، د تکساس پوهنتو، ۱۹۷۹، ۳۵
۳۵. غبار، ۷۹۰
۳۶. غبار، ۷۹۵

۳۷. محمد حسن کاکړ، (۱۹۷۹)، ۷۳ _ ۹۱
۳۸. غبار، ۷۹۱
۳۹. کاکړ، (۱۹۷۹)، ۱۵۳ _ ۱۵۵
۴۰. محمد حسن کاکړ، د دننیو سیاسي انکشافونو مطالعه، ۸۸ _۱۸۹۶، د پنجاب پوهنې مطبعه، ۱۳۷، ۱۹۷۱.
۴۱. کاکړ، (۱۹۷۹)، ۲۴
۴۲. فیض زاد، ۶۶_۶۸
۴۳. غبار، ۷۹۴
۴۴. امان الله خان غازي، حاکمیت قانون در افغانستان، مقدمه، تصحیح و تعلیقات از حبیب الله رفیع، امان کتاب خپرولو موسسه، ۱۹۹۹/۱۳۷۸، ۱۸۷.
۴۵. حاکمیت قانون، ۱۸۹
۴۶. حاکمیت قانون، ۱۸۸
۴۷. حاکمیت قانون، ۱۴۶
۴۸. غبار، ۷۹۲
۴۹. ادمك، ۸۶
۵۰. غبار، ۸۰۲
۵۱. علي احمد، ۹
۵۲. غبار، ۸۱۴
۵۳. غبار، ۷۹۷
۵۴. علي احمد، ۹
۵۵. علي احمد، ۱۰
۵۶. غبار ۸۰۴
۵۷. ادمك، ۸۸_۹۰. غبار، ۸۱۰_۸۰۶

۵۸. غبار، ۸۰۷
۵۹. غبار، ۸۰۶
۶۰. فضل غني مجددي، افغانستان در عهد اعلیحضرت امان الله خان، ۱۹۱۹_۱۹۲۹، چاپ شخصی، فریمانت، کلیفورنیا، ۱۹۹۷، ۲۴۰
۶۱. غبار، ۷۹۸
۶۲. جان رینارډ، د اسان مذهبی خواب کتاب، وزیبل انك پرس، کانتیون ، مشیګن، ۲۰۰۲، ۲۱.
۶۳. غبار، ۷۹۸، ۸۱۱
۶۴. حاکمیت قانون، ۱
۶۵. رولینډ وایلډ، امان الله د افغانستان پخوانی پاچا، لومړی چاپ، ۱۹۳۲، دوهم چاپ، کوېټه، نیساتړېډرز، ۱۹۷۸، ۵۲. وایلډ په کابل کې د ډیلي میل خاص خبریال و.
۶۶. حاکمیت قانون، ۲۰۸
۶۷. حاکمیت قانون، ۲۰۹
۶۸. حاکمیت قانون، ۲۱۰
۶۹. حاکمیت قانون، ۸۵
۷۰. حاکمیت قانون، ۲۲۲
۷۱. حاکمیت قانون، ۱۸۶
۷۲. حاکمیت قانون، ۲۲۴
۷۳. حاکمیت قانون، ۲۲۴
۷۴. حاکیت قانون، ۱۵۰
۷۵. حاکمیت قانون، ۸۴
۷۶. حاکمیت قانون، ۱۶۱
۷۷. حاکمیت قانون، ۲۲۶

۷۸. علي احمد، ۱۲

۷۹. ادمك، ۱۲۳

۸۰. ادمك، ۱۳۰

۸۱. ادمك، ۱۳۱

۸۲. ادمك، ۱۳۲

۸۳. علي احمد، ۱۷

۸۴. علي احمد، ۱۸

۸۵. علي احمد، ۱۸

۸۶. ادمك، ۱۳۳

۸۷. غبار، ۸۱۳

۸۸. ادمك، ۱۳۳_۱۳۵

۸۹. غبار، ۸۱۳

۹۰. ادمك، ۱۳۵_۱۳۷

۹۱. علي احمد، ۲۵

۹۲. غبار، ۸۱۳

۹۳. علي احمد، ۲۵

۹۴. غبار، ۸۱۸

۹۵. علي احمد، ۲۶

۹۶. فيض محمد كاتب، كابل تر محاصرې لاندې، د ۱۹۲۹ پاخون په اړه د فيض محمد ليكنه، د فيض محمد دغه ناتمام شوي يادښتونه په كابل ارشيف كې خوندي دي، چې هغه كوم روسي په روسي اړولي او ډاكټر رابرټ مك چزني انګرېزي كړي او له خپلو تبصرو سره له سره تنظيم كړي او لنډ كړي دي. ماركس واينر، پرنستن، ۱۹۹۹، ۵۲.

۹۷. د كابل له نسكورېدلو نه وروسته والي علي

احمد د مشرقي قومي مشرانو له خوا د امیر په توګه وپېژندل شو. دی له دوه زره پوځ او د شنوارو او خوګیانیو له ملېشیاو سره جګدلک ته لاړ او هلته د مومندو راتګ ته په انتظار شو، چې د ورتګ وعده یې کړې وه. په دې مقصد چې د سقاو زوی او ملګري یې له کابل نه وایستل شي. ددغه مقصد دپاره والي علي احمد د جنوری له ۲۳ نه تر ۲۹ پورې د پرو قومونو ته فرمانونه واستول، چې تابعیت یې ومني او ورسره یوځای شي. د کابل خلك چې په دغه وخت کې د کوهدامنیو او کوهستانیو له چور او چپاول نه په تنګ شوي وو، د هغه ورتګ ته سترګې په لار وو، خو هلته د خوګیانیو ملك قیس د والي علي احمد په مخالفت د سقاو زوی خوا ونیوله او په نورو قومونو کې هم درز پېښ شو او پوځیانو یې چې د ملا عمر سمڅو ته رسېدلي وو، د هغه کامپ پرېښود او حبیب الله ته د متابعت کولو په نیت د کابل په لور وخوځېدل. دا تول په اصل کې له دې امله چې ویل کېده چې والي علي احمد شرابي دی. شنواري لا هم په هغه ولاړ وو یا دغسې ښکارېدل، خو په هغو باندې ده اعتبار له لاسه ورکړی و. دی پېښور ته او بیا له هغه ځایه کندهار ته لاړ. فیض محمد، ۵۱_۵۵

۹۸. ادمك، ۱۴۳

۹۹. فیض محمد، ۳۳

۱۰۰. علي احمد ۱۴۰. غبار بې له دې چې د محمد ولي نوم واخلي په دې هکله وايي چې "... از مدتی قبل در ولایت کاپیسا مرد مشهور و ماجرا جوی بنام حبیب الله بچه سقاو زیر نظر دقیق مخالفین دولت گرفته شده بود." غبار. ۸۱۵

۱۰۱. غبار، ۸۱۵
۱۰۲. هندیه، له دعوت سره یاده شوې مرکه، ۵
۱۰۳. فیض محمد، ۳۴
۱۰۴. علي احمد ۲۹
۱۰۵. فیض محمد، ۳۵
۱۰۶. فیض محمد، ۳۶
۱۰۷. فیض محمد، ۳۷
۱۰۸. غبار، ۸۲۲
۱۰۹. فیض محمد، ۳۸
۱۱۰. غبار، ۸۲۳
۱۱۱. فیض محمد، ۳۹
۱۱۲. فیض محمد، ۴۱
۱۱۳. فیض محمد، ۴۲
۱۱۴. فیض محمد، ۴۵
۱۱۵. علي احمد، ۵۸
۱۱۶. علي احمد، ۶۰
۱۱۷. علي احمد، ۱۰
۱۱۸. غبار، ۸۲۴
۱۱۹. فیض محمد، ۳۸
۱۲۰. غبار، ۸۱۴
۱۲۱. غبار، ۸۲۵
۱۲۲. غبار، ۸۲۴
۱۲۳. محمد هاشم کمالي، قانون په افغانستان کې، د اساسي قانونو، و دو قانون، او قضائیه، د برل خپرونه، لیدن، ۱۹۸۵. ۲۰۳

۱۲۴. حاکمیت قانون، ۸۰

۱۲۵. شاهدخت هندیه بادعوت در گفتگو، دعوت، تلـه او لـرم، ۱۳۸۳، نـاروې ۵. هندیه د پخواني پاچا امان الله لور ده.

۱۲۶. حاکمیت قانون، ۲۱۱

۱۲۷. حاکیت قانون، ۲۱۱

۱۲۸. حاکمیت قانون، ۲۱۰

۱۲۹. حاکمیت قانون، ۲۴۳

۱۳۰. غبار، ۸۱۲

۱۳۱. علي احمد، ۲۳

۱۳۲. علي احمد، ۲۱

۱۳۳. غبار، ۷۸۹

۱۳۴. ادمك، ۱۳۸

۱۳۵. ادمك، ۱۴۲

۱۳۶. فوفلزایي، ۷۱

۱۳۷. غبار، ۸۱۷

۱۳۸. ادمك، ۱۳۹

۱۳۹. فضل غني مجددي، ۲۵۱

۱۴۰. علي احمد، ۲۳

۱۴۱. غبار، ۸۱۷

۱۴۲. غبار، ۸۱۷

۱۴۳. غبار، ۸۱۸. مجددي، ۲۵۱

۱۴۴. مجددي، ۲۵۵

۱۴۵. علي احمد، ۲۳

۱۴۶. غبار، ۸۲۶



پاچا امان الله په پغمان کې د ۱۹۲۸ کال د لویې جرګې د استازو او
خپل مشر ورور سردار عنایت الله سره



غلام صديق خان څرخي



پاچا امان الله په نظامي یونیفورم کې



پاچا امان الله د پاچايۍ په جامه کې



انور پاشا (۱۹۸۲_۱۹۲۲) د ځوانو ترکانو مخکښ مشر



محمد ولي د پاچا امان الله نایب



په اماني دوره کې د افغانستان وروستی ملي بیرغ

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ څه باندې اویا کاله مخکې د لغمان د پلوټې په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په لغمان او کندهار او ثانوي زده کړې یې د کابل په دارالمعلمین او غازي لیسه کې پای ته رسولې دي.
د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي له تاریخ څانګې یې لیسانس اخیستی. ماستري او دکتورا یې په انګلستان کې اخیستې دي. ډېره موده د کابل پوهنتون د تاریخ استاد و او په ۱۹۸۱ ع کال کې یې د "پوهاند" لوړه علمي رتبه ترلاسه کړه.
د شوروي له یرغل سره د مخالفت له امله یې پینځه کاله په پلچرخي زندان کې تېر کړل او له ازادېدو وروسته لومړی پېښور او بیا امریکا ته پر دېس شو.
په انګرېزي، دري او پښتو یې ګڼ شمېر مهم اثار کښلي دي لکه:
ـ د امیر عبدالرحمن خان په واکمنۍ کې د افغانستان حکومت او ټولنه
ـافغانستان ـ د شوروي یرغل او د افغانانو ځواب
ـد افغانستان سیاسي او ډپلوماتیك تاریخ ۱۹۶۳ـ۱۹۰۱ع چاپ ته تیار
ـطالبان او اسلامي بنسټ پالنه
او ګڼ شمېر نور تاریخي آثار.



# The Reign of King Amanullah Reconsidered

*M.Hassan Kakar*

Formerly Professor of History at Kabul University

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـــ جرمني

VEREIN ZUR FORDERUNG DER AFGHANISCHEN KULTUR E.V

د خپرونو لړ (۷۱)